د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

د ۱۴۰۴ کال

# فعالیتونه

او

# لاسته راوړنې



د ۱۴۰۴ کال فعالیتونه او لاسته راوړنې | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت




پته: مرمرینه مانۍ، ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان
ټلیفون: ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰
برېښنالیک: media@dpmea.gov.af
وېبپاڼه: www.dpmea gov.af

دافغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

د ۱۴۰۴ کال

# فعاليتونه

او

# لاسته راوړنې

بسم الله الرحمن الرحیم


**ناشر:**

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت - مطبوعاتو ریاست

**ډیزاینر:**

عطاءالرحمن سعید



**پته:** مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان

**ټلیفون:** 0202107500

**برېښنالیک:** media@dpmea.gov.af

**وېبپاڼه:** www.dpmea.gov.af

# لړلیک

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پېژندنه ..................... أ
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغام ..................... ج
سریزه ..................... ۱
د ۱۴۰۳ کال فعالیتونو ته لنډه کتنه ..................... ۳
د ۱۴۰۴ کال راپور لنډیز ..................... ۵
اقتصادي کمېسیون کې د افغانستان پراختیایي تګلارې تائیدي ..................... ۷
د افغانستان د پراختیایي تګلارې د تطبیقي چارو پیل ..................... ۱۲
د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ تائیدي ..................... ۱۳

**لومړی څپرکی**

د کانونو سکټور ..................... ۱۷
اقتصادي کمېسیون کې د کانونو سکټور د عوایدو پالیسۍ مسودې تائید ..................... ۱۷
د پالیسۍ موخې ..................... ۱۸
د کانونو سکټور د عوایدو نظارت او کنټرول ..................... ۱۸
د پالیسۍ تطبیق ..................... ۱۸
د پالیسۍ څارنه، ارزونه او تعدیل ..................... ۱۹
اقتصادي کمېسیون کې د زر مینځونکو شرکتونو د مالیې او کرومایټ ډبرو د استخراج په اړه ..... ۱۹
د منرالونو د ملي پالیسۍ مسودې تائید ..................... ۲۰
د پالیسۍ اړتیا ..................... ۲۰
د پالیسۍ موخې ..................... ۲۱
د پالیسۍ تطبیق او څارنه ..................... ۲۲
د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې عملي چارو پیل ..................... ۲۲

افغانستان ته يې ګټې ........................................................................................................ ۲۳
اقتصادي کمېسيون کې د معدني موادو د پروسس او صادراتو پاليسۍ تائيد ........................ ۲۴
د پاليسۍ لنډيز ........................................................................................................... ۲۴

**دويم څپرکی**

## د انرژۍ سکټور ........................................................................................ ۲۷
د ۲۰،۷ ميلیارده افغانيو په پانګونې د برېښنا د توليد او انتقال د پروژو د قراردادونو لاسليک........ ۲۷
په اقتصادي کمېسيون کې د برېښنا د يوشمېر پروژو تائيدي ........................................... ۳۰
کندهار، زابل، هلمند او ارزګان کې د برېښنا د څلورو لويو پراختيايي پروژو د پاتې چارو پيل ..... ۳۱
کندهار ته د کجکي بند د برېښنا لېږد........................................................................ ۳۲
په تدريجي ډول د وارداتي برېښنا کموالی ................................................................. ۳۳
د پاکې انرژۍ په توليد کې له نړيوالو ادارو د همکارۍ غوښتنه ......................................... ۳۴
لغمان کې د لس ميګاواټه برېښنا پروژې د چارو پيل ..................................................... ۳۵
له بهرنۍ اړتيا د هېواد خلاصول.................................................................................. ۳۶
په هرات کې د ٦٨ ميليون ډالرو په پانګونې د برېښنا د دوه لويو پروژو پرانيسته ....................... ۳۷
په وارداتي برېښنا د اتکاء کمول................................................................................... ۳۸
لوګر کې د څلويښت ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې چارو پيل.............................. ۳۹
د هېواد د وروسته پاتې والي لامل د کافي برېښنا نشتوالی.............................................. ۴۰
په نړيوالو معيارونو د برېښنا توليد ........................................................................... ۴۱
د لس ميلیارده ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد تفاهم‌ليک لاسيکېدل..... ۴۳
د لس زره مېګاواټه برېښنا پروژې ګټې........................................................................... ۴۴
کابل کې د پانګونې جذب او د افغانستان برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس ............................. ۴۵
د کنفرانس موخې .................................................................................................. ۴۷
د ۹۴۰۷ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد تفاهم ليکونو او قراردادونو لاسليک....................... ۴۸
له ازبيکستان سره د ۲۴۳ ميليون ډالرو په پانګونې د برېښنا د څلورو پروژو د قراردادونو لاسليک .۴۸
د پنجشير پارنده برېښنا توليدي فابريکې ګټې اخيستنې ته سپارل ......................................... ۴۹
د جوزجان ولايت قوش‌تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسونې پروژې ترون لاسليکېدل ..... ۵۱
هرات کې د برېښنا د يو شمېر لويو پروژو د چارو پيل او د ځينو ګټې اخيستنې ته سپارل........... ۵۲
د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ ترمنځ د برېښنا د توليد د پنځو پروژو لاسليکېدل ...... ۵۴

## دریم څپرکی


د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سکټور ........................................ ۵۷
اقتصادي کمېسیون کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د مهمو اقتصادي طرحو او ........ ۵۷
څلورو ولایتونو کې د شېدو کرنیزو، نمایشي او ترویجي کمپلکسونو د طرحې تائیدي ............ ۵۸
د طرحې پایلې او متوقع اغېزې ........................................ ۵۸
اقتصادي اغېزې ........................................ ۵۹
ټولنیزې اغېزې ........................................ ۶۰
د چرګانو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ تائید ........................................ ۶۰
د پالیسۍ اړتیا ........................................ ۶۱
د پالیسۍ موخې ........................................ ۶۱
د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ تائید ........................................ ۶۱
د پالیسۍ موخې او تفصیل ........................................ ۶۲
په نباتي خوراکي غوړیو کې د ځان بسیاینې طرحې تائید ........................................ ۶۳
هرات کې د پاشدان بند ګټې اخیستنې ته سپارل ........................................ ۶۴
د نورو بندونو جوړول ........................................ ۶۷
اقتصادي کمېسیون له لوري غزني کې د سړې خونې جوړولو طرحې او ........................................ ۶۸
د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسي او د کبانو روزنې سکټور د پراختیا طرحې تائید ۶۹
د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسۍ اساس ........................................ ۶۹
د کبانو روزنې سکټور د پراختیا طرحه ........................................ ۷۱
د طرحې موخې ........................................ ۷۱
د افغانستان د کبانو د اوسني وضعیت تحلیل ........................................ ۷۱
د کبانو روزنې له پاره فرصتونه ........................................ ۷۲
اقتصادي اغېزې ........................................ ۷۲


## څلورم څپرکی


د سوداګرۍ سکټور ........................................ ۷۳
د معیار او کیفیت عالي شورا په مختلفو برخو کې ۳۰ معیارونه تصویب کړل ........................................ ۷۳
د معیارونو ګټې ........................................ ۷۵
کازان کې د افغانستان – روسیې سوداګریز فورم پرانیستل ........................................ ۷۶
د افغانستان او روسیې ترمنځ د پنځو تفاهمنامو لاسلیک ........................................ ۷۹

افغانستان ته د کازان غونډې اقتصادي ګټې ........................................ ۷۹
د صنعت اوونۍ ځلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل ............................ ۸۰
د ملتونو د پرمختګ اساس ............................................................ ۸۱
د هېواد د اقتصاد جوړولو اساسي ځواک .............................................. ۸۲
له کورنیو تولیداتو د اسلامي امارت ملاتړ ............................................ ۸۲
د معیار او کیفیت عالي شورا کې د نفتي توکو په برخه کې د ۵۷ معیارونو او ............ ۸۴
د معیارونو برخه کې د منظمو پالیسیو جوړول ........................................ ۸۴
اقتصادي کمېسیون کې د داخلي معیارونو اړوند د ۱۲ مسودو او ۱۱ ازمایښت طریقو تائیدي ...... ۸۵
تخار او کندوز کې د سپین زر سوداګریزو مارکیټونو جوړېدو د چارو پیل ........................ ۸۶
اقتصادي کمېسیون له لوري په مختلفو ولایتونو کې د سوداګریزو مارکیټونو طرحو تائیدي ........ ۸۷
د آریانا افغان هوایي شرکت د هوایي کارګو د انتقالاتو په اړه پرېکړه ............................ ۸۸
د مالیې وزارت او D.P. World شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼې لاسلیکېدل ...................... ۸۹
بلخ کې د سوداګریز مارکیټ جوړولو چارو پیل ............................................ ۹۰

## پنځم څپرکی

د صنعت سکټور ............................................................. ۹۱
په صنعتي ساحو کې صنعت کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ پیل ...................... ۹۱
صنعت کارانو ته د ځمکې د ورکړې په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حکم .......... ۹۲
د فولادو صنعت کې پر ځان بسیا کېدنه .................................................. ۹۳
کابل کې د تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیسته ............................................ ۹۳
د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودلو سره د ممیزو د پروسس فابریکې پرانېستل .................. ۹۵
د ممیزو د پروسس فابریکې ګټې ........................................................ ۹۷
د غوري سیمنټو فابریکې د درېیم فاز د جوړېدو چارو پیل ........................................ ۹۸
د غوري سیمنټو فابریکې درېیم فاز ګټې .................................................. ۹۹
د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز پرانیسته ...................................... ۱۰۱
هرات کې د پامیر المونیمي قطیو تولیدي فابریکې د جوړولو چارو پیل ............................ ۱۰۳
اقتصادي کمېسیون کې بهرنیو پانګوالو ته د اقامې د ورکړې موضوع تائیدي ........................ ۱۰۳

## شپږم څپرکی

د بېکارۍ کچې کمولو له پاره د اسلامي امارت هڅې .......................................... ۱۰۵

بهرنيو هېوادونو ته په قانوني توگه د افغان ماهرو او مسلکي کارگرانو د لېږلو پروسې پیل ..........۱۰۵
بهر ته د افغان کارگرانو د لېږد گټې ..........۱۰۶

**اووم څپرکی**

ترانسپورټ سکټور ..........۱۰۹
کابل ولایت ارغندی ترانسپورټي ترمینل د چارو پرانیسته ..........۱۰۹
د ترمینل گټې ..........۱۱۰
د کابل –بگرام سړک د جوړېدو چارو پیل ..........۱۱۲
افغانستان سره مثبت تعامل د وخت اړتیا ..........۱۱۳

**اتم څپرکی**

بانکي سکټور ..........۱۱۵
د سوداگریزو بانکونو له لوري د عام المنفعه پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیکېدل ..........۱۱۵

**نهم څپرکی**

خواړه او درمل ..........۱۱۷
د سنو فارما، ملي شفاء او T.G.L درمل جوړولو فابریکو ستاینغونده کې د اقتصادي مرستیال گډون۱۱۷
د روغتیا سکټور کې د پانگونې غوښتنه او له بې کیفیته وارداتو ډډه ..........۱۱۸

**لسم څپرکی**

زېربنا ..........۱۲۱
اقتصادي کمېسیون کې د بام هرات تفریحي کمپلکس د طرحې تائید ..........۱۲۱
د کابل ولایت مقام مخې ته د هوایي پُل د جوړېدو د چارو پیل ..........۱۲۳

**یوولسم څپرکی**

پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسیون کړنې ..........۱۲۷
د کونړ زلزله ځپلو سیمو ته د اقتصادي مرستیال سفر ..........۱۲۷
د سمنگان زلزله ځپلو سیمو ته د اقتصادي مرستیال سفر ..........۱۲۹

**دوولسم څپرکی**

سیمه ییز اتصال ..........۱۳۱

د ټاپي پروژې له کاري بهیر څخه د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د ملي رهبر لیدنه ........... ۱۳۱

**دیارلسم څپرکی**

د تدراکاتو کمېسیون او پانګونې بین الوزارتي کمېټې ناستې ..............................۱۳۳

**څوارلسم څپرکی**

له افغان سوداګرو او پانګوالو سره د اقتصادي مرستیال لیدنې...............................۱۳۵
د حاجي ګک اوسپنې کان په یو بلاک کې د یوشمېر پانګوالو د پانګونې لېوالتیا...................۱۳۵
د اقتصادي مرستیال او ملي سوداګر میرویس عزیزي ترمنځ لیدنه .......................................۱۳۶

**پنځلسم څپرکی**

له ګاونډیو او سیمې هېوادونو څخه راغلو پلاوو سره لیدنې ..............................۱۳۹
د اقتصادي مرستیال او د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه ................................۱۳۹
د سیمې هېوادونو سره همکارۍ ته د افغانستان اسلامي امارت ژمنتیا ....................................۱۴۱
د اقتصادي مرستیال او د افغانستان له پاره د عربي اماراتو د ځانګړي استازي ترمنځ لیدنه...........۱۴۲
په کابل کې د اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړول ............................................۱۴۳
د اقتصادي مرستیال او د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت د رئیس ترمنځ لیدنه ...............۱۴۳
د اقتصادي مرستیال او د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ترمنځ لیدنه.......۱۴۴
د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامې .......۱۴۵
د هرات – تورغونډۍ ۵۰۰ میلیون ډالري پروژې ارزښت..........................................................۱۴۵
د اقتصادي مرستیال او د تاتارستان د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه ................................۱۴۶
تاتارستان ته د پانګونې بلنه ..............................................................................۱۴۷
د اقتصادي مرستیال او د ازبیکستان د انرژۍ د وزیر ترمنځ لیدنه ........................................۱۴۸
د اقتصادي مرستیال او د بندیانو چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي ترمنځ لیدنه ................۱۴۹
د تقابل پر ځای د تعامل غوښتنه .........................................................................۱۵۱
د اقتصادي مرستیال او د ایران د صنعت، سوداګرۍ او کانونو وزیر ترمنځ لیدنه........................۱۵۱
د اقتصادي مرستیال او یو شمېر روسي شرکتونو د مسؤولینو ترمنځ لیدنه ................................۱۵۲
د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د ملي رهبر ترمنځ لیدنه..........................................۱۵۲
د اقتصادي مرستیال او Delta International کمپنۍ د اجرایيوي رئیس ترمنځ لیدنه...............۱۵۳
د اقتصادي مرستیال او د ایران د روغتیا وزارت د مرستیال ترمنځ لیدنه ...........................۱۵۳

د اقتصادي مرستيال او د ايران د ريل پټلۍ د رئيس ترمنځ ليدنه ........................................ ۱۵۴
د اقتصادي مرستيال او د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير ترمنځ ليدنه ....... ۱۵۵
ټاپي پروژه کې د Delta International کمپنۍ لېوالتيا ................................................ ۱۵۵
تورغونډۍ - هرات ريل پټلۍ پروژه کې د ترکمنستان پانگونه ............................................ ۱۵۶
د اقتصادي مرستيال او عزيزي گروپ شرکتونو د عمومي رئيس ترمنځ ليدنه ............................ ۱۵۷

## شپاړسم څپرکی

### بهرني سفرونه ........................................................................ ۱۵۹
د کازان ۱٦م نړيوال اقتصادي فورم کې د اقتصادي مرستيال گډون ........................................ ۱۵۹
د اقتصادي مرستيال او د تاتارستان د ولسمشر ترمنځ ليدنه ............................................. ۱٦۰
کابل ته د تاتارستاني پلاوي استول .................................................................. ۱٦۱
د اقتصادي مرستيال او د روسيې د لومړي وزير د مرستيال ترمنځ ليدنه ................................. ۱٦۲
د روسي لوري ژمنې .................................................................................. ۱٦۳
د اقتصادي مرستيال او د موردوويا د ولسمشر ترمنځ ليدنه ............................................. ۱٦۴
د دوه اړخيزه اړيکو د پراختيا له پاره ښه فرصت ........................................................ ۱٦۵
د ايکو سازمان ۱۷مې سرمشريزه کې د اقتصادي مرستيال گډون ......................................... ۱٦٦
د اقتصادي مرستيال او د اذربايجان د لومړي وزير ترمنځ ليدنه ......................................... ۱٦۷
د اقتصادي مرستيال او د ازبيکستان د ولسمشر ترمنځ ليدنه ............................................ ۱٦۹
د اقتصادي مرستيال او د ترکمنستان د لومړي وزير د مرستيال ترمنځ ليدنه ............................ ۱۷۱
ايکو ۱۷مې سرمشريزې غونډه کې د اقتصادي مرستيال گډون ............................................ ۱۷۳
د اقتصادي مرستيال او د قزاقستان د لومړي وزير ترمنځ ليدنه ......................................... ۱۷۵
له باکو نړيوال بحري بندره د اقتصادي مرستيال ليدنه .................................................. ۱۷٦

## اوولسم څپرکی

### ځانگړې غونډې ........................................................................ ۱۷۹
د اقتصادي کمېسيون دويمه ځانگړې غونډه .............................................................. ۱۷۹
د اقتصادي کمېسيون ځانگړې غونډه کې د شويو پرېکړو د تعقيب په موخه د غونډې جوړېدل . ۱۸۱
د اقتصادي کمېسيون په ځانگړې ناسته کې د شويو پرېکړو د تعقيب دويمه غونډه ..................... ۱۸۳
د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره کړنلاره جوړېږي ................................................ ۱۸۴

# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پېژندنه



د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء محترم مقام د تشکيلاتو له مخې دوه معاونيتونه لري چې يو يې اقتصادي معاونيت دی. اقتصادي معاونيت د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام د ۱٦/٦/۱۴۴۳ نېټې د ۲۱مې ګڼې فرمان پر بنسټ رامنځته او پر فعاليت يې پيل وکړ.

د اقتصادي معاونيت مشري محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي، چې پر دغه معاونيت سربېره د اقتصادي کمېسيون، ملي تدارکاتو کمېسيون، پېښنو ته د رسېدو عالي امارتي کمېسيون او مالي ثبات کمېټې مسووليت هم پر غاړه لري. اقتصادي کمېسيون د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د ۱٦/٦/۱۴۰۳نېټې د ۲۲مې ګڼې فرمان او د کابينې ۳/۷/۱۴۴۳نېټې د ۲۳مې ګڼې مصوبې پر بنسټ رامنځته

شوی چې د مشرتابه مقام له لوري ورته لاندې وزارتونه او ادارې هم اړوندې شوې دي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د مالیې وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، د اقتصاد وزارت، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د ټولګټو وزارت، د کور او ښار جوړولو وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان بانک لوی ریاست، د مرکزي احصایې او معلوماتو عمومي اداره، د معیار او کیفیت اداره، او د امارتي شرکتونو عمومي ریاست.

د تدارکاتو کمېسیون بیا د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله د ۲۰۲ مې ګڼې فرمان پر اساس جوړ شو. د ملي تدارکاتو کمېسیون د کاري لایحې له مخې هېڅ وزارت او یا هم اداره نه شي کولی چې له ټاکل شوې اندازې په زیات ارزښت په خپله خوښه پروژې تطبیق او یا یې هم د تطبیق په موخه داوطلبۍ ته وړاندې کړي. دوی مکلف دي چې له ټاکل شوې بودیجې لویې پروژې د منظورۍ په موخه د تدارکاتو کمېسیون ته راوړي او له دې مرجع لازمه لارښوونه ترلاسه کړي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغام

**ګرانو هېوادوالو!**

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې له لسیزو بهرني اشغال او بې ثباتۍ وروسته سیاسي ثبات ټینګ کړ، چې ورسره د هر اړخیزې اقتصادي ودې له پاره مناسبه زمینه رامنځته شوه. په دې موده کې د اقتصادي بنسټونو د پیاوړتیا، د کورنیو سرچینو د اغېزناکې استفادې، د پانګونې د جذب، د صنعت او بنسټیزو زیربناوو د پراختیا، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه مهم او بنسټیز ګامونه پورته شوي دي. په ۱۴۰۴ کال کې هم د اقتصاد په بېلابېلو سکټورونو کې د پام وړ پرمختګونه ترسره شول او د هېواد د ځان بسیاینې له پاره عملي اقدامات وشول. دغو پرمختګونو د بېکارۍ او فقر د کچې په راکمولو، د کاري فرصتونو په زیاتولو او د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو په پراختیا کې مهم رول ولوباوه. د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد د هر اړخیزې اقتصادي ودې او ښېرازۍ له پاره خپلې هڅې لا پیاوړې کړي او افغانستان تر ډېره پر خپلو کورنیو سرچینو متکي کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت به د ټولو امارتي ادارو او خصوصي سکټور په همکارۍ د هېوادوالو د اقتصادي ستونزو د حل او د دوامدار اقتصادي ثبات د تامین له پاره خپل فعالیتونه په پوره ژمنتیا دوامداره وساتي.

**محترم ملا عبدالغني برادر اخوند**

# سریزه

د نظامونو د بریا یو مهم اصل شفافیت، حساب ورکوول او له ولس سره د معلوماتو شریکول دي. کلنۍ راپورونه د همدې اصل د پلي کېدو عملي بېلګه ده، ځکه د حکومت د کړنو او لاسته راوړنو هراړخیز تصویر وړاندې کوي. (د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د ۱۴۰۴ کال فعالیتونه او لاسته راوړنې) کلنی راپور هم په همدې موخه چمتو شوی، څو د هېواد اقتصادي بهیر او عملي پرمختګونه په منظم او مستند ډول ولس او اړوندو بنسټونو ته وړاندې شي.

۱۴۰۴ کال د افغانستان د اقتصادي جوړښت د پیاوړتیا او د ځان بسیاینې په لور د مهمو ګامونو کال و. په دې موده کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون، د تدارکاتو کمېسیون، د پانګونې بین الوزارتي کمېټې او نورو امارتي ادارو په هېواد کې د پانګونې د زیاتېدو، له کورنیو سرچینو د اغېزناکې استفادې او کاري فرصتونو د ایجاد په موخه ډېرې هڅې وکړې.

په دې کال کې د انرژۍ، کرنې، کانونو، صنعت، ټرانسپورټ، بانکدارۍ او سیمه ییزو همکاریو په برخو کې لسګونه اساسي پرېکړې وشوې او مختلفې پروژې پیل یا بشپړې شوې. دغو ګامونو نه یوازې د اقتصادي ودې له پاره زمینه برابره کړه، بلکې د خصوصي سکټور د پیاوړتیا، د کارموندنې د فرصتونو د زیاتوالي او د سیمه ییز اتصال د پراختیا له پاره هم مهم ګامونه ګڼل کېږي.

د راپور په لیکلو کې له تشریحي او په ځینو ځایونو کې له تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی. د ځینو مطالبو په وروستۍ برخه کې د اړوند مطلب په اړه په

ټولنیزو رسنیو کې د هېوادوالو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو سروې د ګراف په شکل ځای پر ځای شوې ده. راپور په اوولس څپرکیو کې ترتیب شوی چې هر څپرکی یې یوه جلا موضوع (سکټور) رانغاړي. د لومړي څپرکي له پیل وړاندې د هېواد د اقتصادي ودې په موخه د دوه مهمو سندونو (د افغانستان پراختیایي تګلارې او اقتصادي پالیسۍ) په اړه لنډ لیکل شوي دي.

په دې کلني راپور کې هېوادوالو ته د تېر کال مهم فعالیتونه، لاسته راوړنې او تجربې وړاندې شوي، چې د راتلونکو کلونو له پاره د پلان او پالیسۍ جوړونې له پاره د یوې معتبرې سرچینې په توګه کارول کېدای شي. دا سند به د شفافیت د پیاوړتیا، د ولس د باور د زیاتوالي او د اقتصادي همکارۍ د پراختیا په برخه کې اغېزناک رول ولوبوي.

# د ۱۴۰۳ کال فعالیتونو ته لنډه کتنه

په ۱۴۰۳ کال کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېرې هڅې وکړې. په بېلابېلو سکټورونو کې د افغانستان د ځان بسیاینې په لور مهم ګامونه واخیستل شول.

د فاریاب د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج قرارداد لاسلیک شو. د کرنې او اوبو لګولو برخه کې د شاه او عروس او عمري بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. پکتیکا کې د پلتوني بند او یو شمېر نورو ولایتونو کې هم د لویو او مهمو بندونو چارې پیل شوې. دغه راز، د قوش تیپې ملي کانال او د لغمان شاهي کانال چارې په چټکۍ روانې دي. یادې پروژې د هېواد د اوبو مدیریت او کرنې پراختیا له پاره ډېرې مهمې دي.

د سوداګرۍ د پراختیا له پاره له ازبیکستان سره تفاهمنامې لاسلیک شوې او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز د پرانیستې په مراسمو کې ګډون وکړ. په هېواد کې د معیاري تولیداتو، صادراتو او وارداتو له پاره بېلابېل ستندرډونه منظور شول او د سوداګرۍ د پراختیا او بازار موندنې له پاره د امام ابوحنیفه رح درېیم نړیوال او د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو ۳۱م خزاني نندارتونونو په ګډون په کور دننه او بهر کې لسګونه لوی او کوچني سوداګریز نندارتونونه جوړ شول.

د صنعت په برخه کې پانګونه جذب شوه. د اوسپنې ویلي کولو بېلابېلو کارخونو خپل فعالیت پراخه کړ. د سیمنټو په برخه کې د جوزجان د یتیم تاق او لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې جوړېدو قرارداد لاسلیک شو. د درملو د جوړولو بېلابېلو

کارخونو فعالیت پیل کړ. د خصوصي سکټور د ملاتړ په پار صندوق پرانیستل شو او د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ملاتړ په موخه په امارتي ادارو کې د کورنیو تولیداتو او کرنیزو محصولاتو په کارولو ټینګار وشو. دغه راز، صنعت کارانو او پانګوالو ته د امتیازاتو او اسانتیاوو ورکړه اعلان شوه او افغانستان کې پانګونې ته بلنې تر عنوان لاندې کنفرانس جوړ شو او کابل کې د بخت کمپل جوړونې فابریکه پرانیستل شوه.

د ترانسپورټ سکټور د معیاري کولو او پراختیا په موخه د نویو سړکونو جوړول او بیارغول پیل شول. د کابل - غزني، کابل - جلال اباد دویم لین سړکونو او د هرات – غور سړک چارې پیل شوې. د دې تر څنګ د کابل د داخلي سړکونو پراختیا، د سالنګ او کابل – کندهار لویو لارو د پاتې برخو د بیارغونې چارې پیل شوې.

د سیمه ییز اتصال په برخه کې د ټاپي پروژې پیل یو ښه زیری و. دغه راز، د افغانستان او قزاقستان تر منځ د نوې پټلۍ غځولو په اړه هم په ۱۴۰۳ کال کې پرمختګونه وشول.

په ۱۴۰۳ کال کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له بهره راغلو بېلابېلو مېلمنو سره ولیدل او محترم ملا صاحب هم ځینو بهرنیو هېوادونه ته سفرونه درلودل. دغه راز، په ۱۴۰۳ کال کې د تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا ۷۴ میلیارد افغانیو په ارزښت ۲۵۲ پروژې منظور شوې.

# د ۱۴۰۴ کال راپور لنډیز

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د ۱۴۰۴ کال راپور د هېواد د اقتصادي وضعیت، پالیسۍ جوړونې او عملي لاسته راوړنو هر اړخیز تصویر وړاندې کوي. دغه راپور خپلو هېوادوالو ته د ښې حکومتولۍ او حساب ورکوونې د اصل پر بنسټ چمتو شوی، څو هېوادوال د اقتصادي معاونیت له فعالیتونو، پرېکړو او خدمتونو څخه په کره او مستند ډول خبر شي.

په ۱۴۰۴ کال کې اقتصادي معاونیت د هېواد د اقتصادي ودې، ثبات او ځان بسیاینې په موخه ګڼ شمېر ګامونه واخیستل. مهمې پالیسۍ او طرحې تائید شوې او په مختلفو سکټورونو کې عام المنفعه پروژې پیل او یا ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د کال یوه تر ټولو ستره لاسته راوړنه د اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون له لوري د افغانستان د پنځه کلنې پراختیایي تګلارې او اقتصادي پالیسۍ تائید و. یادو اسنادو د هېواد اقتصادي لیدلوری روښانه کړ. ملي لومړیتوبونه یې مشخص کړل او ټول امارتي وزارتونه او اداري یې د یو منظم، همغږي او واحد مسیر پر لور رهبري کړې. دغه راز، په ۱۴۰۴ کال کې په مختلفو سکټورونو کې لاندې مهمې کړنې ترسره او پرمختګونه وشول:

- **د کانونو سکټور:** د عوایدو پالیسۍ مسودې تائید، د منرالونو ملي پالیسۍ مسودې تائید، د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ تائید، د ځینو کانونو د قراردادونو او رویالیټۍ اړوند پرېکړې، د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو پیل د دې سکټور مهم پرمختګونه و، چې د

ملي عوایدو د زیاتوالي او قانونمند استخراج له پاره اساسي ګامونه بلل کېږي.

- **د انرژۍ سکټور:** د برېښنا د تولید او انتقال لسګونه پروژې پیل او یا بشپړې شوې. د زرګونه مېګاواټه برېښنا د تولید تفاهم لیکونه لاسلیک شول او پر وارداتي برېښنا د اتکا د کمښت په موخه عملي اقدامات ترسره شول.

- **د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سکټور:** د بندونو جوړول، د دې سکټور په ځینو برخو کې د ځان بسیاینې ځینې پالیسۍ، د کرنیزو کمپلکسونو طرحې او د سړو خونو جوړول د کرنې او مالدارۍ د پیاوړتیا او خوړو خوندیتوب په برخه کې مهم ګامونه وو.

- **د صنعت او سوداګرۍ سکټورونه:** په دې سکټورونو کې د معیاري کولو بهیر چټک شو، لسګونه معیارونه تصویب شول، د مختلفو سوداګریزو مارکیټونو چارې پیل شوې، صنعت کارانو ته د ځمکې د ملکیت سندونو وېش پیل شو، د فولادو او سیمنټو په څېر درنو صنایعو کې پانګونه وشوه او د پانګونې د جذب له پاره کنفرانسونه او نندارتونونه جوړ او تفاهم لیکونه لاسلیک شول.

- **د ټرانسپورټ او زیربناوو سکټور:** په دې سکټور کې د سړکونو، ترمینلونو او ښاري پراختیا په برخه کې ځینې پروژې، لکه د کابل ولایت ارغندۍ ترمینل، کابل-بګرام سړک او نورې پېل شوې.

- **سیمه ییز او نړیوال تعامل:** له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو د پراختیا له پاره ناستې وشوې، تفاهم لیکونه لاسلیک او ځینې مهم بهرني سفرونه ترسره شول، چې د پانګونې، انرژۍ، سیمه ییز اتصال او سوداګرۍ په برخو کې یې عملي پایلې لرلې.

سرببره پر دې، په دې راپور کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي او د تدارکاتو کمېسیونونو ناستې، له کورنیو او بهرنیو میلمنو سره یې لیدنې او د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ناستو خلاصه هم وړاندې شوې ده.

## اقتصادي کمېسیون کې د افغانستان پراختیایي تګلارې تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه.

غونډې ته د افغانستان پراختیایي تګلارې مسوده د بحث له پاره وړاندې شوه، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته او د اقتصادي کمېسیون له لوري د راغلو تعدیلاتو په پام کې نیولو سره تائید شوه.

د افغانستان پراختیایي تګلارې مسوده هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو له پاره د هېواد د بنسټیزو اساسي موخو د تعیین او ترلاسه کولو په پار د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ، د اقتصاد وزارت په سکرتریت او د اړوندو سکټوري وزارتونو په ګډه همکارۍ چمتو شوی دی. دغه تګلاره د یو باثباته، هوسا او له سیمې او نړۍ سره په ښو اړیکو سمبال افغانستان لیدلورې لري چې موخې یې (د اسلامي شرعي قانون ټینګښت، روښتیا او حساب ورکوونې اصل تأمینول، د سیمې او نړۍ سره د اغېزناکو او نېکو اړیکو پراختیا، د پایښت لرونکې سولې او عمومي امنیت ټینګښت، کارموندنه او اقتصادي وده، د دیني او ملي ارزښتونو، ارضي تمامیت او اسلامي حاکمیت ساتنه، د طبیعي سرچینو د مدیریت لوړول، د بنسټیزو خدمتونو د عرضې ښه‌والی، د صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور وده، د زېربنا پراختیا او سیمه‌ییز اتصال، د ټولنیز خوندیتوب او

د ژوند چاپېريال ښه والی) ښودل شوې دي.

د افغانستان اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد د ۱۴۰۴ کال د وړي په ځلورمه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د يوې خبري ناستې پر مهال وويل: د افغانستان پراختيايي تګلاره د داخلي ظرفيتونو او منابعو څخه په استفادې، د هېواد د لويو او اساسي موخو ترلاسه کولو لپاره ترتيب او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم په اساس منظوره شوه. دغه تګلاره هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد د بنسټيزو موخو د ترلاسه کولو په پار چمتو او ټولې امارتي سرچينې په يو واحد مسير رهبري کوي.

مجاهد زياته کړه، ياده تګلاره د افغانستان اسلامي امارت د موخو د تحقق لپاره د ټولو وزارتونو او ادارو شته سرچينې او فعاليتونه منسجموي.

## اهميت او اړتيا

دا يو مهم او اوږد ليد لرونکی سند دی چې د پنځو کلونو لپاره د ملي موخو او لومړيتوبونو د تحقق په پار د ادارو د چارو د توحيد او انسجام له پاره زمينه برابروي او د لاندې موخو په ترلاسه کولو کې مؤثر ثابتېږي:

- د امنيت او ثبات ټينګښت؛
- ښه حکومتولي او د قانون د حاکميت ټينګښت؛
- متوازنه وده؛
- د پراختيايي چارو لاربښوونه او همغږي کول؛
- د پانګونې جلب او جذب لپاره اسانتياوې برابرول؛
- د بېوزلۍ او بېکارۍ کمول؛
- و د بهرنيو اړيکو ټينګښت او پراختيا.

**د جوړولو روش:**

د افغانستان پراختیایي تګلارې سند په درېيو اصولو ولاړ دی:

۱. د تېرو ستراتیژیو له تجربو څخه زده کړه؛
۲. د افغانستان د اوسنیو شرایطو په پام کې نیول؛
۳. او د علمي اصولو په نظر کې نیول.

**لیدلوری:**

یو باثباته، هوسا او له سیمې او نړۍ سره په ښو اړیکو سمبال افغانستان

**موخې:**

۱. د اسلامي شرعي قانون ټینګښت؛
۲. د مؤثریت، روڼتیا او حساب ورکوونې اصل تأمینول؛
۳. له سیمې او نړۍ سره د مؤثرو او نېکو اړیکو پراختیا؛
۴. د پایښت لرونکې سولې او عمومي امنیت ټینګښت؛
۵. کارموندنه او اقتصادي وده؛
٦. د اسلامي حاکمیت، دیني او ملي ارزښتونو او ارضي تمامیت ساتنه؛
۷. د طبیعي سرچینو د مدیریت مؤثریت لوړول؛
۸. د بنسټیزو خدمتونو د عرضې ښه‌والی؛
۹. د صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور وده؛
۱۰. د زېربنا پراختیا او سیمه‌ییز اتصال؛
۱۱. او د ټولنیز خوندیتوب او د ژوند چاپېریال ښه‌والی.

## جوړښت:

د تګلارې موخه دا ده چې د افغانستان ټولې پراختیایي هڅې په یو منظم او همغږي مسیر پر مخ یوړل شي. د دې تګلارې جوړښت په لاندې ډول دی:

۱. درې رکنونه لري؛
۲. نهه سکټورونه لري؛
۳. ۱۵ د لومړیتوب وړ ملي برنامې لري.

## رکنونه او سکټورونه:

لومړی رکن: ښه حکومتولي او نړیوالې اړیکې
د لومړي رکن اړوند سکټور: د حکومتولۍ او عامه خدمتونو سکټور
دویم رکن: امنیت او عامه نظم
د دویم رکن اړوند سکټور: د امنیت او عامه نظم سکټور
درېیم رکن: اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

## د درېیم رکن اړوند سکټورونه:

۱. د اقتصادي چارو او کرنې سکټور
۲. د طبیعي سرچینو او انرژۍ سکټور
۳. د استوګنې او ټولنیزې همغږۍ برابرولو سکټور
۴. د ترانسپورټ او مخابراتو سکټور
۵. د دیني چارو، پوهنې او کلتور سکټور
٦. د روغتیا سکټور
۷. د ټولنیز خوندیتوب او چاپېریال ساتنې سکټور

**ګډ مسایل:**

- د شرعي احکامو بنسټيز کول؛
- د ديني او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره د پایداره پراختیایي موخو مؤثر تطبیق؛
- او د مرستو جلب او د هغوی مؤثرتیا لوړول.

**د لومړيتوب وړ ملي برنامې:**

ښه حکومتولي او نړیوالې اړیکې:

- د اسلامي قانون واکمنې او د ټولنيز عدالت تأمين
- د عامه سکټور اصلاح، د شفافيت او حساب ورکونې تأمين
- د سیمه‌ییزو او نړیوالو اړیکو پیاوړتیا او پراختیا

امنیت او عامه نظم:

- د امنيت ټینګښت او د پولو ساتنه
- د قانون پلي کول، له جرایمو سره مبارزه او د حکومتولۍ پیاوړتیا

**اقتصادي او ټولنیزه پراختیا:**

- د طبيعي سرچینو مؤثره او پایداره کارونه او د انرژۍ تأمین
- د کرنې او مالدارۍ پراختیا
- د عامه مالي مدیریت ښه‌والی او د بریښنایي تادیاتو پراختیا
- د روغتیایي خدماتو ښه‌والی او د خوړو خوندیتوب
- د پوهنې، بشري سرچینو او فرهنګ پراختیا

- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا
- ښاري پراختیا او کلیوالي پرمختګ
- د پانګونې لپاره د مناسب چاپېریال پیاوړتیا، د صنعت او سوداګرۍ وده
- د ټرانسپورټ او ترانزیټي زېربناوو پراختیا
- د ټولنیز خوندیتوب پیاوړتیا او د سالم چاپېریال تأمین

### د تمې وړ پایلې:

د حکومتولۍ معیاري کول: د روڼتیا او حساب ورکونې اصل پیاوړي کول او پر نظام د خلکو او نړیوالې ټولنې باور ډېروالی.

د بنسټیزو خدمتونو معیاري کول: د ټولنیز عدالت تأمینول، ښوونې او روزنې، روغتیا او نورو بنسټیزو خدمتونو ته ښه لاسرسی.

د امنیت لا ښه‌والی: د امنیتي ځواکونو د وړتیاوو لوړوالی، د امنیتي او دفاعي زېربناوو پراختیا، د جرمونو مخنیوی او د خلکو ځاني او مالي خوندیتوب.

اقتصادي او ټولنیزه پیاوړتیا: د کانونو او طبیعي سرچینو دوامداره مدیریت، د بنسټیزو پروژو پلي کېدل، سیمه‌ییز اتصال، د خصوصي سکټور وده او کارموندنه.

متوازنه پراختیا: په ټول هېواد کې د منابعو عادلانه تخصیص او عامه خدمتونو ته متوازن لاسرسی.

### د افغانستان د پراختیايي تګلارې د تطبیقي چارو پیل

د افغانستان پراختیايي تګلاره، چې د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شوې، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په جوړه شوې غونډه کې، چې د کابینې محترمو

غړو هم په کې ګډون درلود، د ۱۴۰۴ کال د وړي په څلورمه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې یې د تطبیقي پړاو چارې پیل شوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو ته وویل، د افغانستان اسلامي امارت پراختیایي تګلاره شرعي احکامو، علمي معیارونو او د هېواد عیني شرایطو ته په پام له خپلو داخلي ظرفیتونو څخه په ګټې اخیستنې تدوین شوې ده، چې د هېواد د ملي پراختیا لپاره اساسي موخې او لومړیتوبونه په ګوته کوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د تېرو څلورو کلونو په ترڅ کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو وزارتونو او ادارو په خپل وار د نظام د بنسټ د پیاوړتیا او د هېواد د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا په برخه کې خپله ونډه ادا کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د هېواد محدودې سرچینې او ورځ تر بلې زیاتېدونکې اړتیاوې ایجابوي، چې ټول امارتي وزارتونه او اداري اړوند پالیسۍ، پروګرامونه او پروژې د دې سند په رڼا کې ترتیب او عملي کړي، څو د ملي منابعو په تخصیص او مصرف کې د لا زیاتې همغږۍ او لومړیتوب ورکولو لامل وګرځي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو امارتي وزارتونو او ادارو څخه وغوښتل چې د یادې تګلارې د تطبیق لپاره د برنامو جوړولو، د پروژو اولویت بندۍ، قیمت ټاکنه او مؤثره څارنه د ټولو وزارتونو او امارتي بنسټونو ګډ کار او مسوولیت دی، چې دوامدارې خپلمنځي همکارۍ ته اړتیا لري، چې پوره دقت او پاملرنه باید ورته وشي.

## د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه، چې د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسۍ

په اړه په کې بحث وشو، چې له هر اړخیزې ارزونې وروسته دغه پالیسي تائید شوه. د یادې پالیسۍ لیدلوری (پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان) او موخې یې (د پانګونې د جذب او پراختیا له پاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول، د کورنیو تولیداتو او صادراتو زیاتول، د اشتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمول، پایداره اقتصادي پراختیا او وده، د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او اسلامي ټولنیز عدالت ټینګښت) دي. اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره ګټې اخیستنې او د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري. یاده پالیسي د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري منظوره شوې.

## د پالیسۍ مبنیٰ

دغه پالیسي د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د هدایت پر بنسټ او د افغانستان پراختیایي تګلارې په رڼا کې تدوین شوې ده.

## موخې

۱- د پانګونې د جذب او پراختیا له پاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول؛

۲- د کورنیو تولیداتو او صادراتو زیاتول؛

۳- د اشتغال کچې لوړول او د بېوزلۍ کمول؛

۴- پایداره اقتصادي پراختیا او وده؛

۵- د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او ټولنیز عدالت ټینګښت.

## اهمیت او اړتیا

اقتصادي پالیسي د هېوادونو د اقتصادي فعالیتونو د مسیر ټاکونکې ده او د هېواد د اقتصادي ودې او دوامداره پراختیا په موخه یو له بنسټیزو ابزارو څخه ګڼل کېږي. اقتصادي پالیسي د پانګونې، د بېکارۍ د کچې ټیټولو او اقتصادي ثبات له پاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو او ټولنیزې نابرابرۍ کمولو په برخه کې مرسته کوي او د منابعو څخه غوره ګټه اخیستنه او د اقتصادي فعالیتونو مؤثریت لوړوي.

همدارنګه اقتصادي پالیسي د مالي چارو په تنظیم او د حکومت د عوایدو په غوره مدیریت کې مرسته کوي. د دې پالیسۍ له مخې حکومت د ټولنیز خوندیتوب برنامې، د شتمنۍ وېش او د اقتصادي فرصتونو له لارې متوازنه اقتصادي پرمختیا رامنځته کوي.

له بلې خوا، اقتصادي پالیسي د هېواد اقتصادي لیدلورې، اهداف، لومړیتوبونه او تګلارې ټاکي. د عامه او خصوصي سکټور او د ټولنې د ټولو قشرونو اقتصادي ګټې تضمینوي او په هېواد کې اقتصادي او ټولنیزه رفاه رامنځته کوي. له دې کبله د افغانستان اسلامي امارت له شته سرچینو او امکاناتو څخه د پایدارې او اغېزناکې ګټې اخیستنې په موخه د هېواد د عینې شرایطو په پام کې نیولو سره د یوې واحدې پالیسۍ په چوکاټ کې د هېواد د بنسټیزو اقتصادي تګلارو د ټاکلو په موخه اقدام کړی، څو د اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره هېواد ته اقتصادي او ټولنیزه سوکالي ور په برخه کړي.

دغه سند د یو جامع لارښود په توګه له ټولو وزارتونو، مستقلو ادارو او خصوصي سکټور سره مرسته کوي چې د دې سند په رڼا کې خپلې بنسټیزې اقتصادي تګلارې او فعالیتونه تعریف او وټاکي او د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا په بهیر کې اغېزناک ګامونه واخلي.

**د پالیسۍ تطبیق**

اقتصادي پالیسي په هېواد کې د اقتصادي چارو د لا ښه تنظیم او رهبرۍ له پاره ترتیب شوې، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له خوا د تطبیق په موخه له اړوندو امارتي ادارو او وزارتونو سره شریکېږي. اړوند اداري او وزارتونه مکلف دي، څو د یادې پالیسۍ په محوریت خپلې پالیسۍ جوړې او لازم اقدامات ترسره کړي.

**لومړی څپرکی**

# د کانونو سکټور



## اقتصادي کمېسیون کې د کانونو سکټور د عوایدو پالیسۍ مسودې تائید

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې ۳۱مې نېټې غونډه کې له هر اړخیز تحلیل وروسته د کانونو سکټور د عوایدو پالیسۍ مسوده د تعدیلاتو په پام کې نیولو سره تائید شوه، چې وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۴۴۷/۴/۸ نېټې او ۲۳۵۵/۸۶۷ گڼې حکم له مخې منظور شوه.

یاده پالیسي په اووه پاڼو کې ترتیب شوې، چې پېژندنه، مبنی، موخې، د کانونو سکټور غیر مالیاتي عواید، د کان کېندنې قراردادي شرکتونو څخه د رویالیټي ټولول، د کان ساتنه، د کانونو سکټور مالیاتي عواید، گمرکي محصول، روڼتیا، عایداتي کوډونه، د کانونو سکټور د عوایدو نظارت او کنټرول، د پالیسۍ تطبیق، څارنه، ارزونه

او تعدیل او ځینې نور مطالب رانغاړي، چې ځینې مطالب یې دلته وړاندې کوو.

دغه پالیسي د منرالي موادو مالیاتي، غیر مالیاتي او ګمرکي عوایدو د مدیریت په موخه جوړه شوې ده.

مبنی: د پالیسۍ مبنی د اقتصادي کمېسیون د نهمې ګڼې ۲۱/رمضان المبارک/۱۴۴۴ نېټې مصوبه ده.

## د پالیسۍ موخې

۱- د کانونو سکټور د عوایدو سرچینې په ګوته کول؛

۲- د عوایدو د ضایع کېدو او د غېر قانوني کان کېندنو مخنیوی؛

۳- په ټاکل شوي وخت د کانونو سکټور د عوایدو ټولولو له پاره د راتلونکي کال د عوایدو وړاندوینې څرنګوالی ټاکل؛

۴- د کانونو سکټور د عوایدو په ټولولو کې د روڼتیا ډاډمنول.

## د کانونو سکټور د عوایدو نظارت او کنټرول

د کانونو او پټرولیم او مالیې وزارتونه به په ګډه د مالیاتي، غیر مالیاتي او ګمرکي عوایدو د راټولولو د لا ښه تنظیم او نظارت له پاره د هر لوی مقیاس کان په ساحه کې د نظارت او کنټرول دفتر جوړوي، چې چارې به یې د جلا کړنلاې له مخې تنظیمېږي. د مالیې وزارت به د یاد دفتر د جوړولو او کړنلارې د تطبیق مالي لګښتونه په خپله انکشافي بودیجه کې ځای پر ځای کوي.

## د پالیسۍ تطبیق

په پالیسۍ کې د کانونو او پټرولیم وزارت او اړوند وزارتونه مکلف ګرځول شوي چې په خپلو کاري استقامتونو کې دغه پالیسي تطبیق کړي.

## د پالیسۍ څارنه، ارزونه او تعدیل

د کانونو او پټرولیم وزارت او اړوند نور وزارتونه به په خپلو کاري برخو کې د دې پالیسۍ له تطبیق څخه وخت په وخت څارنه او ارزونه کوي او نویو بدلونونو ته په کتو به د اړوندو وزارتونو په همکارۍ او همغږۍ د دې پالیسۍ د تعدیل وړاندیز کوي.

## اقتصادي کمېسیون کې د زر مینځونکو شرکتونو د مالیې او کرومایټ ډبرو د استخراج په اړه پرېکړې

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم له زر مینځونکو شرکتونو د ثابتې مالیې په توګه د زرو اخیستلو او همداراز د کرومایټ ډبرو د کوچنیو او لویو مقیاس کانونو قراردادي شرکتونو څخه د ونډې پر بنسټ د رویالیټۍ د ورکړې موضوعات د بحث له پاره وړاندې شول.

له بحث وروسته د ریاست الوزراء عالي مقام ته نظر ورکړل شو چې له زر مینځونکو شرکتونو څخه دې په میاشتنۍ ډول په هر هکتار ځمکه د کټګورۍ له مخې، پنځه، لس او پنځلس ګرامه د لوړ معیار سره زر د ثابتې مالیې په توګه واخیستل شي. د سرو زرو دغه ثابته مالیه به د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري له زر مینځونکو شرکتونو د رویالیټۍ اخیستلو پرمهال د مالیې وزارت د استازي په شتون کې اخیستل کېږي.

همدارنګه په دې غونډه کې له مفصل بحث وروسته د ریاست الوزراء عالي مقام ته نظر ورکړل شو، چې د کوچنیو مقیاس کرومایټ ډبرو د استخراج ټول مصارف د شرکتونو پر غاړه دي او استخراج شویو او ناپروسس شویو کرومایټو کې د وزارت ونډه

۴۵ او د شرکت ونډه ۵۵ سلنه ده. د کوچني مقیاس هغه شرکتونه چې د پروسس فابریکه ولري او استخراج شوي کرومایټ پروسس کړي، په دې صورت کې بیا د وزارت ونډه ۴۰ او د شرکت ونډه ٦۰ سلنه ده.

همداراز د لوی مقیاس کرومایټ ډبرو د استخراج ټول مصارف د شرکتونو پر غاړه دي او استخراج شویو او ناپروسس شویو کرومایټو کې د وزارت ونډه ۳۵ او د شرکت ونډه ٦۵ سلنه ده. د لوی مقیاس هغه شرکتونه چې د پروسس فابریکه ولري او استخراج شوي کرومایټ پروسس کړي، په دې صورت کې بیا د وزارت ونډه ۳۰ او د شرکت ونډه ۷۰ سلنه ده.

د کرومایټ ډبرو د کوچني او لوی مقیاس کانونو د هغو قراردادي شرکتونو په حق کې هم دا پرېکړه د تطبیق وړ ده، چې له وړاندې یې کرومایټ استخراج او په ساحه کې پراته دي.

## د منرالونو د ملي پالیسۍ مسودې تائید

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې ته، چې د ۱۴۰۴ کال د وري په دویمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د منرالونو د ملي پالیسۍ مسوده د بحث له پاره وړاندې شوه. د اقتصادي کمېسیون له لوري تر هر اړخیزې ارزونې وروسته د منرالونو د ملي پالیسۍ مسوده تائید شوه.

## د پالیسۍ اړتیا

په تېرو لسیزو کې د مرکزي ادارو د کمزوریو او خپلسریو له امله په هېواد کې د کاني زېرمو استخراج تر ډېره په غېر قانوني ډول ترسره کېده. سیمه ییزو زورواکو

به په غېر معیاري ډول کانونه استخراج او قاچاق کول او عواید به تر ډېره شخصي جېبونو ته تلل. په قراردادونو کې فساد هم د هېواد د منرالي زېرمو چور او تالان ته زمینه برابره کړې وه. د دې له پاره چې د هېواد د دغې ملي شتمنۍ او کانونو سکټور استخراج او ترې ګټه اخیستنه معیاري شي، عواید ملي خزانې ته لاړ شي، د خپلسریو او فساد مخه ونیول شي، نو اسلامي امارت لازمه وګڼله، چې د هېواد په کچه داسې ملي پالیسي جوړه کړي، چې له مخې یې د هېواد د ملي شتمنۍ د ضایع او قاچاق کېدو مخه ونیول شي او په نویو او عصري وسایلو د کانونو کیندنه ترسره شي.

په ټولیزه توګه د کانونو سکټور د تنظیم، پراختیا او کنټرول له پاره د هر اړخیز لارښود موجودیت مهم و. په همدې موخه د منرالونو ملي پالیسۍ جوړول او پلي کول د کانونو سکټور له پاره مهم وګڼل شوه. په یاده پالیسۍ کې د منرالونو د اکتشاف، استخراج، پروسس او صادراتو په اړه روښانه لارښوونې راغلې دي.

## د پالیسۍ موخې

د منرالونو ملي پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي.

۱- په معیاري توګه د کانونو تفحص، اکتشاف او ګټه اخیستنه؛

۲- د داخلي او بهرنیو پانګوالو جذب او د کان کېندنې نوې ټکنالوژي او تجهیزاتو واردول؛

۳- د ژوند چاپېریال ساتنې او د کان کیندونکو د روغتیا او خوندیتوب ډاډمنول؛

۴- په هېواد کې دننه د کاني موادو پروسس ته زمینه برابرول؛

۵- د کانونو سکټور له پاره د متخصص او تخنیکي بشري سرچینو روزل او د دوی ظرفیت لوړول.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت، د چاپېریال ساتنې عمومي اداره، د معیار او کیفیت اداره او د صنعت او کانونو خونه د دې پالیسۍ په تطبیق کې له کانونو او پټرولیم وزارت سره همکاري کوي.

## د پالیسۍ تطبیق او څارنه

د منرالونو ملي پالیسۍ مسوده د اقتصادي کمېسیون له لوري تائید شوې. د دې په رڼا کې به اړوند قانوني او نظارتي ګامونه او نورې حمایوي پالیسۍ چمتو کېږي. د کانونو او پټرولیم وزارت به وخت په وخت د جوړې شوې پالیسۍ څارنه او ارزونه د یو منظم پلان له مخې کوي.

## د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې عملي چارو پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وږي په ۲۳مه نېټه د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو په پرانیستغونډه کې ګډون وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه ګازي ساحو د عملي چارو پیل د پانګونې په برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل، په داسې لویو او مهمو پروژو کې پانګونه ټولو هېوادونو او پانګوالو ته واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې امنیت تأمین او د هر ډول پانګونو له پاره ښه زمینه مساعده ده. د هغه په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له مخې د ممکنه اسانتیاوو په برابرولو سره ټولو بالقوه پانګوالو ته ښه راغلاست وایي او ملاتړ یې کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او برېښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي توګه به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یوې کچې برابر او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د طوطي میدان ګازي ساحو د څېړنې او استخراج له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې خپل کارونه د ټولو معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره په ښه ډول ترسره کړي.

## افغانستان ته یې ګټې

د ۱۴۰۳ کال د تلې په ۱۹مه نېټه د جوزجان-فاریاب ولایت د طوطي میدان د ګازو د اکتشاف او استخراج تړون د یو میلیارد ډالرو په ارزښت د افغانستان اسلامي امارت او ایریل ازبیکستاني او افغان کام انرژۍ شرکت ترمنځ لاسلیک شوی و.

د تړون له مخې، یاد شرکت به په لومړي کال کې د ۱۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونه کوي چې لسو کلونو کې به دغه پانګونه یو میلیارد ډالرو ته ورسېږي.

یاد شرکت به په لومړیو دوه کلونو کې له ګازو ۱۰۰ مېګاواټه برېښنا تولیدوي چې ورسره به د هېواد په هغه برخه کې د برېښنا ستونزه تر ډېره حل شي.

د طوطي میدان د ګازو له استخراج سره به د افغانستان د ګازو اړتیا هم تر یو حده پوره شي او افغانستان به د ځان بسیاینې او وارداتي ګازو کچې د کمېدو په لور مهم ګام واخلي. دغه راز، سلګونه کسان به په دغه پروژه کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت شي چې هېواد کې به د بېکارۍ کچې کمولو کې مهم رول ولوبوي.

په توله کې به د طوطي میدان د ګازو په استخراج سره د افغانستان اقتصادي وده چټکه او د ملي عوایدو کچه به ورسره لوړه شي.

## اقتصادي کمېسیون کې د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ تائید

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږي په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده د بحث له پاره وړاندې شوه، چې له هراړخیز بحث وروسته تائید شوه.

## د پالیسۍ لنډیز

دا پالیسي د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د لارښوونې پر اساس ترتیب شوې او د هېواد دننه د معدني موادو د پروسس، د صادراتو د زیاتوالي، د څارنې او شفافیت پر چوکاټونو ټینګار کوي. سربېره پر دې، دا پالیسي د بهرنیو پانګونو د جلب او د بنسټیزو زېربناوو د پراختیا ملاتړ کوي، څو په افغانستان کې د معدني موادو پروسس اسانه او نړیوالو بازارونو ته یې صادرات ممکن شي. د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسي د کانونو او پټرولیم وزارت او د اړوندو ادارو ټولې موخې او اقدامات منعکسوي. دا پالیسي د معدني موادو د پروسس او صادراتو په برخه کې یو هر اړخیز لید وړاندې کوي. د دې پالیسۍ موخه د معدني موادو د پروسس او صادراتو د فعالیتونو پراخول، د کورنیو او بهرنیو پانګونو جلب، د پروسس او صادراتو پر وړاندې د خنډونو لرې کول، د کورنیو صنایعو ملاتړ، نړیوالو بازارونو ته لاسرسی، اقتصادي وده او د فقر کمښت دی. دې پالیسۍ کې د چاپېریال ساتنې اصول او معیارونه هم په پام کې نیول شوي او همدارنګه نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي د ښه والي له پاره د نړیوالو سوداګریزو تړونونو پر لارو چارو تمرکز

کوي. په پای کې دا پالیسي د افغانستان د کانونو د سکټور د دوامدارۍ پراختیا له پاره یوه روښانه نقشه وړاندې کوي، څو د اقتصادي ودې په موخه د کارموندنې فرصتونه رامنځته شي، په نړیوالو بازارونو کې حضور زیات شي او د معدني موادو د معیاري پروسس او اغېزناکو صادراتي میتودونو له لارې ملي عاید لوړ شي.

دویم څپرکی

# د انرژۍ سکتور



## د ۲۰،۷ میلیارده افغانیو په پانګونې د برېښنا د تولید او انتقال د پروژو د قراردادونو لاسلیک

افغانستان کې د برېښنا کمښت یوه ستونزه ده، خو له نېکه مرغه چې هېواد مو له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید ظرفیت لري. افغانستان ډېرې برېښنا ته اړتیا لري. د هېواد اوسنۍ برېښنا څه د هېواد په داخل کې تولیدېږي او څه یې له ګاونډیو هېوادونو واردېږي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان په وارداتي برېښنا له تکیې څخه خلاص کړي او ټوله د اړتیا وړ برېښنا د هېواد له کورنیو سرچینو څخه تولید کړي.

د افغانستان اسلامي امارت په وروستیو څو کلونو کې د بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید له پاره هلې ځلې کړې او په دې برخه کې یې د اوبو، باد، ګازو او

لمريزې برېښنا په برخه کې ګڼې پرژوې پيل او يو شمير نورې يې په نظر کې نيولې دي، څو له يو لوري هېوادوالو ته د ژوند په بېلابېلو برخو کې اسانتياوې برابرې شي او له بل لوري په هېواد کې د اقتصادي فعاليتونو پراختيا ته زمينه برابره شي.

په همدې موخه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د وري مياشتې په اوومه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور تر منځ د برېښنا توليد د اوو او د برېښنا انتقال د درېيو پروژو قراردادونه لاسليک شول.

د برېښنا توليد په اوو پروژو کې په بلخ ولايت کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا، په هرات ولايت کې د پنځه ميګاواټه لمريزې برېښنا، په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا، په هرات ولايت کې د ۲۰۰ ميګاواټه بادي برېښنا د لومړي فاز ۴۳.۲ ميګاواټه برېښنا، په لوګر ولايت کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا، په ننګرهار ولايت کې د ۴۰.۲۵ ميګاواټه لمريزې برېښنا، په جوزجان ولايت کې د ۵۰ ميګاواټه ګازي برېښنا پروژې شاملې دي چې د برېښنا مجموعي ظرفيت يې ۲۲۸.۴۵ ميګاواټو ته رسېږي. د برېښنا د انتقال په پروژو کې بيا د کندهار ولايت ختيځ برېښنا کوټ او د زابل ولايت د قلات برېښنا کوټ جوړولو او له کجکي تر کندهار پورې د ۱۱۰ کيلو ولټ برېښنا مزي غځولو پروژې شاملې دي.

د افغانستان برېښنا شرکت د مسؤولينو په خبره، د يادو پروژو د ټولې پانګونې کچه ۲۰.۷ ميلیارده افغانۍ ده، چې ۲۹۲.۳ ميليون ډالر کېږي. د دوی په وينا، د لاسليک شويو پروژو په پلي کېدو سره به د هېواد د برېښنا ۲۳ سلنه اړتيا پوره شي او يادې پروژې به د يو کال په موده کې بشپړې شي.


د برېښنا شرکت پروژې نه يوازې د افغانستان د برېښنا د اړتيا له پاره مهمې دي، بلکې د دې ترڅنګ د کاري فرصتونو ايجاد کې هم مهم رول لوبوي. په دغو پروژو

کې هم سلګونه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوه.


افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ ورځې لمر لري، چې دا د لمریزې برېښنا د تولید له پاره کافي دي. اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزې د حل له پاره له بېلابېلو لارو په استفادې غواړي چې دغه ستونزه حل کړي. د برېښنا کمښت د ستونزې یوه حل لاره د بندونو جوړول دي او یوه اسانه، لږ لګښت لرونکې او په لږ وخت کې بشپړېدونکې لاره د لمریزې برېښنا تولید دی.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې په پورته پروژو کې د پانګونې په اړه نظریات ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونه شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## په اقتصادي کمېسیون کې د برېښنا د یوشمېر پروژو تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دې غونډه کې له اجنډا سره سم په ځینو موضوعاتو بحث وشو.

غونډې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د میدان وردګ د ګړومبي بند، د بلخ د قره تېري بند، د کندهار د شنه نري بند او د پکتیا د وچ نري بند د سروې او امکان سنجۍ مطالعاتو پروژې د بحث له پاره وړاندې شوې، چې له هر اړخیزې ارزونې وروسته یې د ۱۴۰۴ مالي کال په بودیجه کې د نیولو پرېکړه وشوه.

په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کندهار د ارغستان بند جوړولو، له کابل څخه تر جلال اباد پورې د ۹۰ کیلومتره برېښنا لېږد مزي غځولو او په جلال اباد ښار د شیخ مصري سب‌سټېشن د چارو د بشپړولو له پاره دې د بامیان د یکاولنګ ولسوالۍ ګنده کوتل د سرب او جستو کان څخه لاسته راغلي عواید د مالیې وزارت له لوري د ځانګړي کوډ په ایجادولو سره دغو پروژو ته ځانګړي شي.

دغه راز، په دې غونډه کې د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، د الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټه انتقالي مزي د پاتې چارو، د بت خاک نوي سب‌سټېشن جوړولو، د چمتلې سب‌سټېشن ۲۲۰ کیلو ولټه انتقالي مزي غځولو او همداراز د ارغندۍ سب‌سټېشن ۲۲۰ کیلو ولټه انتقالي مزي غځولو پروژو له پاره د ځمکو د استملاک، لېږد او تصفیې پروسې په چټکولو بحث وشو. له بحث وروسته کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو پروژو له پاره د ځمکې د تصفیې او استملاک پاتې ۲۰ سلنه چارې بشپړې او د مالیې وزارت دې په ۱۴۰۴ مالي کال کې د یادو پروژو له پاره د ځمکې استملاک ته بودیجه ځانګړې کړي.

د غونډې په پای کې له خصوصي سکټور سره د ننګرهار په حصار شاهي صنعتی پارک کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا طرحه تائید شوه. خصوصي سکټور به د دغې طرحې له مخې ۵۰.٦۹ میلیون ډالر پانګونه کوي.

دغه پروژې ښیې چې د افغانستان اسلامي امارت رهبري د برېښنا سکټور ځان بسیاینې ته ژمنه ده او هڅه کوي، څو د هېواد له داخلي سرچینو څخه د هېواد د اړتیا وړ برېښنا تأمین کړي.

## کندهار، زابل، هلمند او ارزګان کې د برېښنا د څلورو لویو پراختیایي پروژو د پاتې چارو پیل

افغانستان له اوبو، لمر او ګازو څخه د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري، خو د مختلفو لاملونو له امله له دغه ظرفیت څخه کافي استفاده نه ده شوې. همدا لامل دی چې په یوویشتمه پېړۍ کې مو هم ډېر هېوادوال له برېښنا څخه برخمن نه دي او همدا د برېښنا کمښت د هېواد د صنعتي وروسته پاتې‌والي یو لامل هم دی.

د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې د برېښنا د تولید او ډېرو هېوادوالو ته د برېښنا د لېږد چارې چټکې شوې. د برېښنا د تولید بېلابېلې لویې او کوچنۍ پروژې پیل شوې. اوسمهال د هېواد په یو شمېر برخو کې د برېښنا د تولید او هېوادوالو ته د برېښنا رسولو پروژې تر کار لاندې دي.

د دې له پاره چې د هېواد سویل کې د ډېرو هېوادوالو کورونه د برېښنا له امله روښانه او صنعتي فعالیتونه هم زیات شي، نو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د څلورو پراختیایي پروژو د پاتې چارو پرانېستې له پاره د هېواد سویل ته سفر وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د کابینې یو شمېر محترمو غړو او د کندهار، زابل او هلمند ځايي مسؤولینو په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه په کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا د درېیو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې.

**کندهار ته د کجکي بند د برېښنا لېږد**

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له همدې امله جوړو شویو مراسمو کې د خپلې وینا پر مهال وویل، دا پروژې د برېښنا په برخه کې ځان بسیاینې ته د رسېدو، د نویو کاري فرصتونو رامنځته کولو او زیربنا پیاوړتیا پر لور مهم گامونه دي، چې په مرسته به يې د کجکي بند برېښنا په بشپړ ډول کندهار ته ولېږدول شي. په دې برېښنا سره به کورونه روښانه او صنعت به وده وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په کور دننه له موجودو سرچینو د برېښنا د تولید په برخه کې جدي هڅې کړې، چې په همدې موخه يې له خصوصي سکټور سره په بېلابېلو ولایتونو کې د ۲۵۰ میگاواټه په ظرفیت له لمر، باد او گازو څخه د برېښنا تولید تړونونه لاسلیک کړل.

په مراسمو کې ټولو مسؤولینو د برېښنا کورني تولید پر پراختیا، د برېښنا نیمگړو پروژو پر بشپړولو، صنعتي، سوداگریزو او کرنیزو برخو ته د اړتیا وړ برېښنا پر رسولو ټینگار وکړ.

په یادو پروژو کې د زابل مرکز قلات سب‌سټېشن او د کندهار ختیځ سب‌سټېشن د پاتې چارو بشپړول او همداراز له کجکي برېښنا تولیدي فابریکې څخه د کندهار ختیځ سب‌سټېشن پورې د ۱۱۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي غځول شامل دي.

په یادو پروژو باندې نږدې یو میلیارد افغانۍ لګښت راځي چې سلګونه زره نوي پیرودونکي به له برېښنا برخمن او ډېرو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د یادو پروژو په بشپړېدو سره به د کجکي برېښنا تولیدي فابریکې ټوله برېښنا په اساسي ډول جذب او صنعتي، سوداګریزو او کرنیزو سکټورونو ته به د اړتیا وړ برېښنا برابره شي.

دغه راز، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې لویه پروژه پرانیسته. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو ته وویل، له پاکې انرژۍ څخه د ګټې اخیستنې دا ډول پروژې نه یوازې د اقلیمي بدلون پر وړاندې د افغانستان مقاومت زیاتوي، بلکې د نړیوال اقلیم په پاک ساتلو کې هم لازمه مرسته کوي.

## په تدریجي ډول د وارداتي برېښنا کموالی

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ارزګان کې په خپله وینا کې وویل، افغانستان له پخوا راهیسې په وارداتي برېښنا متکي دی او د عوایدو زیات رقم د وارداتي برېښنا په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې واردېدونکې برېښنا له یوه لوري قیمته ده او له بل لوري پایداره او ډاډمنه سرچینه نه ګڼل کېږي. له همدې امله له کورنیو سرچینو په غوره ګټې اخیستنې سره د برېښنا تولید دا ډول پروژې کولی شي، چې په تدریجي توګه پر وارداتي برېښنا د افغانستان تکیه راکمه او ځان بسیاینې ته یې ورسوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د پاکې انرژۍ ارزښت ته په اشارې سره وویل، د برېښنا تولید دا ډول پروژې ارزانه سرچینې دي، د مضرو ګازونو د تولید مخه نیسي، د اقلیمي بدلون پر وړاندې مبارزه کې مرسته کوي، د برېښنا په برخه کې

ثبات او پایداري رامنځته کوي، په هېواد کې د پانګونې مقدار، تولیدي ظرفیت او د استخدام کچه لوړوي، د اسعارو د وتلو مخه نیسي او د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نړیوال اقلیمي بدلون له امله افغانستان ته د ورپېښو زیانونو په اړه وویل، افغانستان د نړیوال اقلیم په تخریب کې هېڅ ډول ونډه نه ده اخیستې، خو له بده‌مرغه د نړۍ په ځانګړې توګه د لویو صنعتي او تولیدي هېوادونو له اقلیمي تاثیراتو څخه متضرر شوی. په داسې حال کې چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د پاکې انرژۍ د تولید ډېرې پروژې د نړیوالو سازمانونو له لوري بندې شوې دي، خو د اسلامي امارت له لوري یې یو شمېر بیا پیل او پرانیستل شوې دي.


## د پاکې انرژۍ په تولید کې له نړیوالو ادارو د همکارۍ غوښتنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ملګرو ملتونو او د پاکې انرژۍ ملاتړ کوونکو نړیوالو سازمانونو باندې د یو ګډ مسؤلیت له مخې غږ وکړ، چې له افغانستان سره د پاکې انرژۍ د تولید په برخه کې لازمه همکاري ترسره او د نړیوالو سازمانونو له لوري متوقفې شوې پروژې له سره پیل کړي.


باید یادونه وکړو چې له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې دغه پروژه د افغانستان برېښنا شرکت په مالي ملاتړ د ۲۰۱ میلیون افغانیو په لګښت پلې کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې شاوخوا ۴۵۰۰ کورنیو ته برېښنا ورکړل شي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د پورته پروژو د چارو پیلېدو په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونه شمېر او سلنه کتلی شئ.

اماراتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو
د نظرونو شمېر:




اماراتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو
د نظرونو سلنه:




## لغمان کې د لس میګاواټه برېښنا پروژې د چارو پیل

په لغمان کې د افغانستان برېښنا شرکت له لوري د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د پروژې چارې د ۱۴۰۴ کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پیل شوې. د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د اماراتي شرکتونو لوی رئیس محترم مولوي احمد جان بلال، افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجراییوي رئیس ډاکټر عبدالباري عمر، د لغمان والي او د ځایي ادارو مسؤولینو، دیني عالمانو، صنعتکاراتو او نورو هېوادوالو حضور درلود.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلې وینا کې وویل، د خوښۍ ځای دی چې په لغمان کې د پاکې انرژۍ د تولید په برخه کې یو مهم ګام اخلو، دا به نه یوازې د

اقلیمي بدلون پر وړاندې د دې سیمې مقاومت لوړ کړي، بلکې د پاکې او پایښت لرونکې انرژۍ په برخه کې به هم د هېواد اړتیا تر یو حده پوره کړي.

د ریاست الوزراء اقتصاد مرستیال په وینا، اسلامي امارت د برېښنا سکټور په برخه کې خودکفایۍ ته د رسېدو په موخه د دې پروژې په څېر مهم ګامونه اخیستي چې دا نه یوازې د برېښنا د تولید، بلکې د ملي اقتصاد، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب، د کاري فرصتونو د ایجاد او هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو په برخه کې مهم ګام دی.

**له بهرنۍ اړتیا د هېواد خلاصول**

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لغمان کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د پروژې د پرانیستو مراسمو ته ووېل، د اسلامي امارت اقتصادي ستراتیژۍ پر دې ولاړه ده څو هېواد له بهرنۍ اړتیا خلاص او د خپلو موجودو کورنیو ظرفیتونو پر مټ خودکفایۍ ته ورسېږي. دا چې برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې د ملا تیر بلل کېږي، په همدې موخه د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسیو په سر کې ځای لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ووېل، د افغانستان ډېره تکیه پر وارداتي برېښنا ده چې دا نه یوازې قیمته تمامېږي، بلکې له هېواد څخه په زیاته اندازه د اسعارو وتلو عامل هم ګرځي. له همدې امله د برېښنا دا ډول پروژې کولی شي چې هېواد په تدریجي ډول د برېښنا په برخه کې خودکفایۍ ته ورسوي.

د افغانستان برېښنا شرکت پخواني عمومي اجراییوي ریس ډاکټر عبدالباري عمر په خپلو خبرو کې د برېښنا تولید پروژو کې د زېرې په توګه یادونه وکړه چې د ۱۴۰۴ کال په دوام به د ټول هېواد په کچه ۸۰ ولسوالیو ته د برېښنا شبکې وغځېږي. لغمان کې د دې پروژې له پیل وړاندې د هېواد په کچه د برېښنا د تولید د اوو مهمو پروژو قراردادونه لاسلیک شول چې مجموعي ظرفیت یې څه باندې ۲۲۸ میګاواټو ته

رسېږي. دا د هېواد په کچه د برېښنا د تولید په برخه کې یو بې ساری گام و چې دا پروژه یې هم برخه وه.

د لغمان ولایت د لس میگاواټه لمریزې برېښنا پروژه کې د خصوصي سکټور له لوري شپږ میلیون ډالر پانگونه کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې د سیمې اوسېدونکو د برېښنا ستونزه تر یوې اندازې حل او صنعتي فعالیتونه به ورسره پراختیا ومومي.

## په هرات کې د ٦٨ میلیون ډالرو په پانگونې د برېښنا د دوه لویو پروژو پرانیسته

د افغانستان اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنگ د برېښنا سکټور کې د هېواد ځان بسیاینې له پاره هلې ځلې کړي او غواړي چې په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا له بېلابېلو سرچینو څخه برېښنا تولید کړي، څو له یوې خوا هېوادوالو ته په ورځنۍ ژوند کې اسانتیاوې رامنځته شي او له بلې خوا هېواد کې د صنعت د ودې له پاره زمینه برابره شي. سربېره پر دې به په وارداتي برېښنا د افغانستان تکیه راکمه شي.

افغانستان نه یوازې له لمر او اوبو څخه د برېښنا د تولید ظرفیت لري، بلکې د پاکې انرژۍ له یوې بلې سرچینې (باد) څخه هم د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري. همد لامل دی چې د افغانستان اسلامي امارت له باد څخه هم د برېښنا د تولید پروژې پیل کړې.

هرات د افغانستان له هغو ولایتونو څخه دی چې د بادي برېښنا د تولید له پاره ډېر مناسب دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د غبرگولي په لسمه نېټه په هرات کې د بادي او لمریزې برېښنا دوې پروژې پرانستې.

## په وارداتي برېښنا د اتکاء کمول

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یادو پروژو د پرانیستې په اړه جوړو شویو مراسمو ته وویل، په هرات کې د بادي او لمریزې برېښنا د دوو مهمو پروژو د پرانیستې شاهدان یوو، چې دا د هېواد د انرژۍ سکټور د پراختیا، عصري کېدو او خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا پروژې به نه یوازې پر وارداتي برېښنا د هېواد اتکا راکمه کړي، بلکې د چاپېریال ساتنې، دوامدارې انرژۍ او نوې ټکنالوژۍ د ترویج لپاره به هم فرصتونه برابر کړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان له اوږدې مودې راهیسې په وارداتي برېښنا متکي دی او د هېواد د ملي بودجې یوه لویه برخه هر کال د وارداتي برېښنا د پېرلو له پاره لګول کېږي. د هغه په خبره، وارداتي برېښنا له یوه لوري قیمته ده او له بل اړخه په اوږدمهال کې دا چاره ډاډمنه او ګټوره نه ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د برېښنا سکټور په برخه کې له کورنیو ظرفیتونو پر سالمې ګټې اخیستنې تمرکز کړی او په دې برخه کې جدي هڅې کوي. نوموړي زیاته کړه، د دغو پروژو له لارې به نه یوازې د برېښنا د تولید ظرفیت لوړ شي، بلکې د هېواد اقتصادي پرمختګ، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د کورنیو او بهرنیو پانګوالو هڅونه او د زېربناوو پراختیا ته به هم لاره هواره شي.

په دغو مراسمو کې د اقتصاد وزیر محترم قاري دین محمد حنیف، د افغانستان برېښنا شرکت پخواني رئیس محترم ډاکټر عبدالباري عمر، د هرات ځایي مسؤولینو، د ترکیې کونسل، د ۷۷ ترکي شرکت مسؤولینو او نورو ګډون کړی و. د ګډونوالو ویناوې په هېواد کې د برېښنا د تولید او شبکو په پراختیا، اقتصادي پرمختګ، چاپېریالي ککړتیا، برېښنا سکټور کې پر ځان بسیاینې او نورو موضوعاتو متمرکزې وې.

په پورته یادو پروژو کې یوه یې د ٦۴ میلیون ډالرو په پانگونې ۴۳.۲ میگاواټه بادي برېښنا پروژه وه او دویمه یې د شاوخوا ۳.۵ میلیون ډالرو په پانگونې د پنځه میگاواټه لمریزې برېښنا پروژه وه.

د ۴۳.۲ میگاواټو په ظرفیت د برېښنا د تولید پروژه د ۲۰۰ میگاواټو بادي برېښنا د تولید لویې پروژې لومړنی فاز دی، چې نورې برخې به یې وروسته پیل شي او په دې ډول به د هېواد له جغرافیایي موقعیت څخه سالمه استفاده وشي.

## لوگر کې د څلوېښت میگاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارو پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د زمري په نهمه نېټه د لوگر په محمداغه ولسوالۍ کې د څلوېښت میگاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې. د پرانېستې مراسمو کې د اقتصاد وزیر محترم قاري دین محمد حنیف، د افغانستان برېښنا شرکت پخواني اجراییوي رئیس محترم ډاکټر عبدالباري عمر، د افغاني سرې میاشتې رئیس محترم شیخ شهاب الدین دلاور، د لوگر ځایي مسؤولینو او یو شمېر هېوادوالو گډون درلود.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لوگر کې د څلوېښت مېگاواټه لمریزې برېښنا پروژې د کار پیل د دغه ولایت او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، د دغو پروژو په بشپړېدو سره به په لوگر کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یوې کچې راکمه ، صنعتي فعالیتونه به زیات او گڼو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه ایجاد شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دې پروژو په تطبیق سره به په لوگر کې اقتصادي فعالیتونه زیات او د محمد اغې صنعتي پارک د برېښنا ستونزه به هم حل شي.

## د هېواد د وروسته پاتې والي لامل د کافي برېښنا نشتوالی

لوګر کې د څلوېښت مېګاواټه لمریزې برېښنا پرانیستغونډې ته په وینا کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند برېښنا د هېوادونو د پرمختګ له پاره مهمه اړتیا وبلله او د هېواد د وروسته پاتې والي یو لامل یې د کافي برېښنا نشتوالی یاد کړ او زیاته یې کړه، افغانستان د انرژۍ د تولید ډېرې سرچینې لري، خو له بده مرغه د انرژۍ له دغو سرچینو سمه استفاده نه ده شوې چې له امله یې هېواد په بهرنۍ برېښنا متکي دی او هر کال سلګونه میلیون ډالره د هغه په بدل کې نورو هېوادونو ته ورکوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره د نورو سکټورونو ترڅنګ د انرژۍ سکټور کې هم د پام وړ پرمختګ شوی او په مختلفو ولایتونو کې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید پروژې پیل شوې او د انرژۍ د تولید ترڅنګ د برېښنا د وېش، تنظیم، صنعتي سیمو او هېوادوالو ته د انرژۍ د رسولو یو شمېر پروژې هم تر کار لاندې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت کلک هوډ کړی چې افغانستان به د انرژۍ له اړخه پرځان بسیا کوي او دا هېواد کولای شي نه یوازې د خپلې اړتیا وړ برېښنا تولید کړي، بلکې دا ظرفیت لري چې حتی نورو هېوادونو ته هم خپله برېښنا صادره کړي، خو د دې له پاره اړتیا ده چې په هېواد کې اوبه مدیریت او له لمر او باد څخه سالمه استفاده وشي چې اسلامي امارت په همدې موخه اوږد مهاله پلانونه تر کار لاندې نیولي دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د پروژو له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې د کار کیفیت ته جدي پام وکړي او په ټاکلي وخت یې بشپړ کړي.

د اقتصاد وزیر محترم قاري دین‌محمد حنیف په یاده غونډه کې وویل چې د دې پروژې پرانیستل د پرمختګ او روښانتیا پر لور یو ګام دی. د هغه په وینا، افغانستان

کې د برېښنا انرژي اړینه ده، ځکه له دې پرته اقتصادي پرمختګ ناشونی دی.

د برېښنا شرکت پخواني اجرائیوي رئیس ډاکټر عبدالباري عمر د پروژې پرانېسغونډې ته په خپله وینا کې وویل چې په څه باندې تېرو څلور لسیزو کې په افغانستان کې جګړه وه او ډېرې زېربنایي پروژې، د برېښنا پروژو په ګډون، له منځه تللې وې، خو اوس یو ځل بیا هېواد د پراختیا او پرمختګ ساه اخلي. هغه وویل، ژمن یو چې ټول افغانستان ته به برېښنا رسوو.

د افغاني سرې میاشتې عمومي رییس محترم شیخ شهاب‌الدین دلاور په دې غونډه کې وویل، د دې ډول پروژو پرانیستل د اسلامي امارت د نظام د شفافیت څرګندونه کوي. د محترم شیخ دلاور په خبره، د هېواد د برېښنا سرچینې ډېرې دي او دغه سرچینې نه یوازې افغانستان د برېښنا له اړخه پر ځان بسیا کوي، بلکې نورو هېوادونو ته به یې هم صادرولای شي.


## په نړیوالو معیارونو د برېښنا تولید

د غضنفر ګروپ اجرائیوي رئیس محمداسماعیل غضنفر لوګر کې د برېښنا پروژو پرانېستغونډې ته وویل چې په لوګر کې به په نړیوالو معیارونو برېښنا تولید شي. دغه دوه پروژې د غضنفر ګروپ او ریګل ګروپ له لوري پلي کېږي.


دا پروژه چې د لوګر په محمداغې ولسوالۍ کې پلي کیږي دوه برخې لري چې یوه یې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دستګاه جوړول دي چې په بشپړولو یې ۲۸ میلیون ډالره لګښت راځي. د دې پروژې بله برخه د ۱۲٦ میګاولټ امپیر سب سټېشن جوړول او د برېښنا د انتقالي لین غځول دي چې ۷ میلیونه او ٦۰۰ زره ډالره لګښت لري. د دې پروژې چارې به په اتلس میاشتو کې بشپړې شي. د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمداغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه به هم حل کړي.

هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې په لوګر کې د څلوېښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې د چارو پیل په اړه نظرونه ورکړي چې شمېر او سلنه یې دلته وړاندې کېږي.

اماراتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




اماراتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## د لس میلیارده ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسیک‌ېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژي خصوصي شرکت ترمنځ د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید، لېږد او ویش تفاهم‌لیک لاسلیک شو.

د تفاهمنامې د لاسلیک مراسمو کې د اوبو او انرژۍ مخکني وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور دا د افغانستان له پاره یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

د دغه تفاهم‌لیک د لاسلیک پر مهال د عزیزي انرژي خصوصي شرکت عمومي رئیس محترم میرویس عزیزي وویل، د اسلامي امارت په همکارۍ او ملاتړ د دغه پانګونې له پاره قوي هوډ او پوره ژمنتیا لري چې ژر به یې عملي چارې پیل شي.

عزیزي انرژي خصوصي شرکت به د هېواد په مختلفو برخو کې له ګازو، ډبرو سکرو، اوبو، باد او لمر څخه لس زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. په دې سره به له ۷ تر ۱۰ کلونو په جریان کې افغانستان د برېښنا تولید په برخه کې بشپړې خودکفایۍ ته ورسېږي او ان بهرنیو هېوادونو ته به هم برېښنا صادره کړي. د لس زره میګاواټه برېښنا څخه به څلور زره میګاواټه برېښنا عامو هېوادوالو او شپږ زره میګاواټه به صنعتي فابریکو ته ځانګړې وي، چې له مخې به یې په زرګونو نوې فابریکې جوړې شي، په میلیونونو افغانانو ته به د کار زمینه برابره او د هېواد اقتصاد به ورسره د پام وړ پرمختګ وکړي.

## د لس زره مېګاواټه برېښنا پروژې ګټې


دا پروژه به د افغانستان په مختلفو سیمو کې پلې شي او د انرژۍ د تولید له بېلابېلو سرچینو به په کې استفاده وشي. د لمر، باد، اوبو او د ډبرو سکرو له لارې به برېښنا تولید شي.

په داسې حال کې چې افغانستان د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري، خو په تېر کې له دغه ظرفیت څخه په هېواد کې د برېښنا د تولید له پاره کافي استفاده نه ده شوې. همدا لامل دی چې افغانستان د برېښنا د کمښت له ستونزې سره مخ دی او اوسمهال د خپلې اړتیا یوه اندازه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. د عزیزي انرژۍ پروګرام به نه یوازې په افغانستان کې د برېښنا د کمښت ستونزه له منځه یوسي، بلکې افغانستان به له دې درکه هم د خپلې اړتیا وړ برېښنا پوره کړي او هم به اضافه برېښنا نورو هېوادونو ته صادره کړي.


د عزیزي انرژۍ له لوري دومره ستره پانګونه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره یو لوی خبر دی. د دومره کچې برېښنا تولید سره به په افغانستان کې صنعتي فعالیتونه او د پانګونې کچه زیاته شي او ګڼ کاري فرصتونه به رامنځته شي. دغه راز، د نوې کېدونکې او پاکې انرژۍ تولید د چاپېریال له پاره ګټوره ده او هېوادوالو او اقلیم ته یې زیان په نشت حساب دی.

هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم لیک د لاسلیکېدو په اړه نظرونو ورکړي چې شمېر او سلنه یې دلته وړاندې کېږي.

اماراتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو
د نظرونو شمېر:




اماراتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو
د نظرونو سلنه:




## کابل کې د پانګونې جذب او د افغانستان برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس

د کابل انټر کانټيننټل هوټل کې د ۱۴۰۴ کال د وري په ۱۵مه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت له لوري «د پانګونې جذب او د افغانستان برېښنا سکټور ملاتړ» تر عنوان لاندې یو ملي کنفرانس جوړ شوی و.

په دغه ملي کنفرانس کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیر خان متقي، د اماراتي شرکتونو لوی ریاست رئیس مولوي احمد جان بلال، د افغانستان برېښنا شرکت پخواني عمومي اجراییوي رئیس محترم ډاکټر عبدالباري عمر، د ازبیکستان د انرژۍ وزیر محترم وزیر میرزاد محمدوف جرابیک ، د ترکمنستان د انرژۍ محترم وزیر سپاروف اناګیلدي او د

لسګونو ملي پانګوالو سربېره د ۲۲ هېوادونو پانګوالو او د نړیوالو بنسټونو استازو ګډون کړی و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کنفرانس ته په خپلو خبرو کې وویل، له نېکه‌مرغه افغانستان د لویو، متوسطو او کوچنیو پانګونو لپاره پراخ او لوی ظرفیتونه لري او د تولیدي منابعو د خامو موادو د کافي ذخایرو درلودلو له امله غني هېواد بلل کېږي. افغانستان د نورو زیرمو ترڅنګ د اوبیزې، بادي او لمریزې برېښنا پراخه منابع لري، چې له یادو منابعو ګټه اخیستنه نه یوازې افغانستان د برېښنا په برخه کې خودکفایۍ ته رسوي، بلکې نورو هېوادونو ته هم د انرژۍ د صادرولو ظرفیت رامنځته کوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، د افغانستان برېښنا سکتور د پراختیا له پاره د کورنیو او بهرنیو پانګوالو د جذب، په برېښنا سکتور کې د پانګونې موجودو فرصتونو د معرفي کولو، په دغه سکتور کې د ننګونو د څېړلو او د غوره حللارو وړاندې کولو او هر اړخیزو بحثونو په اړه د دغه کنفرانس جوړېدل مهم وبلل او هیله یې څرګنده کړه، چې دغه کنفرانس به د تطبیق وړ پایلو په ترلاسه کولو سره په ښه ډول پای ته ورسېږي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په خپلو څرګندونو کې وویل چې د نړۍ هېوادونه باید د پروژو پلې کېدو برخه کې د افغانستان ملاتړ وکړي څو د کارموندنې زمینه برابره او ځوانان په کار بوخت شي. هغه زیاته کړه چې دغه کنفرانس افغانستان او د ګاونډېیو، سیمې او نړۍ هېوادونو له پاره مهم دی او دا فرصت له کلونو جګړو او ناامنیو وروسته د افغانستان له پاره یو غنیمت دی.

د بهرنیو چارو وزیر په خپلې وینا کې وویل، د اسلامي امارت د متوازن سیاست په پایله کې هېوادونه په افغانستان کې پانګونه کوي. د لویو پروژو لکه ټاپي، کاسا

زر، ټاپ او افغان - ټرانس پلې کېدل د دې ښودنه کوي چې افغانستان د سیمې د وصل نقطه ده او له ټولو هېوادونو سره مثبتې اړیکې لري.

د برېښنا شرکت پخواني عمومي اجراییه رئیس وویل چې د نړۍ پرمختګ په برېښنا پورې تړلی او هېوادونه هڅه کوي چې څنګه د معیاري سیستم له لارې برېښنا تولید کړي. هغه زیاته کړه، په افغانستان کې د پانګونې ښه زمینه برابره شوې او د ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو پر مخ دروازې خلاصې دي څو د برېښنا د تولید، انتقال او د سب‌سټېشنونو د جوړولو په برخه کې کار وکړي.

د ازبیکستان د انرژۍ وزیر وویل چې دا یوه لویه غونډه ده او هېواد یې چمتو دی چې له افغانستان سره د برېښنا د تولید برخه کې همکاري وکړي. هغه زیاته کړه چې انرژي د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د همکاریو له پاره اساسي رکن دی.

## د کنفرانس موخې

د دغه کنفرانس موخې د افغانستان برېښنا سکټور کې د پانګونې د ورتیا او موجودو فرصتونو معرفي کول، په دغه سکټور کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو دوامداره جذب، په دغه سکټور کې د ستونزو پېژندنه او د مناسبو حللارو وړاندې کول، په برېښنا سکټور کې د تخصصي پوهې لوړول، د دولتي او خصوصي سکټور او نړیوالو برېښنایي بنسټونو ګډ کار او همغږي او د برېښنا د سیمه‌ییز اتصال له پاره د زمینې برابرول و.

د افغانستان برېښنا شرکت پخواني عمومي اجراییوي رئیس په خپلې وینا کې د کنفرانس موخو ته په اشاره وویل، د کنفرانس موخې پانګوالو ته د پانګونې فرصتونو معرفي کول، د تخصصي تجربو تبادله، د څو اړخیزو همکاریو زمینه برابرول او همدارنګه د ستونزو پېژندل او د حل‌لارو موندل دي.

## د ۹۴۰۷ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید تفاهم لیکونو او قراردادونو لاسلیک

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د «پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس» کې د افغانستان برېښنا شرکت او یو شمېر پانګوالو شرکتونو ترمنځ د ۹۱۲۳ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا د تولید او برېښنايي زېربناوو د جوړولو تفاهم لیکونه او د ۲۸۴ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا د تولید قراردادونه لاسلیک شول.

سربېره پر دې د ازبیکستان او د افغانستان برېښنا شرکت ترمنځ هم د ۲۵۰ میلیون ډالرو په پانګونې د سرخان پلخمري ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو، د دښت الوان سب سټېشن پراختیا، د ارغندۍ سب سټېشن پراختیا او همداراز تر شیخ مصري سب سټېشن پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځول او د دغه سب سټېشن پراختیا پروژو عملي چارې هم پیل شوې.

## له ازبیکستان سره د ۲۴۳ میلیون ډالرو په پانګونې د برېښنا د څلورو پروژو د قراردادونو لاسلیک

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۲۶مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او ازبیکستان ترمنځ د برېښنا څلورو پروژو قراردادونه لاسلیک شول. د دې قراردادونو د لاسلیک پر مهال د ازبیکستان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمودوف هم حضور درلود. په دې پروژو کې د ۱۰۰۰ میګاواټه په ظرفیت د سرخان – دښت الوان ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا لېږد مزي، د ۸۰۰ مېګاولټ امپیر په ظرفیت د ارغندۍ سب سټېشن پراختیا، د ۸۰۰ مېګاواټه په ظرفیت د کابل – شیخ مصري ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا لېږد مزي او د ۱۲۶ مېګاولټ امپیر

په ظرفیت د ننګرهار شیخ مصري سب سټېشن جوړولو پروژې شاملې دي، چې د ازبیکستان له لوري پرې شاوخوا ۲۴۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي. د دې پروژو په بشپړېدو سره به افغانستان له ازبیکستان څخه له ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ مېګاواټه پورې برېښنا ترلاسه کړي چې چارې به یې په ۱۸ میاشتو کې تکمیل شي.


د ازبیکستان له لوري د هېواد د برېښنا شبکې پراختیا، د سب سټېشنو جوړول او پراخول او د مزو لېږد په اوږد مهال کې د افغانستان د برېښنا شبکې له پاره ګټور دي، چې راتلونکې کې د افغانستان برېښنا شرکت له پاره د برېښنا د توزیع، تنظیم او د برېښنا د انرژۍ امنیت چارې اسانوي.

## د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکې ګټې اخیستنې ته سپارل


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د لړم په ۲۲مه نېټه د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارله. د پرانیستې مراسمو کې د چارو اداري لوړ پوړي مسؤولین، د افغانستان برېښنا شرکت پخوانی اجرايیوي رئیس محترم ډاکټر عبدالباري عمر، د پنجشیر والي محترم حافظ محمد اغا حکیم، علماء او قومي مشران هم موجود وو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د صنعت د پرمختګ له پاره برېښنا اړینه وبلله او ویې ویل، چې افغانستان له کونړ سیند نیولې د هلمند او فراه تر پراخو لمر لرونکو دښتو او د هرات او نیمروز تر چټکو بادونو پورې د برېښنا تولید له پاره بې شمېره سرچینې لري. هغه زیاته کړه، د برېښنا په برخه کې خودکفایی ته رسېدل د افغانستان اسلامي امارت په خپلو لومړیتونو کې نیولي او په دې برخه کې اساسي هڅې کوي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د برېښنا په برخه کې په خودکفاء کېدو سره به افغانستان د بې کیفیته وارداتو پر ځای باکیفیته توکي بهر ته صادروي او هېواد ته

به د پانګې راتلو دروازې پرانیستل شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ټولو سوداګرو او پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې د صنعت او په ځانګړې ډول د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه وکړي او اسلامي امارت ډاډ ورکوي چې هر ډول اسانتیاوې ورته برابروي. د برېښنا شرکت پخواني اجراییوي رئیس په خپلو خبرو کې وویل، له نړیوالو مرستو پرته د پارندې برېښنا تولید پروژه بشپړه شوه او راتلونکې کې به په کور دننه د نورو پروژو د پیل پرانیسته هم وشي. د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه څلور مېګاواټه برېښنا تولیدوي، چې تر ډېره به د دغه ولایت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزې ورسره حل شي. هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د پنجشېر پارنده برېښنا تولیدي فابریکې ګټې اخیستنې په اړه نظریات ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونو شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## د جوزجان ولایت قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیکېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د مرغومي میاشتې په دویمه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د جوزجان ولایت قوش تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیک شو.

په دې مراسمو کې د اوبو او انرژۍ وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور، د انرژۍ معین محترم ملا عبدالهادي یعقوب، د پایداره انرژیو عمومي رئیس محترم مولوي عبدالرحمن رحماني او د پروژې پلي کوونکي خصوصي شرکت مسؤولین هم موجود وو.

د پایداره انرژیو عمومي رئیس په خپلو خبرو کې وویل، د دې پروژې په بشپړېدو سره به د قوش تېپې او درزاب ولسوالیو نږدې ټول کلي د برېښنا له نعمته برخمن شي او د ټولنیزو خدمتونو د ښه والي، اقتصادي ودې او دوامداره پراختیا له پاره به زمینه برابره شي.

پر دغه پروژه شاوخوا یو میلیارد او ۸۸٦ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې چارې به یې په دریو کلونو کې بشپړې شي. په دې پروژه کې د ۸۵.۲۴ کیلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځول، په قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو کې د دوه سب سټېشنونو او دوه توزیعي شبکو جوړول شامل دي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې زرګونه کورنۍ له برېښنا برخمنې شي.

## هرات کې د برېښنا د یو شمېر لویو پروژو د چارو پیل او د ځینو ګټې اخیستنې ته سپارل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د مرغومي په څلورمه نېټه په هرات کې د ۳.۹۸ میلیارد افغانیو په ارزښت د برېښنا نهو لویو پروژو څخه د څلورو یې چارې پیل او پنځه نورې یې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د ګټې اخیستنې مراسمو کې د هرات والي محترم شیخ اسلام جار، د افغانستان برېښنا شرکت پخوانی عمومي اجراییوي رئیس محترم ډاکټر عبدالباري عمر، د هرات ځایي مسؤولین او یو شمېر پانګوال هم موجود و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلې وینا کې دغه پروژې د افغانستان د صنعتي او اقتصادي ودې له پاره مهمې وبللې او ویې ویل، چې د یادو پروژو پر مټ به د هرات ټولو صنعتي پارکونو ته ۲۴ ساعته برېښنا برابره، سوداګریز مرکزونه، کلیوالې سیمې او استوګنیز مرکزونه به له برېښنا برخمن او په کور دننه به د باثباته برېښنا خاوندان شو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا ډول ټولو هغو پانګوالو ته چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي، زیری ورکړ چې له یوې خوا به ورته پنځه کلن مالیات معاف کړي او په ورته وخت کې به د افغانستان برېښنا شرکت په هر ډول حالاتو کې دوی ته دایمي برېښنا هم ورسوي. هغه له ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو وغوښتل چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همدارنګه له ټولو هېوادونو وغوښتل چې له افغانستان سره د محدودونکو سیاستونو پر ځای تعاملي سیاستونه غوره او د دغه هېواد امنیتي ثبات ته د یو مهم فرصت په سترګه وګوري او نړیوال دې له اسلامي

امارت څخه پر ارزښتونو د تعامل کولو تمې نه کوي. د هغه په خبره، اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره متوازن سیاست غوره کړی او ټول تمرکز یې د افغانستان پر اقتصادي وده، امنیتي ثبات او غوره حکومتولۍ دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلې وینا په پای کې د قراردادي شرکتونو له مسؤولینو او تخنیکي ټیمونو څخه وغوښتل چې د نویو پیل شویو پروژو چارې په پوره کیفیت او ټاکلي وخت بشپړې کړي.

د هرات والي یادې غونډې ته وویل، هرات پراخو پراختیایي پروژو سره د کوچنی افغانستان بڼه خپله کړې. صنعتي برخه یې ورځ تر بلې غوړېږي او د برېښنا انرژۍ شتون به دا بهیر لا چټک کړي.


د افغانستان برېښنا شرکت پخواني عمومي اجراییوی رئیس په خپلو خبرو کې وویل، هرات کې د نویو پروژو په بشپړېدو سره به د دې ولایت د برېښنا پرچاوۍ ستونزه له منځه لاړه شي او زرګونو خلکو ته به برېښنا ورسېږي.

له ترکمنستان څخه د ۱۳۰ کیلومتره په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ لین غځول او په کرُخ، پشتون زرغون، اوبې او چشت شریف ولسوالیو کې د څلورو سب‌سټېشنونو جوړول هغه پروژې دي چې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د یادو پروژو له لارې ۴۰ زره کورنیو ته برېښنا رسول کېږي.


همدارنګه په نویو پیل شوو پروژو کې د پُل هاشمي سب‌سټېشن جوړول، د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌سټېشن پراختیا، د نورالجهاد سب‌سټېشن د بې لین ایجاد او همداراز د پُل هاشمي، نورالجهاد او د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌سټېشنونو ترمنځ د برېښنا انتقالي لین غځول شامل دي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د پورته پروژو په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې يې د نظرونه شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه:




## د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ ترمنځ د برېښنا د توليد د پنځو پروژو لاسليکېدل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګوني شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول.

د ترونونو د لاسلیکېدو پر مهال د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او برېښنا وزیر، د کانونو او پیټرولیم وزیر، د عزیزي گروپ مشر او د افغانستان برېښنا شرکت اجراییوي رئیس سربېره یو شمېر نور لوړ پوړي امارتي مسؤولین، د خصوصي سکټور او رسنیو استازي هم موجود وو. د دې ترونونو له مخې به د عزیزي انرژۍ پانگونې شرکت د کابل ولایت په نغلو سیمه کې ۱۰۰ مېگاواټه لمریزه برېښنا، د پروان ولایت په باریک اب سیمه کې ۱۰۰ مېگاواټه لمریزه برېښنا، په غزني ولایت کې ۱۳۰ مېگاواټه لمریزه برېښنا او همدارنگه په تخار ولایت کې ۱٦۵ مېگاواټه او په بغلان ولایت کې ۳۵۰ مېگاواټه د ډبرو سکرو برېښنا تولید کړي.

د برېښنا شرکت اجراییوي رئیس مولوي عبدالحق همکار په خپلو خبرو کې وویل، تولیدېدونکې برېښنا تقریباً د وارداتي برېښنا په کچه ده.

د عزیزي گروپ مشر محترم میرویس عزیزي په دې مراسمو کې وویل، برېښنا د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د پرمختگ له پاره خورا مهمه ده. د عزیزي په وینا، د دې برېښنا کوټونو ټول تجهیزات پېرل شوي دي. محترم عزیزي زیاته کړه، که برېښنا برابره شي، زرگونه فابریکې به فعالې او میلیونونه خلکو ته به د کار زمینه برابره شي. د هغه په وینا، په هرات کې د تاپي پروژې له بشپړېدو وروسته به په گاز چلېدونکی او ۳۰۰۰ مېگاواټه برېښنا تولیدوونکی حرارتي برېښنا کوټ هم جوړ کړي.

په هېواد کې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو او بشپړ امنیت راتلو وروسته د خصوصي پانگونې له پاره زمینه برابره شوه. همدا لامل دی چې عزیزي گروپ په افغانستان کې له راغلي فرصته په استفادې د لس میلیارد ډالرو په اندازه د پانگونې اعلان وکړ او ژمنه یې وکړه چې له بېلابېلو سرچینو به لس زره مېگاواټه برېښنا تولید کړي. دا پنځه ترونونه د هماغو ژمنو د پلي کېدو پیل و.

درېیم څپرکی

# د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سکټور



## اقتصادي کمېسیون کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د مهمو اقتصادي طرحو او پالیسیو تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د غویي په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. غونډې ته له اجنډا سره سم د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د هېواد د اقتصادي ودې په موخه بېلابېلې طرحې او پالیسۍ وړاندې شوې، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري د یوشمېر سپارښتنو په پام کې نیولو سره تائید شوې، چې لاندې مطالبو کې په لنډ ډول وړاندې کېږي.

## ځلورو ولایتونو کې د شپږو کرنیزو، نمایشي او ترویجي کمپلکسونو د طرحې تائیدي

اقتصادي کمېسیون ته د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري په ځلورو ولایتونو هرات، هلمند، ننګرهار او بلخ کې د شپږو کرنیزو، نمایشي او ترویجي کمپلکسونو جوړولو طرحه وړاندې شوه، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري د ځینو سپارښتنو په پام کې نیولو سره تائید شوه.

هرات، هلمند، ننګرهار او بلخ د هغو ولایتونو له ډلې دي چې ډېرې طبیعي سرچینې لري. د دې ولایتونو زیاتره اوسېدونکي په ولسوالیو کې ژوند کوي او عواید یې په کرنه او طبیعي سرچینو باندې ولاړ دي. اوبیزې ځمکې، للمي ځمکې، باغونه، طبیعي ځنګلونه او پراخه څړځایونه لري، چې د خلکو د عوایدو مهمې سرچینې دي. دغه راز، دغه ولایتونه د کرنې او مالدارۍ له پاره مناسب اقلیم لري. په همدې اساس دغه طرحه د دې ولایتونو له پاره جوړه شوې ده. دا شپږ کمپلکسونه به په ۴۴۷۹ جریبه ځمکه کې جوړ شي، چې د غله جاتو او صنعتي نباتاتو، میوو او سبزیو، مالدارۍ، طبیعي سرچینو او ځنګلونو په سکتورو پورې اړوند دي.

دغه طرح د اړوندو ولایتونو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاستونو په وسیله د ترویج د عمومي ریاست او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د سکټوري ریاستونو له لوري تطبیقیږي.

### د طرحې پایلې او متوقع اغېزې

د هېواد په ځلورو زونونو کې د کرنیزو، نمایشي او ترویجي کمپلکسونو جوړول به د نورو ترځنګ د هېواد بزګران د کرنې میکانیزه کولو ته تشویق او له دودیزې کرنې څخه به یې خلاص کړي. سربېره پر دې به لاندې مهمې پایلې هم ولري.

- د میوه لرونکو تجارتي باغونو زیاتوالی
- په شنو خونو کې د سبزیجاتو معیاري تولید
- د پروسس، درجه بندی، بسته بندی، ذخیره کولو او انتقال کیفیت کې ښه والی
- د کیفیت تضمین او د غذایي موادو مصؤنیت
- په تطبیق کېدونکو سیمو کې خلکو ته کار موندنه
- د بزگرانو د ظرفیت او د عوایدو لوړېدل
- د فارمداری د معیاري سیستم ترویج
- د کرنې او مالداری سکټور ته د پانگوالو تشویق او جذب
- د خاورې اصلاح او د چاپېریال ساتنې بهبود
- د کرنې، اوبو لگولو او مالداری برخه کې د نوې تکنالوژی ترویج او د داخلي تولیداتو ښه والی

## اقتصادي اغېزې

- د غنمو او جوارو په څېر د خوراکي موادو زیاتوالی او پایله کې یې د غذایي امنیت زیاتوالی
- للمي ځمکې په اوبیزو ځمکو بدلېدل او د کرنیزو محصولاتو زیاتېدل
- د صنایعو له پاره د اړتیا وړ خامو موادو تأمین او د کاري فرصتونو ایجاد
- د مهمو نباتاتو د تولید زیاتوالی
- د ملي او محلي اقتصاد پرمختگ

- د پستې، چهار مغزو، غلو دانو او صنعتي نباتاتو او نورو ګڼورو باغونو جوړول

## ټولنیزې اغېزې

- د غلو دانو، حبوباتو، د تیلي او صنعتي نباتاتو د تولید زیاتوالی
- د کاري فرصتونو د ایجاد له امله د ټولنیزو جرمونو کمېدل او په کرنه کې د ځوان نسل بوختېدل
- د غېر قانوني کډوالۍ او ځوانې بشري قوې د تېښتې مخه نیول
- د فقر او ټولنیز زیانونو کمېدل
- د افغانستان اسلامي امارت ته د خلکو خوشبیني او له سیاستونویې د خلکو رضایت
- د خصوصي سکټور او محلي ټولنو الهام اخیستل او پانګونه کول

سربېره په پورته یادو شویو اقتصادي او ټولنیزو اغېزو دغه طرحه نورې ډېرې اقتصادي، ټولنیزې او د چاپېریال اړوند مثبتې اغېزې لري، چې د افغانستان د هر اړخیز پرمختګ له پاره ډېرې ضروري دي.

## د چرګانو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ تائید

پورته د اقتصادي کمېسیون یادې شوې نوبتي غونډې ته د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د چرګانو سکټور د ځان بسیاینې پالیسي هم وړاندې شوه، چې له هر اړخیزې ارزونې وروسته تائید شوه.

دغه پالیسي د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د لارښوونې پر بنسټ چمتو شوې وه. د پالیسۍ لرلید د هېواد په کچه د چرګانو سکټور ځان بسیاینه ده.

## د پالیسۍ اړتیا

په نننۍ نړۍ کې د چرګانو سکټور د صنعت یو ډول باندې بدل شوی دی، ځکه د چرګانو ساتل د یو هېواد په اقتصاد او کار موندنه کې مهم رول لوبوي. د چرګانو ساتل د پروټینو ترلاسه کولو یوه ښه سرچینه ده. په دې اساس د چرګانو سکټور د پراختیا او ودې له پاره یوې هر اړخیزې پالیسۍ ته اړتیا لیدل کېده.

## د پالیسۍ موخې

- د چرګانو د تولید، واردولو او صادرولو د چارو او د هګو د محصولاتو او خوراکې تنظیم
- په هېواد کې د چرګانو سکټور متوازن انکشاف
- د چرګانو سکټور باکیفیته محصولاتو ته لاسرسی
- د کورنیو د عوایدو او ملي اقتصاد د کچې لوړول

د چرګانو سکټور په جوړې شوې پالیسۍ کې د وضعیت تحلیل، د تطبیق ساحه، پروسس، بازار موندنه، د اړوندو وزارتونو او کابل ښاروالۍ دندې او مسؤلیتونه، څارنه او نور موضوعات په تفصیل سره بیان شوي دي.

## د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ تائید

د لبنیاتو د ځان بسیاینې پالیسي د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د غوښتنې پر بنسټ د لبنیاتو د صنعت د پراختیا له پاره جوړه شوې ده. په وروستیو کلونو کې په هېواد کې یو شمېر سوداګرو په کلیوالي او یو شمېر ښاري سیمو کې د مالدارۍ، په ځانګړي ډول د تازه شیدو ترلاسه کولو او پلورلو په موخه د غواګانو فارمونو جوړولو ته مخه کړې ده. له دې امله په هېواد کې د لبنیاتو د تولیداتو محصول زیات شوی

چې هره ورځ په لسګونه زره لیتره شیدې بازار ته وړاندې کېږي او مستې، کوچ، پنیر، کورت او نور ترې جوړ او د هېواد په کلیوالو سیمو او ښارونو کې پلورل کېږي. د مالدارۍ او لبنیاتو سکتورونو د پراختیا له امله یوې پالیسۍ ته اړتیا وه، چې له نېکه مرغه اقتصادي کمېسیون دغه پالیسي تائید کړه.

## د پالیسۍ موخې او تفصیل

د پالیسۍ ځینې عمده موخې په لاندې ډول دي:

۱. په هېواد کې د لبنیاتو د تولید، پروسس او بسته بندۍ د چارو تنظیم

۲. د تازه شیدو د تولیدوونکو ملاتړ او تقویه

۳. صحي او باکیفیته لبنیاتو ته د هېوادوالو لاسرسی

د لبنیاتو د ځان بسیاینې پالیسي په درې عمده برخو (تولید، پروسس او بازار موندنې) وېشل شوې ده. د تولید په برخه کې د غواګانو له پاره د معیاري فارمونو جوړول او پراختیا ورکول، په اغېزناک او مناسب ډول د مصنوعي القاح خدمات وړاندې کول، شیدې ورکوونکو حیواناتو ته مناسب خوراک او د اغیزناکو او مناسبو صحي خدماتو وړاندې کولو تر څنګ ځینې نور اقدامات په کې شامل دي.

د پروسس په برخه کې د لبنیاتو د پروسس له پاره د معیاري فابریکو او د شیدو راټولولو له پاره د شبکو جوړول، د لبنیاتو د کیفیت د کنترول له پاره د لابراتوارونو جوړول، د شیدو تولیدوونکو د اتحادیو جوړول او پراختیا ورکول او هېواد ته د بې کیفیته پوډري شیدو د واردولو مخنیوي تر څنګ ځینې نور اقدامات په کې شامل دي.

د بازار موندنې په برخه کې د ملي معیارونو مطابق د لبنیاتو تولید، پروسس او بسته بندي، د پسرلنیو او خزاني نندارتونونو جوړول، د تولید، پروسس او بازار موندنې له پاره د معیاري زیربناوو جوړول، د خصوصي سکتور ملاتړ او هڅول او د معلوماتي

خپرونو جوړولو، وړاندې کولو او ترتیبولو په ګډون ځینې نور اقدامات شامل دي.

د پالیسۍ پر بنسټ، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د عامې روغتیا وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، مالیې وزارت، د معیار او کیفیت اداره، د مرکز او ولایتونو ښاروالۍ، د کرنې او مالدارۍ اطاق، غېر دولتي موسسې، د تازه شیدو تولیدوونکو او د ملي لبنیاتو اتحادیې د دې پالیسۍ عملي کوونکي دي، چې پالیسۍ کې د هر وزارت او ادارې رول واضح شوی دی.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته د دغې پالیسۍ د تطبیق او له اړوندو اړخونو سره د فعالیتونو د همغږۍ مسؤلیت ورسپارل شوی دی. سربېره پر دې، دغه وزارت د یادې پالیسۍ د ټولو تخنیکي برنامو په څارنه هم مکلف کړل شوی دی.

## په نباتي خوراکي غوړیو کې د ځان بسیاینې طرحې تائید

دغه طرحه هم د اقتصادي کمېسیون پورته یادې شوې نوبتي غونډې ته د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري وړاندې شوې وه، چې له هر اړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون د سپارښتنو په پام کې نیولو سره تائید شوه.

د خوراکي غوړیو د ځان بسیاینې طرحه د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې له اړینو طرحو ګڼل کېږي. د خوراکي غوړیو طرحه د رئیس الوزراء د عالي مقام د ۱۴۴۴/۲۴/۲ نېټې ګڼې حکم پر بنسټ چمتو شوه.

د طرحې په لومړۍ برخه کې د غوړ لرونکو بوټو د کښت په ډولونو بحث شوی، چې له مخې به یې په راتلونکو پنځو کلونو کې شاوخوا ۲۸۸ زره هکتاره ځمکه کې ٦ ډوله غوړ لرونکي بوټي وکرل شي. په دویمه برخه کې د کورني تولید په وړتیا او درېیمه برخه کې د غوړ لرونکو دانو او خامو غوړیو په وارداتو باندې څېړنه شوې.

په وروستۍ برخه کې د زیتونو په اړه تفصیلي بحث شوی. په افغانستان کې د زیتونو په سکټور کې د شته فرصتونو په ځانګړې توګه د ننګرهار کانال ته اشاره شوې ده. د ننګرهار په کانال کې د یو هکتار زیتونو د کښت لګښت او عواید په ډاګه کوي چې په دې برخه کې پانګونه ګټوره ده او ټول توکي یې په دې طرحه کې په تفصیل سره محاسبه شوي. په افغانستان کې د زیتون وده او د ننګرهار د کانال د سکټور په برخه کې مشخص وړاندیزونه شوي.

د طرحې لیدلوری د خوراکي غوړیو په برخه کې د افغانستان پر ځان بسیاینه او ماموریت یې د نباتي خوراکي غوړیو د داخلي تولیداتو زیاتوالی او په هېواد کې د غوړیو تولیدي شرکتونو وده ده.

د طرحې پر بنسټ، په راتلونکو پنځو کلونو کې تمه کېږي چې د غوړیو له پلوه ځان بسیاینه به ۳۰ سلنې ته ورسېږي. د پنځو کلونو په اوږدو کې به شرکتونه او کروندګر په مجموعي توګه ۸۱ میلیارد افغانۍ ګټه ترلاسه کړي، چې له دې ډلې به ۲۳ میلیارد افغانۍ (۲۸٪) د غوړیو او ۵۸ میلیارد افغانۍ (۷۲٪) به له نورو محصولاتو (۳۲ د مالوچو او ۲۶ له کنجاړې) ترلاسه کړي.

د طرحې پر اساس، د غوړ لرونکو بوټو کښت او پروسس به په ناخالص داخلي تولید کې په لومړي کال کې شاوخوا ۱۴۱ میلیون ډالر او په پنځم کال کې شاوخوا ۷۰۴ میلیون ډالر (۴٪) سلنه برخه ولري.

## هرات کې د پاشدان بند ګټې اخیستنې ته سپارل

د افغانستان اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته د نورو سکټورونو ترڅنګ د هېواد د اوبو مدیریت په لومړیتوب کې ونیوه او د هغو پروژو چارې یې پیل کړې



چې نیمګړې پاتې وې. په همدې موخه ډېرې هڅې وشوې او اسلامي امارت ډېرې لویې پروژې له ملي بودیجې تمویل کړې، چې له دې څخه یوه یې په هرات کې د پاشدان بند پروژه وه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۲۳مه نېټه د هرات ولایت په کرُخ ولسوالۍ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د اوبو او برېښنا مخکني وزیر محترم ملا عبدالطیف منصور، د هرات والي محترم نور احمد اسلام جار، د اسلامي امارت ویاند محترم مولوي ذبیح الله مجاهد، د هرات ځایي مسؤولینو او نورو هېوادوالو ګډون درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلې وینا کې وویل، افغانان په داسې حال کې د خپلواکۍ څلورمه کلیزه لمانځي چې اسلامي امارت په څلورو کلونو کې د اسلامي شریعت د تطبیق او د سیاسي او اقتصادي برخو په ډګر کې ګڼې لاسته راوړنې لري. د هغه په خبره، له همدې جملې یوه مهمه پروژه د پاشدان بند ده چې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشدان بند پروژه د هرات ولايت له پاره مهمه او حياتي وبلله او ويې ويل، په دې سره به په دغه ولايت کې د وچکالۍ اغېزې راکمې او د بزګرانو ستونزې به حل شي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل:

«تېر کال مې د دې پروژې د پاتې چارو د پيل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشدان بند پاتې چارې په ټول توان بشپړوي. له نېکه مرغه، دا دی د پاشدان بند پاتې چارې نن بشپړې سوې.»

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خبرو کې زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي وضعيت د ښه کېدو له پاره د ملي او سيمه‌ييزو پروژو ملاتړ کوي. په هرات ولايت کې د ټاپي پروژې د کارونو جريان ثابتوي چې اسلامي امارت په سيمه کې اقتصادي همغږي، متقابله همکاري او ثبات غواړي. د هغه په خبره، اسلامي امارت د افغانستان او سيمې د اقتصادي ثبات لپاره اقتصاد محوره پاليسي تعقيبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل: «اسلامي امارت غواړي له خپلو ټولو طبيعي سرچينو څخه سالمه استفاده وکړي او د چا د حق اخيستلو هوډ نه لري. موږ غواړو چې هم خپلې اوبه په سالم ډول مديريت کړو او هم د نورو ثابت حقوق ورکړو. د اوبو له مديريت  څخه مو موخه د خپل هېواد د اقتصاد پياوړي کول دي. په هېواد کې د بې وزلۍ، بې کارۍ او مهاجرت کچې راټيټولو لپاره د اوبو مديريت له اساسي کارونو څخه ګڼو.»

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو هېوادوالو ته د دې ستري پروژې د بشپړېدو مبارکي وويله او د اسلامي امارت له مسؤولينو، د پاشدان بند له انجينرانو، تخنيکي ټيمونو، کارګرانو او ټولو هغو کسانو يې مننه وکړه چې د دې بند په بشپړولو کې يې همکاري کړې ده.

## د نورو بندونو جوړول

د پاشدان بند ګټې اخیستنې مراسمو کې د اوبو او برېښنا مخکني وزیر محترم ملا عبدالطیف منصور وویل، هېواد کې د اوبو او برېښنا د څو نورو بندونو د جوړولو کار روان دی او د هېواد د روانو اوبو د کابو کولو له پاره به په بېلابېلو ولایتونو کې نور بندونه هم جوړ شي.


د هرات والي محترم مولوي نور احمد اسلام جار په خپلو خبرو کې وویل، هیله لري چې په راتلونکي کې د هرات – چشت او هرات – غور لویې لارې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د ښار په شمال کې د ټاپي او ټاپ پروژې په پلې کېدو کې دي. همدارنګه، د تورغونډۍ بندر د پراختیا، د فایبر نوري کرښې او د تورغونډۍ – هرات د ریل پټلۍ کار روان دی.

د اسلامي امارت ویاند محترم مولوي ذبیح الله مجاهد په خپلو خبرو کې وویل، غواړي چې ټول افغان وروڼه، چې له هېواده بهر دي، خپل هېواد ته راستانه شي او په هغو مهمو فرصتونو کې برخه واخلي چې افغانستان ورسره پرمختګ کوي.


د پاشدان بند د ۵۴ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو، د ۱۳ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو او دوه میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابروي.

هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې د پاشدان بند ګټې اخیستنې په اړه نظرونه ورکړي چې شمېر او سلنه یې دلته وړاندې کېږي.

امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه:




## اقتصادي کمېسيون له لوري غزني کې د سړې خونې جوړولو طرحې او سړو خونو جوړوونکو ته د پنځه کلن معافيت تائيدي

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسيون غونډه کې د غزني ولايت په مرکز کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د سړې خونې او کارخانې د جوړولو طرحه تائيد شوه.

افغانستان يو کرنيز هېواد دی، خو د سړو خونو د نشتوالي او ګاونډيو هېوادونو له لوري پر کرنيزو محصولاتو موسمي تعرفو لوړولو او سوداګريزو لارو بندولو يې ملي اقتصاد، کرنيز محصولات او بزګران له مالي زيانونو سره مخ کړي. د يادو ستونزو د مخنيوي په موخه هر هغه شرکت يا انفرادي متشبث چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي، پنځه کلن مالياتي معافيت ورکول کېږي.

## د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسي او د کبانو روزنې سکټور د پراختیا طرحې تائید

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. غونډې ته د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسي وړاندې او له بحث وروسته تائید شوه.

همدارنگه په دې غونډه کې د کبانو روزنې سکټور د پراختیا پر طرحه هم بحث وشو او تائید شوه. د دې طرحې له مخې به د هېواد په مختلفو سکټورونو کې د خصوصي سکټور د پانگونې له لارې په ٦٥٠٠ هکټاره ځمکه د کبانو د تولید او روزنې ۷۷۰۰ کوچنې، متوسط او لوی فارمونه جوړ شي. د دې طرحې په تطبیق سره به په مستقیم ډول ۵۰ زره او په غیر مستقیم ډول به ۲۵۰ زره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي.

## د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسۍ اساس

دغه پالیسي د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د شفاهي هدایت پر اساس او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د ۱۴۴۵/۱/۱۸ نېټې د ۷۳؛ ر ۲۵ گڼه مکتوب مطابق د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا په موخه جوړه شوې ده.

## لرلید

د کرنې او مالدارۍ سکټور متوازن انکشاف او پایداره توسعه، د غذایي امنیت او مصؤنیت تأمین

## موخې

* ✻ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په برخه کې د مروجو او اغېزناکو تحقیقي سیستمونو پراختیا
* ✻ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سکټورونو کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ملاتړ
* ✻ د اوبو لګولو مدیریت او پراختیا، د طبیعي سرچینو تنظیم
* ✻ د کرنې او مالدارۍ سکټور میکانیزه کول
* ✻ له کمي او کیفي نظره کرنیزو او حیواني محصولاتو ته د هېوادوالو لاسرسی

## د پالیسۍ اهمیت او اړتیا

په اوسنیو شرایطو کې، چې افغانستان له اقتصادي ننګونو، بېکارۍ، اقلیمي بدلونونو او غذایي ناامنۍ سره مخ دی، د کرنې او مالدارۍ سکټور د ودې او پراختیا له پاره یوې جامع او هدفمنې پالیسۍ ته ډېره اړتیا وه. دا سکټور نه یوازې د هېواد اقتصاد د ملاتیر جوړوي، بلکې د کاري فرصتونو د ایجاد، د کورنیو تولیداتو د زیاتوالي، پر وارداتو د تکیې کمولو او صادراتو د تقویت لوړ ظرفیت لري. د ډېرو ظرفیتونو د موجودیت له امله، دې سکټورونو د جوړښتي ننګونو، د زیربناوو د کموالي، اقلیمي تغیراتو او د اغېزناکې پانګونې د کموالي له امله مطلوبه وده نه ده کړې. دا پالیسي د کرنې او مالدارۍ د پایدارې پراختیا، د کورنیو تولیداتو د زیاتوال او د بزګرانو او مالدارنو د اقتصادي وضعیت د بهبود او د ننګونو د دقیق تحلیل، د فرصتونو د پېژندلو او د علمي او عملي حل لارو د وړاندې کولو په موخه جوړه شوه. د دې پالیسۍ په تطبیق سره هیله دا ده چې دا پالیسي به د افغانستان د غذایي ځان بسیاینې، متوازن انکشاف، د فقر او بېکارۍ کموالي او د هېوادوالو د ژوند کچې بهبود له پاره اغېزناکه واقع شي.

## د کبانو روزنې سکټور د پراختیا طرحه

د اقتصادي کمېسیون له لوري د «د کبانو د روزنې د پراختیا طرحه او د خصوصي سکټور د پانګونې فرصتونه» طرحه په هېواد کې د کبانو صنعت د لا ډېرې پراختیا په موخه تائید شوې چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري پلې کېږي.

## د طرحې موخې

د هېواد د اوبو له سرچینو څخه اغېزناکه استفاده، د کبانو غوښې د تولید د کچې لوړول، د کورنیو تولیداتو ملاتړ او د خصوصي سکټور پیاوړتیا د یادې طرحې مهمې موخې دي.

## د افغانستان د کبانو د اوسني وضعیت تحلیل

په افغانستان کې د کبانو د روزنې ټول صنعت د خصوصي سکټور له لوري پرمخ وړل کېږي. د معلوماتو له مخې، د ۱۴۰۴ کال تر وروستیو پورې په هېواد کې د کبانو تقریباً ۴٦۷۰ فارمونه وو. دغو فارمونو په کلني ډول ۱۱۴۰۰ میټریک ټنه غوښه تولیدوله. سربېره پر دې د هېواد د ازادو اوبو له سرچینو هم شاوخوا ۱٦۰۰ میټریک ټنه د کبانو غوښه تولیدوله، خو د هېواد نفوس او اړتیا ته په کتو د تولید دغه کچه کافي نه وه. همدا لامل دی چې په ځانګړي ډول د ژمي په موسم کې له ګاونډیو هېوادونو هم د کبانو ډېره غوښه واردېږي، چې له هېواده د اسعارو د وتلو لامل کېږي. په همدې اساس په افغانستان کې د کبانو د روزنې صنعت پراختیا له پاره ښه فرصت برابر شوی دی. د افغانستان اسلامي امارت له دې فرصته ګټه اخیستل غواړي، څو په هېواد کې د کبانو صنعت ته وده ورکړي.

## د کبانو روزنې له پاره فرصتونه

په جوړه شوې طرحه کې په افغانستان کې د کبانو سکټور کې د ځینو فرصتونو یادونه شوې ده. یو یې د مناسبو اقلیمي شرایطو موجودیت او د هېواد په ډېرو سیمو کې د سطحي اوبو شتون دی چې د دې سکټور د پراختیا له پاره مهم ګڼل کېږي. دویم یې د کبانو غوښې ته د خلکو د تقاضا زیاتوالی دی. دغه راز، په هېواد کې د کافي بشري سرچینو موجودیت، په دې برخه کې د خصوصي سکټور د پانګونې لېوالتیا او د فارمونو جوړولو له پاره د مناسبو ځمکو موجودیت نور هغه فرصتونه دي چې کولی شي په افغانستان کې د کبانو روزنې صنعت د پراختیا لامل شي.

## اقتصادي اغیزې

د کبانو د روزنې صنعت پراختیا د افغانستان په اقتصاد مثبت اغېز ښندلی شي. د کورنې تولید زیاتوالی به د کبانو د وارداتو اړتیا کمه کړي او له هېواده به د اسعارو د وتلو مخه ونیسي. دغه راز، د کبانو فارمونه او اړوند فعالیتونه به زرګونو هېوادوالو ته د کار فرصتونه رامنځته کړي. سربېره پر دې، د کبانو صنعت پراختیا سره به د کلیوالو سیمو اقتصادي فعالیتونه پیاوړي شي او د خلکو د عوایدو د لوړېدو لامل به وګرځي.

**څلورم څپرکی**

# د سوداګرۍ سکتور



## د معیار او کیفیت عالي شورا په مختلفو برخو کې ۳۰ معیارونه تصویب کړل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د معیار او کیفیت عالي شورا[۱] دریيمه غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري په ۲۴مه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، چې د معیار او کیفیت اداري لوی رئیس ملا فیض الله تمیم او د دې شورا دایمي غړو په کې حضور درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د شورا په غونډو کې د افغانستان تولیداتو پر کیفیت بحث کېږي او د ښه کېدو او تضمین په موخه یې معیارونه تصویبېږي. دا معیارونه تولیداتو ته نړیوال اعتبار ورکوي او په ورته وخت کې د

(۱) په ۱۴۰۴ کال کې د سټنډرډ عالي شورا نوم د معیار او کیفیت عالي شورا او د سټنډرډ ملي اداري نوم د معیار او کیفیت اداري ته بدل شو.

صادراتو په زیاتوالي کې هم مهم رول لوبوي.

د معیار او کیفیت اداري لوی رئیس د معیارونو په ارزښت خبرې وکړې او ویې ویل چې د معیارونو د تطبیق په صورت کې د انسانانو او حیواناتو روغتیا خوندي کېږي او د خوندي چاپېریال په رامنځته کولو کې هم مؤثر رول لري.

په غونډه کې د معیار او کیفیت اداري مسؤولینو خپل کلنی راپور وړاندې کړ. هغوی وویل، د معیاري تولیداتو په موخه یې په مختلفو برخو کې سلګونه معیارونه اړوندو تولیدي فابریکو، شرکتونو او ادارو ته معرفي کړي دي او له ٦١ تولیدي فابریکو او شرکتونو څخه یې نظارت کړی دی، چې د ځینو فابریکو او شرکتونو تولیدات د قناعت وړ او زیاتره یې پر معیار برابر نه و، چې د مسؤولینو له لوري ورته لازمې سپارښتنې شوې دي.

په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د تولیدي فابریکو او شرکتونو له تولیداتو څخه د دوامداره نظارت او د تصویب شویو معیارونو د بشپړ تطبیق په موخه به د معیار او کیفیت اداري په مشرۍ له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په همغږۍ تطبیقي پلان جوړ او عملي کړي. د معیار او کیفیت عالي شورا دې غونډه کې له هر اړخیز بحث وروسته د خوراکي توکو او کرنیزو محصولاتو، درملو او ارایشي لوازمو، ساختماني توکو، الیکترونیک او مخابراتو، نساجي او چرم، چاپېریال ساتنې، پلاستیک، طبي وسایلو، کانونو او د ځارویو د حلالې برخو کې ۳۰ معیارونه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري تصویب شول.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د معیار او کیفیت اداري ته د پورته تصویب شویو معیارونو په جدي توګه د بشپړ تطبیق سپارښتنه وکړه او دغه اداره یې مکلفه کړه چې د یادو معیارونو د تطبیق راپور وخت په وخت له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.

## د معیارونو ګټې

په تېرو درې کلونو کې د افغانستان د اسلامي امارت تر چتر لاندې د معیار او کیفیت اداري له لوري ګڼ معیارونه جوړ او د معیار او کیفیت عالي شورا ته د بحث او تصویب له پاره وړاندې شوي دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د معیار او کیفیت اداري څوغونډو کې د چاپېریال، روغتیا، د داخلي بازار د نظم او ملي اقتصاد د تقویې په موخه ګڼ معیارونه تصویب کړي دي، چې پلي کول یې د هېواد پر حیثیت او اقتصادي پرمختګ مهم اغېز پرېباسي.

په تولیداتو، صادراتو او وارداتو کې د منل شویو معیارونو او کیفیت پلي کول ډېرې ګټې لري، چې لاندې یې له یو څو څخه یادونه کوو:

### ۱- صادراتو ته لاره هوارول:

د معیارونو تطبیق دا یقیني کوي چې تولیدي توکي د نړیوالو اړتیاوو ته ځواب وایي. دا کار افغانستان ته دا فرصت برابروي چې خپلې کرنیزې، صنعتي او خدماتي لاسته راوړنې نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړي.

### ۲- د داخلي بازار نظم:

د کیفیت معیارونه د دې لامل کېږي چې په بازار کې یوازې د ښه کیفیت تولیدات ځای ونیسي او بې کیفیته توکي حذف شي. دا نه یوازې د خلکو روغتیا او خوندیتوب ته ګټه رسوي، بلکې د عادلانه رقابت زمینه هم برابروي.

### ۳- د تولیداتو یووالی:

کله چې د یوې فابریکې تولید معیاري وي، خلک به پرې باور ولري. د بېلګې په توګه، که د درملو، خوراکي توکو یا ساختماني موادو لپاره واحد معیار موجود وي، خلک به بې له شکه هغه واخلي او وکاروي.

## کازان کې د افغانستان – روسيې سوداګريز فورم پرانيستل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې فدارسيون د لومړي وزير مرستيال محترم الکسي اويرچوک د ۱۴۰۴ کال د غويي په ۲۶مه نېټه د کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم په څنډه کې د افغانستان – روسيې سوداګريز فورم پرانيست.




محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سوداګريز فورم د پرانيستې پر مهال وويل، د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې سياسي ثبات ټينګ شوی، اقتصادي فعاليتونو پراختيا موندلې، سوداګري پراخه شوې او د کورنيو پانګوالو تر څنګ بهرنيو پانګوالو هم په مختلفو سکتورونو کې پانګونه کړې او دا چاره په ښه ډول روانه ده. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د افغانستان بيارغونې په موخه په مختلفو سکتورونو کې لويې او کوچنۍ پروژې پيل شوې دي. د يادو پروژو چارې د اسلامي امارت تر څنګ د کورنيو او بهرنيو شرکتونو له لوري پر مخ وړل کيږي.

د رياست الوزراء قتصادي مرستيال وويل، اسلامي امارت د زېربنايي پروژو پر پيل سربېره د سوداګرۍ پراختيا ته هم پاملرنه کړې او غواړي سيمې او لرې پرتو هېوادونو

ته د افغانستان د صادراتو له پاره زمینه برابره کړي. روسیه د افغاني تولیداتو او محصولاتو له پاره یو ښه بازار دی. افغانستان په دې برخه کې د اسانه شرایطو د رامنځته کېدو غوښته کوي. اسلامي امارت چمتو دی چې له روسیې او منځنۍ اسیا سره د سوداګرۍ او ترانزیټ د پراختیا په موخه د سالنګ دویم تونل وباسي. په دې برخه کې د روسیې فدراسیون تجربې ته په کتو اسلامي امارت د سالنګ د دویم تونل ایستلو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان – روسیې لومړني سوداګریز فورم په پرانیستغونډه کې یو ځل بیا په شمال – جنوب دهلیز کې د افغانستان پر ونډې اخیستو او همداراز د افغان – ټرانس پروژې پر پیل او تطبیق کې د روسیې فدراسیون پر همکارۍ ټینګار وکړ او ویې ویل: «موږ لېواله یو چې افغانستان د دې دهلیز په تقویت او په سیمه‌ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري.»

ورپسې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي الکسي اویرچوک خبرې وکړې. هغه وویل، روسیه د باثباته او پرمختللي افغانستان طرفداره ده او دا د ټولې سیمې په ګټه بولي. د نوموړي په خبره، د افغانستان وضعیت د بهبود لوري ته روان دی او په کازان ۱٦م فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون ثابته کړه، چې افغانان په سوله کې ژوند غواړي او په سوله‌ییزه فضا کې د اقتصادي مسایلو پرمخ بیولو ته چمتو دي. هغه زیاته کړه، روسي شرکتونه چمتو دي چې له افغانستان سره د کانونو استخراج، اوبو بندونو جوړولو، برېښنا تولید، د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، د ترانسپورټي وسایلو تولید او همداراز سیمه‌ییز اتصال او سوداګرۍ کچې زیاتېدو په برخه کې ګډ کار وکړي.

ښاغلي اویرچوک وویل، د مسکو او کابل ترمنځ د ګډ سوداګریز مرکز د رامنځته کېدو موافقتنامه لاسلیک شوې، دوی هیله لري چې دا به د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ

نوي شرایط او له موجودو امکاناتو به د استفادې له پاره ښه زمینه برابره کړي.

په لیدنه کې د روسیې د ګمرکونو مسؤول هم حضور درلود. هغه وویل، د ځانګړو اسانتیاوو او په ګمرکي تعرفو کې د پام وړ تخفیفونو په پام کې نیولو سره چمتو دي چې له افغانستان څخه د کرنیزو محصولاتو واردات زیات کړي. هغه زیاته کړه، غواړي له افغانستان سره د سوداګریزو اصولو ساده کولو، د سوداګریزې بیروکراسۍ له منځه وړلو او په ګمرکونو کې د ځانګړې همکارۍ او کار کولو په موخه پروتوکول رامنځته کړي.

په غونډه کې د روسیې فدراسیون د ټرانسپورټ وزارت مرستیال د افغانستان له لارې د روسیې د ترانزیټ کچې زیاتېدو ته لېوالتیا وښوده او ویې ویل، په دې برخه کې د افغان – ټرانس پروژه ډېره مهمه ده، چې روسي او ازبیکستاني تخنیکي ټیمونه پرې ګډ کار کوي او هدف دا دی چې ژر یې عملي چارې پیل شي. په دې برخه کې اسلامي امارت له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ.

د افغانستان – روسیې سوداګریز فورم په پرانیست‌غونډه کې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال او د صنعت او سوداګرۍ وزیر هم حضور درلود. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وویل، د موټر جوړولو تاتارستاني شرکتونه چمتو دي چې په افغانستان کې کار وکړي. تاتارستان چمتو دی چې په دې برخه کې د حکومتونو په کچه د ګډې همکارۍ تړون له افغانستان سره لاسلیک کړي.

په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په برخه کې دا ډول اقتصادي فورمونه مهم وبلل او پر دوام یې ټینګار وکړ.

## د افغانستان او روسيې ترمنځ د پنځو تفاهمنامو لاسليک

د کازان فورم په څنډه د افغانستان-روسيې سوداګريز فورم د پرانيستغونډې په پای کې د افغانستان او روسيې ترمنځ په بېلابېلو برخو کې پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې. دغه تفاهمنامې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې فدراسيون د لومړي وزير د مرستيال محترم الکسي اويرچوک په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د غويي په ۲۶مه نېټه لاسليک شوې.

دغه تفاهمنامې د افغانستان د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د روسيې فدراسيون د ترانسپورټ وزارت ترمنځ د ترانسپورټ او ترانزيټ، د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ خونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پراختيا، د دواړو هېوادونو د يوشمېر لويو خصوصي شرکتونو ترمنځ په افغانستان کې د نفت او ګازو د اکتشاف، استخراج او تصفيې او همداراز د سيمه‌ييزې سوداګرۍ او صنعتي- لوجستيکي کمپلکس جوړولو په برخو کې وې.

## افغانستان ته د کازان غونډې اقتصادي ګټې

د کازان فورم، چې د روسيې او اسلامي نړۍ تر منځ د اقتصادي همکارۍ د پراختيا په موخه له تېرو شپاړلس کلونو راهيسې هر کال جوړېږي، د ګډون کوونکو هېوادونو تر منځ د اقتصادي فرصتونو شريکولو او پانګونې جلب او جذب له پاره يو ښه فرصت وي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ياد فورم کې د فورم د کوربه هېواد تاتارستان جمهوريت د ولسمشر رستم مينيخانوف، د موردوويا جمهوريت له ولسمشر ارتيوم زودنوف، په اقتصادي چارو د روسيې د لومړي وزير له مرستيال اليکسي اويرچوک او يو شمېر نورو مسؤولينو سره وکتل.

په دغو ناستو کې په هېواد کې د اقتصادي فرصتونو د موجودیت او په بېلابېلو سکټورونو کې د پانګونې په اړه ټولو اړخونو ته معلومات ورکړل شول. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو اړخونو ته روښانه کړه چې په افغانستان کې له لسیزو بې ثباتۍ وروسته بشپړ امنیت ټینګ شوی او د پانګونې او اقتصادي همکاریو له پاره ښه زمینه برابره شوې ده.

په ټوله کې افغانستان د کازان له غونډې ډېره اقتصادي ګټه ترلاسه کړه. مقابلو اړخو ته په افغانستان کې د پانګونې فرصتونه څرګند شول او په مشخصو برخو کې ترې د پانګونې او همکارۍ غوښتنه وشوه. مقابلو اړخونو په هېواد کې د پانګونې له پاره لېوالتیا وښوده او ژمنې یې وکړې چې په افغانستان کې به په ډېرو برخو کې پانګونه وکړي او اقتصادي همکاري به پراخه کړي.

اسلامي امارت د شویو ژمنو د پلي کېدو هیله لري. اسلامي امارت باور لري چې پانګونه او د اقتصادي همکاریو ټینګښت او پراختیا د سیمه ییز ثبات او د سیمې د اقتصادي ښیرازۍ لامل ګرځي او په دې اړه د سیمې د هېوادونو تر منځ همغږي او همکاري کول ډېر مهم دي.

## د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل

په کابل کې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري د افغانستان نړیوال نندارتون مرکز کې د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شوی و، چې د ۱۴۰۴ کال د غبرګولي له شپږمې څخه تر ۱۱مې نېټې پورې یې دوام درلود.

د دغه ننداړتون په پرانیستغونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د صنعت او سوداګرۍ د وزیر الحاج نورالدین عزیزي په ګډون د کابینې یوشمېر وزیرانو، د یوشمېر هېوادونو دیپلوماتانو او صنعت کارانو او پانګه والو ګډون درلود.

## د ملتونو د پرمختګ اساس

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د صنعت اوونۍ ځلورم ملي او نړیوال ننداړتون پرانیستغونډې ته د وینا پرمهال صنعت د هر ملت د پرمختګ اساس یاد کړ او ویې ویل، موږ د هغو هېوادونو شاهدان یو چې یوازې د صنعتي انقلاب له برکته یې خپل زېربنایي بنسټونه قوي کړي، بې کاري یې له منځه وړې او خپلو تولیداتو ته یې ښه مارکېټونه پیدا کړي دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د صنعت اوونۍ یوازې سمبولیک عنوان نه، بلکې دا د یوه حرکت، بدلون او قوي عزم څرګندونه کوي، چې موږ باید له وارداتي اقتصاد څخه تولیدي، صادراتي او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد لوري ته ولاړ شو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره سم د صنعت سکټور د پام وړ پرمختګ کړی. شاوخوا ۱۵۰۰ نوې فابریکې جوړې شوې، چې له امله یې نږدې اویا زره هېوادوالو ته د دایمي کار زمینه برابره شوې ده. افغانستان په ۱۳۸ صنعتي او تولیدي سکټورونو کې خودکفایۍ ته رسېدلی، دغه پرمختګ نه یوازې د بېکارۍ د کمولو په برخه کې مهم ګام بلل کېږي، بلکې د اقتصادي ثبات او پیاوړتیا لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د صنعتي کېدو لپاره په بېلابېلو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو جوړېدو ته لومړیتوب ورکړی، چې ژر به په صنعتي

ساحو کې صنعت کارانو ته د ځمکو د ملکیت سند د ورکړې شاهدان و اوسو. دا صنعتي پارکونه به نه یوازې د تولید لپاره چاپېریال برابر کړي، بلکې لسګونه زره هېوادوالو ته به د کار زمینه هم مساعده کړي.

## د هېواد د اقتصاد جوړولو اساسي ځواک

د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندراتون په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. دا مهال د برېښنا، کانونو، کرنې، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیا او ګڼو نورو سکتورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو عملاً پانګونې کړې او په دې برخه کې ورته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

محترم ملا صاحب صنعت کاران د هېواد د اقتصاد جوړولو اساسي ځواک وباله او د صنعت په برخه کې یې د هغوی د هڅو او نوښتونو ستاینه وکړه. هغه زیاته کړه، تاسې په خپلو تولیداتو کې د کیفیت، قیمت او کمیت تضمین راکړئ، زه له همدې ستېجه وعده درکوم چې د کورني تولید د ملاتړ په موخه به له بهر څخه پر ورته واردېدونکو اقلامو د خودکفایۍ په اندازه تعرفه لوړه کړو.

## له کورنیو تولیداتو د اسلامي امارت ملاتړ

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستغونډې ته په وینا کې وویل چې د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د صنعت ودې او د صنعت کارانو او کورنیو تولیداتو ملاتړ ته ژمن دی او لازمې اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په وینا، هغه سوداګر او صنعت کاران چې هېواد ته راستنېږي، ځینې ځانګړې اسانتیاوې ورته په پام کې نیول شوې دي. هر سوداګر او

صنعت کار چې په نورو هېوادونو کې تولیدي فابریکه لري او هېواد ته یې انتقالوي، تر پنځو کلونو له پاره د مالیاتو له ورکړې څخه معاف دي او هر صنعتکار کولای شي له هر ډول مالیې پرته د افغانستان لاس دوه موټر هم له ځان سره انتقال کړي.

مولوي عبدالسلام حنفي د هېواد له ټولو سوداګرو او صنعت کارانو څخه وغوښتل چې د اموالو په تولید او تورید کې دې نړیوالو معیارونو او کیفیت ته جدي پاملرنه وکړي.

د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي په خپلو خبرو کې وویل، د افغانستان ټول تولیدات معیاري او باکیفیته دي او موږ غواړو چې د اسلامي امارت له پالیسیو او د نورو له تجربو څخه په ګټې اخیستنې سره افغانستان په یوه پرمختللي او صنعتي هېواد بدل کړو. د صنعت او سوداګرۍ محترم وزیر سوداګرو، پانګه والو او صنعت کارانو ته د اسلامي امارت د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ او له پانګه والو څخه یې وغوښتل چې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي او د هېواد په ځان بسیاینه کې دې خپل مسؤلیت ترسره کړي.

د پرانیستغونډې په پای کې د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو او مسؤولینو د نندارتون له بېلابېلو برخو څخه لیدنه وکړه.  په دغه نندارتون کې په ۷۰۰ غرفو کې د بېلابېلو سکټورونو کورني تولیدات او محصولات لکه خوراکي او غیر خوراکي توکي، د ښځو لاسي صنایع، غالۍ، نوشابې، برېښنایي وسایل او د کور لوازم ننداري ته وړاندې شوي وو.

## د معیار او کیفیت عالي شورا کې د نفتي توکو په برخه کې د ۵۷ معیارونو او ازمایښتي کړنلارو تصویب

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د معیار او کیفیت څلورمه فوق‌العاده غونډه د ۱۴۰۴ کال د غبرگولي په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، دا فوق‌العاده غونډه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د دې حکم پر بنسټ چې: «د معیار او کیفیت اداره او د بې کیفیته تېلو د مخنیوي هیئت په گډه افغانستان ته د واردېدونکو تېلو لپاره په لسو کاري ورځو کې نوی نورم جوړ کړئ او موږ ته یې راولېږئ.» جوړه شوې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، په هېواد کې د اقتصادي ثبات او د عامو هېوادوالو د روغتیا خوندي ساتلو په موخه اسلامي امارت د بې‌کیفیته وارداتو د کنټرول له پاره یو لړ مهم او گټور گامونه پورته کړي دي. دا هڅې نه یوازې د داخلي بازار کیفیت ته وده ورکوي، بلکې د مصرف کوونکو باور هم پیاوړی کوي.

محترم ملا صاحب د معیار او کیفیت ارزښت ته په اشارې سره وویل، اقتصادي ثبات ته د رسېدو او پر ځان بسیا افغانستان له پاره معیار او کیفیت بنسټیز ارزښتونه دي. معیاري کول نه یوازې د صنعت، سوداگرۍ، کرنې او تولیداتو د کیفیت تضمین کوي، بلکې دا د صادراتو زیاتولو، د مصرف کوونکو د حقوقو خوندیتوب او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي له پاره یوه حیاتي اړتیا ده.

### د معیارونو برخه کې د منظمو پالیسیو جوړول

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د معیار او کیفیت عالي شورا په څلورمه فوق العاده غونډه کې وویل، د افغانستان اسلامي امارت د معیار او کیفیت عالي شورا

له لارې هڅه کړې چې د هېواد په کچه د معیارونو په برخه کې منظمې پالیسۍ جوړې او یو همغږې، شفاف او د اعتبار وړ سیستم رامنځته کړي، څو د هېواد ټول سکټورونه ترې ګټه واخلي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د معیارونو د تطبیق کمېټې ته سپارښتنه وکړه، څو د معیار او کیفیت عالي شورا له لوري تصویب شوي معیارونه او د ازمایښت کړنلارې په ښه ډول تطبیق کړي. همداراز خصوصي سکټور ته هم سپارښتنه وشوه، څو په خپلو تولیداتو او وارداتو کې معیارونو او د معیار او کیفیت عالي شورا له لوري د تصویب شویو معیارونو تطبیق ته جدي پاملرنه وکړي او خپل راپور دې د ریاست الوزراء له اقتصادي معاونیت سره شریکوي. د معیار او کیفیت شورا په دې فوق العاده غونډه کې د نفتي توکو په برخه کې شپږ معیارونه او ۵۱ ازمایښتي کړنلارې تصویب شوې. دغه معیارونه د ډیزلو، پټرولو، مایع ګاز او پایدار کاندنسات ګاز اړوند وو، چې تصویب یې د نفتي توکو د کیفیت د لوړولو په لور مهم ګام بلل کېږي.

## اقتصادي کمېسیون کې د داخلي معیارونو اړوند د ۱۲ مسودو او ۱۱ ازمایښت طریقو تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د کب په پنځمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. د اقتصادي کمېسیون په دې نوبتي غونډه کې د معیار او کیفیت ادارې اړوند د داخلي معیارونو له پاره وړاندې شوې ۱۲ مسودې او د ازمایښت ۱۱ طریقې هم تائید شوې. دغه مسودې د ساختماني توکو، برېښنايي او طبي وسایلو او سامان آلاتو، نساجي، پلاستیک، لبنیاتو او همدارنګه د ازمایښت طریقې بیا د خوراکي او کرنیزو محصولاتو اړوند وې.

**تخار او کندوز کې د سپین زر سوداګریزو مارکیټونو جوړېدو د چارو پیل**

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وري په لسمه نېټه په تخار کې د سپین زر سوداګریز ښارګوټي د جوړېدو د چارو پرانیسته وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو څرګندونو کې د هېواد د اقتصادي ودې له پاره د خصوصي سکټور پانګونه مهمه وبلله او ویې ویل چې د افغانستان اسلامي امارت د دې سکټور ملاتړ کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، دغه ښارګوټی به د هېوادوالو پر اقتصادي او ټولنیزه هوساینه مثبت اغېز ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزو ته به یې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي.

د تخار په سپین زر ښارګوټي کې له ۲۰۰۰ زیات دوکانونه جوړېږي. په دغه ښارګوټي کې د غله جاتو، مېوو، پیازو، کچالو، ساختماني توکو او درملو سوداګریز مارکیټونه په پام کې نیول شوي دي.

دغه راز، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ۱۴۰۴ کال د وري په لسمه نېټه په کندوز کې هم د سپین زر سوداګریزو مارکیټونو د جوړېدو چارې پرانیستې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کندوز سپین زر سوداګریزو مارکېټونو د جوړېدو چارو پرانیست‌غونډې ته وویل، د عامه سکټور ترڅنګ د خصوصي سکټور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې مهم جز تشکیلوي. هغه زیاته کړه، د پانګونې له مخې په هېواد کې دننه د ناخالص تولید او صادراتو کچه زیاتېږي، صنعت وده کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد عاید زیاتیږي چې دا پر

ټولنیزه هوساینه مثبت تاثیر لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې له اړوندو شرکتونو وغوښتل چې خپل فعالیتونه د ټولو معیارونو په پام کې نیول سره په پوره صداقت او شفافیت ترسره کړي. د سوداګریزو مارکیټونو جوړول د هېواد په اقتصادي وده مثبت اغېز پرېباسي. د بېکارۍ کچې کموالي، د سوداګرو ترمنځ نږدې همغږي او صادراتو او وارداتو کې د اسانتیاوو او وخت د سپما ترڅنګ نورې ډېرې ګټې لري.

## اقتصادي کمېسیون له لوري په مختلفو ولایتونو کې د سوداګریزو مارکیټونو طرحو تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د لړم په څلورمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته له اجنډا سره سم په مختلفو ولایتونو کې د شاوخوا دوه میلیارده او ۲۷۴ میلیون افغانیو په ارزښت د پانګونې لس طرحې د تائید له پاره وړاندې شوې، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تائید شوې. په دې طرحو کې د تخار په خواجه غار ولسوالۍ کې دوه پوړیز سوداګریز مارکېټ ، د جوزجان په مرکز شبرغان کې د پنځه پوړیز سوداګریز مارکیټ، د خوست په مرکز کې د لس پوړیز سوداګریز مارکیټ، د لغمان په مرکز مهترلام کې د پنځه پوړیز مارکیټ، د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې د اته پوړیز سوداګریز مارکیټ او د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د اته پوړیز سوداګریز مارکیټ جوړول شامل دي. په دې طرحو کې د کابل ښار په لسمه ناحیه کې د ۲۰ پوړیزې سوداګریزې او استوګنیزې ودانۍ جوړول، د ننګرهار ولایت د مرکز جلال اباد په وچ ډنډ سیمه کې د څمکتلي سوداګریز مارکیټ جوړول او د هرات په اسلام کلا سوداګریز بندر

کې د سوداګریز کمپلکس جوړول، چې د اړتیا وړ ټول امکانات به ولري، شامل دي. د هرات ولایت په ګذرې ولسوالۍ کې په ۱۵۰ جریبه ځمکه د میوه لرونکو ونو د پالنې د قوریې جوړول بله طرحه وه چې په دې غونډه کې تائید شوه.

د یادونې وړ ده چې د پانګونې پورته ذکر شوې طرحې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري په هراړخیز ډول څېړل شوې او د تائیدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوې وې.

## د آریانا افغان هوایي شرکت د هوایي کارګو د انتقالاتو په اړه پرېکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د لړم په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسؤولینو سره د هوایي کارګو له لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د سوداګریزو توکو، په ځانګړې توګه د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه دویمه تعقیبي غونډه جوړه شوې وه.

د غونډې په پیل کې د اړوندو وزارتونو او ادارو مسؤولینو په لومړۍ غونډه کې د ورسپارل شویو کارونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو له وړاندې کولو وروسته د آریانا افغان هوایي شرکت ته هدایت وشو، چې فی کیلو صادراتي سوداګریز توکي په یو ډالر او فی کیلو وارداتي سوداګریز توکي په ۸۰ سېنټه انتقال کړي. همدارنګه د مالیې او ترانسپورټ او هوایي چلند وزارتونو ته هدایت وشو، چې د آریانا افغان هوایي شرکت ته په خپلو فیسونو کې ۹۰ سلنه تخفیف ورکړي. دغه راز، د اریانا افغان هوایي شرکت ته هدایت وشو، چې څومره ژر ممکنه وي یوه کارګو الوتکه هم وپېري.

د افغانستان اسلامي امارت له پاکستان سره د لارو بندېدو له امله د افغان سوداګرو له پاره د لا ډېرو بدیلو لارو موندلو هڅې وکړې، څو سوداګر په اسانۍ او له ځنډ او خنډ پرته خپل سوداګریز توکي انتقال کړي او پر یوه هېواد متکي پاتې نه شي.

## د مالیې وزارت او D.P. World شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼې لاسلیکېدل

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د ۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۱٦مه نېټه د ریاست الوزراء په اقتصادي معاونیت کې د پانګونې شرطپاڼه لاسلیک شوه. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس مفتي عبدالله عزام په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو ته وویل، دغه شرطپاڼه به هغو تړونونو او بهرنۍ پانګونې ته لار هواره کړي، چې له مخې به یې د هېواد سوداګریز بندرونه عصري او په نوې ټکنالوژۍ سمبال شي. ښاغلي عزام زیاته کړه، د یادې شرطپاڼې په رڼا کې به راتلونکي تړونونه د دې وړتیا ولري، چې په اړوندو بندرونو کې د سوداګریزو توکو د انتقال له پاره تأسیسات پراخ، عملیاتي او مدیریتي چارې به د پرمختللو تجهیزاتو پر مټ ترسره او ټول فعالیتونه به د نړیوالو معیارونو مطابق ترسره کېږي.

د دې شرطپاڼې پر بنسټ به په لومړي پړاو کې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د حیرتان بندر او په دویم پړاو کې به د افغانستان او پاکستان د فرضي کرښې پر سر د تورخم بندر په عصري وسایلو سمبال او زېربنایي چارې به یې له نړیوالو معیارونو سره سمې عیارې شي. ورپسې به دا لړۍ د هېواد نورو لوژستیکي لیکو، اقتصادي زونونو او ملي پروژو ته پراختیا پیدا کړي.

## بلخ کې د سوداګریز مارکيټ جوړولو چارو پیل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۲۹ مه نېټه په بلخ کې د یوه سوداګریز مارکیټ د کار د پیل په مراسمو کې د خبرو پرمهال د سیمې او نړۍ له هېوادونو وغوښتل چې د تحریمونو او بې ځایه فشارونو پرځای دې له اسلامي امارت سره اقتصادي اړیکې نرمې او پراخه کړي. نوموړي زیاته کړه چې په سیمه کې یو هوسا او پیاوړی افغانستان د نورو هېوادونو په زيان نه دی، بلکې د نورو هېوادونو له هوسایني او پیاوړتیا سره مرسته کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د سیمه ییز او نړیوال مشارکت په برخه کې په هر اړخیز اقتصادي او سیاسي اصالت باور لري، مګر دا چې لویو ارزښتونو او اصولو ته متقابل احترام موجود وي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زیاته کړه د عامه او خصوصي مشارکت او یا نورو قراردادونو له مخې له خصوصي سکټور سره د سترو اوږد مهاله پروژو په برخه کې د اسلامي امارت تعامل د دې واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې د داخلي او بهرنۍ پانګونې له پاره زمينه مساعده ده او هر څوک کولی شي چې له دې فرصته ګټه واخلي.

په مزارشریف کې اته پوړیز سوداګریز مارکېټ چې د ۷۴۳ میلیونه افغانۍ په پانګونه د ارشاد،حج او اوقاف وزارت په ۶۰۰ متره مربع ځمکه جوړېږي، ۸۷۰ دوکانونه، څلور رستورانتونه، یو مېلمستون، جومات او پارګېنګ په کې په پام کې نیول شوي دي. د دغه مارکېټ ساختماني چارې به په دوه کلونو کې بشپړې او هر کال به د امارت خزانې ته ۴۳ میلیونه افغانۍ د کلنۍ اجارې په توګه ورکول کېږي.

پنځم څپرکی

# د صنعت سکتور



## په صنعتي ساحو کې صنعت کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ پیل

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري د ۱۴۰۴ کال د غبرګولي په اوومه نېټه په صنعتي ساحو کې صنعت کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ پیل شوه. په هغو مراسمو کې چې په همدې مناسبت په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې جوړ شوي و، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر محترم عطاءالله عمري او صنعت کارانو او پانګوالو ګډون کړی و. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپله وینا کې وویل، د صنعت وده د یو هېواد د اقتصادي خودکفایۍ، ټولنیز ثبات او د بې کارۍ کچې راټیټولو له پاره تر ټولو مؤثره طریقه ده. له همدې امله، د افغانستان اسلامي امارت هدف دا دی

چې د خصوصي سکټور له پاره داسې چاپېریال برابر کړي، څو هغوی په ډاډ سره پانګونه وکړي، فابریکې جوړې او د هېواد د تولیدي ځواک برخه وګرځي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا، د خصوصي پانګې د جلب او جذب او همداراز د صنعتي ساحو د مدیریت، ساتنې او مراقبت په موخه د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري د صنعتي ساحو قانون توشیح شوی دی. دا قانون په صنعتي ساحو کې صنعت کارانو او پانګوالو ته د صنعتي فعالیتونو د ترسره کولو له پاره لازمې زمینې او اړوندې نورې اسانتیاوې مساعدوي، څو له یوې خوا هېوادوالو ته کاري فرصتونه پیدا شي او له بلې خوا د هېواد په اقتصادي وده او پراختیا کې د پام وړ لاسته راوړنې ولرو.

## صنعت کارانو ته د ځمکې د ورکړې په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حکم

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند صنعت کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش غونډه کې وویل، د صنعتي ساحو جوړولو له پاره د ځمکو د ورکړې په اړه عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حکم کړی، څو د نوي منظور شوي قانون، چاپېریال ساتنې او ښاري ماسټر پلان مطابق د کابل په څلورو خواوو کې دوه دوه زره جریبه ځمکه، په ننګرهار، کندهار او بلخ ولایتونو کې شل شل زره جریبه ځمکه، په کندوز ولایت کې لس زره جریبه ځمکه او په پاتې نورو ولایتونو کې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک له پاره په هر ولایت کې زر جریبه ځمکه، د کوچني صنعت او تشبثاتو له پاره په هر ولایت کې له لسو څخه تر پنځوس جریبه ځمکه ځانګړې او وسپارل شي.

## د فولادو صنعت کې پر ځان بسیا کېدنه

غونډې ته د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي په خپلو خبرو کې وویل، افغانستان د فولادو په صنعت کې پر ځان‌بسیا شوی. تر کومې مودې پورې به موږ او تاسو د بل هېواد له محصولاتو کار اخلو او افغانستان ته به یې راوړو؟ ممکن هغه هېواد پرېکړه وکړي، چې نور یې نه پلوري، وایي به خپله اړتیا لرم. موږ باید پر خپلو پښو ودرېږو.د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر عطاءالله عمري په خپله وینا کې وویل:« هر څه چې له بهره راځي، په بدل کې یې زموږ له جېبه پیسې وځي، خو هغه څه چې زموږ په کور کې تولیدېږي، د هغې پیسې زموږ په جېب کې ګرځي، یعنې د خپلو افغانانو په جېب کې ګرځي. نو ځکه هڅه په‌کار ده، چې د تولیداتو او ځان‌بسیا په برخه کې باید د ژوند ټول وسایل، اړتیاوې، خوراک او پوښاک موږ خپله پوره کړو او پر ځان بسیا شو.»

د غونډې په پای کې ۹۱ شرکتونو ته د ٦٥٠ جریبه ځمکې د وېشلو سندونه ورکړل شول.

## کابل کې د تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیسته


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمریز کال د چنګاښ په ۳۰مه نېټه په ملي پراختیا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیستل شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تولیدي فابریکو د دغه کمپلکس بیا فعالول د داخلي تولیداتو او صنایعو د ودې او پراختیا په برخه کې بنسټیز ګام وباله او زیاته یې کړه، چې په دې سره به پر بهرنیو تولیداتو د افغانستان تکیه راکمه او د کورني صنعت په پیاوړتیا او پراختیا کې به د پام وړ مرسته وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د توليدي فابريکو دغه کمپلکس کې به ډېرو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي، د سيمه ييزو او بهرنيو بازارونو په نسبت به هېوادوالو ته په ارزانه بيه توليدات وړاندې شي او په لويه کې به دغه کمپلکس د هېواد د ملي اقتصاد په تقويه کې مؤثر رول ولوبوي.


محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ټولو پانگوالو او تجارانو وغوښتل چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. د هغه په خبره، په افغانستان کې د هر ډول لويو، متوسطو او کوچنيو پانگونو له پاره ښه زمينه برابره شوې ده. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلې وينا په پای کې د ملي پراختيا شرکت له مسؤولينو منته وکړه چې دغه توليدي فابريکې يې له ٦٠ کلن ځنډ وروسته بيا فعالې کړې او له هغوی يې په ټينگار وغوښتل چې هېوادوالو ته باکيفيته توليدات وړاندې کړي.

د توليدي فابريکو دغه کمپلکس اوسمهال د قوش تېپې کرنيزو کمپلکسونو له پاره د ماشين الاتو او کرنيزو وسايلو، د صنعتي او کوچنيو فابريکو ماشين الاتو، ترانسپورټي وسايطو، فلزي عناصرو، برقي وسايلو، مختلفو پرزه جاتو او د کانالونو او اوبو بندونو د دروازو د قطعاتو په شمول ۱۰۵ ډوله توليدات لري، چې يو شمېر يې ننداري ته وړاندې شوي وو.

امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو
د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو
د نظرونو سلنه:




## د لس زره ټنه کلني ظرفيت په درلودلو سره د مميزو د پروسس فابريکې پرانېستل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د زمري په اتمه نېټه د کابل ولايت په استالف ولسوالۍ کې د مميزو پروسس فابريکه پرانيستل شوه.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خپله وينا کې وويل، اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم ځانګړې پاملرنه کړې او د کرنيز اقتصاد د ودې په هدف د اوبو مديريت بېلابېلې پروژې پيل شوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، اسلامي امارت د سيمې او نړۍ هېوادونو ته د کرنيزو محصولاتو د

صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي، دغو محصولاتو ته یې د بازارموندنې په موخه نندارتونونه جوړ کړي او پر هغو وارداتو یې تعرفې لوړې کړې، چې په کور دننه تولیدېږي.



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې همداراز اسلامي امارت د کرنې سکټور د پیاوړتیا له پاره د کورنیو کرنیزو محصولاتو کارولو ته لومړیتوب ورکړی، د اوبو لګولو سیستمونو د ښه والي، سړو خونو د ایجاد او د پروسس او بسته بندۍ خونو د جوړولو په برخه کې هم پرمختګ شوی. محترم ملا صاحب بهر ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو پر کیفیت او بسته‌بندۍ ټینګار وکړ او دا یې د افغانستان اعتبار او سوداګریزو اړیکو له پاره مهم وبلل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د سوداګرۍ کچې زیاتېدو لپاره پر سیمه‌ییز اتصال ډېر تمرکز کړی او له نیکه‌مرغه اوسمهال د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا مونډلې چې پرمټ یې له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې او پراخې شوې دي. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د لاجوردو دهلیز په بشپړ ډول فعال شي او په دې اړه یې د ایکو سازمان په وروستۍ غونډه کې هم د دغه دهلیز له ښکېلو هېوادونو سره

خبرې کړې دي، څو افغانستان د اروپا بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.

د دغه فابریکې د پرانیستې پر مهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په اقتصادي وده کې د خصوصي سکټور او پانګوالو رول مهم وباله او ویې ویل، چې پانګوالو ته یې په مختلفو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. هغه زیاته کړه، ټول پانګوال کولی شي پر کرنه او صنعت سربېره، د کانونو، انرژۍ، مخابراتو، ترانسپورټ او خدماتو په برخو کې هم پانګونه وکړي.


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکې مسؤولینو د پانګونې او د فعالیت د پیل هرکلی وکړ او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. محترم ملا صاحب د دې فابریکې له مسؤولینو وغوښتل چې د کمیت پر ځای کیفیت او معیاري پروسس او بسته‌بندۍ ته لومړیتوب ورکړي.

## د ممیزو د پروسس فابریکې ګټې


محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په استالف ولسوالۍ کې د ممیزو د پروسس فابریکې د فعالیت پیل د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په برخه کې مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به د سیمې اقتصاد په حرکت راشي، صادرات به معیاري بڼه غوره کړي او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي، چې دا د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کولی شي. افغانستان د یو کرنیز اقتصاد لرونکي هېواد په توګه اړ دی چې له خپلې اړتیا اضافه توکي بهر ته صادر کړي. د دې له پاره صنعتي فعالیتونه او د فابریکو جوړول مهم دي. د سمون د ممیزو د پروسس فابریکه په ۱۲۸ جریبه ځمکه جوړه شوې، ۸ میلیون ډالر پانګونه پکې شوې او په کلني ډول د ۱۰ زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د دغه فابریکې له لوري پروسس او بسته‌بندي شوي ممیز به روسیې، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، هند، کاناډا، امریکا، برېټانیا او د ختیځې اسیا هېوادونو ته صادر شي.

هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې د ممیزو د پروسس فابریکې د پرانیستې په اړه نظرونه ورکړي چې شمېر او سلنه یې دلته وړاندې کېږي.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:




## د غوري سیمنټو فابریکې د درېیم فاز د جوړېدو چارو پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وږي په نهمه نېټه په بغلان کې د غوري سیمنټو فابریکې د درېیم فاز د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې دننه د سیمنټو تولید او په دې برخه کې خودکفایی ته د رسېدو له پاره د دا فابریکه مهمه وبلله او ویې ویل، صنعتي کېدل د هر هېواد د لویو اهدافو په سر کې قرار لري. هغه هېوادونه چې په مختلفو برخو کې تولیدي فابریکې لري، نه یوازې په کور دننه د هېوادوالو اړتیاوې پوره کوي، بلکې د اضافي تولید له امله صادرات هم

کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، تولیدي فابریکې د هېواد د ملي تولید او ملي عوایدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې اساسي رول لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ووېل، افغانستان تر ډېره پر بهرنیو وارداتو متکي دی او د ملي بودیجې زیات رقم هم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهر واردېدونکي توکي له یوې خوا قیمته تمامېږي او له بلې خوا پایداره او ډاډمنه سرچینه نه ګڼل کېږي. د هغه په خبره، د هېواد په داخل کې د تولید دا ډول فابریکې کولی شي، چې په تدریجي ډول پر بهرنیو وارداتو د هېواد اتکا راکمه او د یو تولیدي افغانستان پر لور اساسي ګامونه واخیستل شي.

## د غوري سیمنټو فابریکې درېیم فاز ګټې

د غوري سیمنټو فابریکې د درېیم فاز د تولید په پیل سره به د هېواد د سمینټو اړتیا لویه برخه په کور دننه پوره شي، صنعت به پراختیا پیدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنیوی وشي، د ودانیزو چارو په تسهیل او تسریع او د سیمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته شي، ډېرو هېوادوالو ته به کار پیدا او په لویه کې به د صنعتي افغانستان پر لور مهم ګام واخیستل شي.


افغانستان د سیمنټو په برخه کې په نورو هېوادونو متکي دی، خو د افغانستان اسلامي امارت هڅه کړې چې په تدریجي ډول له دغې تکیې ځان خلاص او د خپلو تولیداتو له لارې افغانستان خودکفایۍ ته ورسوي. د غوري سیمنټو فابریکې د درېیم فاز د چارو د پیل پرانیستې یو اساسي هدف هم همدا دی.

افغانستان د ډېرو سیمنټو د تولید ظرفیت لري. اسلامي امارت غواړي چې د افغانستان د نورو سکټورونو ترڅنګ د سیمنټو په سکټور کې ځان بسیاینې ته ورسوي او بیا اضافي تولیدات نورو هېوادونو ته صادر کړي، څو افغانستان د سیمنټو په صادراتي هېواد بدل شي.


د غوري سيمنټو فابريکې پر دريېم فاز ۸٦.۸ ميليون ډالر لګښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې د ملي پراختيا شرکت له لورې بشپړې شي. د غوري سيمنټو فابريکه به د دې فاز د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سيمنټو د توليد وړتيا پيدا کړي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د غوري سيمنټو فابريکې د دريېم فاز د چارو پيلېدو په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې يې د نظرونو شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز پرانیسته

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۲۸مه نېټه هرات ولایت ته د خپل سفر پرمهال په هرات صنعتي پارک کې د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې د دویم فاز پرانیسته وکړه. د پرانیستې مراسمو کې د هرات والي محترم شیخ مولانا اسلام جار، امارتي مسؤولین او د خصوصي سکټور استازي موجود و.





محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره سیمه ییزو او د نړۍ ډېرو هېوادونو له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا له پاره عملي ګامونه اخیستي او دا هڅې د لا پراخېدو په حال کې دي او زیاته یې کړه، اسلامي امارت د صنعت ودې ته ځانګړې پاملرنه کړې او په همدې موخه یې په کور دننه د برېښنا تولید او وارداتي برېښنا لویې پروژې پیل کړې دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.


د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې په دویم فاز ۲۰ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې په ورځني ډول د ۵۰۰ ټنه اوسپنې د پروسس وړتیا لري.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د کابل فولادو اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز د چارو پیلېدو په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونو شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## هرات کې د پامیر المونیمي قطیو تولیدي فابریکې د جوړولو چارو پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د مرغومي میاشتې په څلورمه نېټه د هرات ولایت په صنعتي پارکونو کې د پامیر المونیمي قطیو تولیدي فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده. دا په افغانستان کې د المونیمي قطیو د تولید لومړنۍ فابریکه ده چې ۱۲۰ میلیون ډالر پانګونه پې کې کېږي. دغه شرکت په ۱٦ جریبه ځمکه جوړېږي او ۱۷۰۰ هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر کړي.

د بنسټ ډبرې ایښودو مراسمو کې د هرات والي محترم شیخ اسلام جار، د فابریکې مسؤولینو او یو شمېر صنعتکاراتو او سوداګرو هم ګډون درلود.

د فابریکې د مسؤولینو په وینا، د دې فابریکې جوړولو سره به کورنی تولید وده وکړي، کاري فرصتونه به رامنځته او په وارداتو به تکیه راکمه شي. دغه راز، د هرات اقتصاد به هم ورسره پیاوړی شي.

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د خصوصي سکټور د پانګونې ملاتړ کوي او په دې برخه کې یې صنتعکارانو او سوداګرو ته اسانتیاوې برابرې کړې دي.

## اقتصادي کمېسیون کې بهرنیو پانګوالو ته د اقامې د ورکړې موضوع تائیدي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې ته، چې د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۱۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې له یو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته موضوع تائید او په دې اړه تاکل شوې

کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې د ورکړې وخت په کټه‌ګوریو وویشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

د اقتصادي کمېسیون دا اقدام نه یوازې بهرنیو پانګوالو ته د قانوني اوږد مهاله حضور اسانتیا برابروي، بلکې هغوی ته دا باور هم ورکوي چې په اوږد مهاله توګه په افغانستان کې اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي. بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د اقامې د ورکړې اسانتیا په هېواد کې د پانګونې کچه لوړوي او بهرني پانګوال افغانستان ته راتګ ته هڅوي. د دوی د راتګ او پانګونې له امله افغانستان ته بهرنۍ پانګه راځي، پروژې پیل او کاري فرصتونه ورسره ایجادېږي. د اقتصادي کمېسیون دا پرېکړه په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ له پاره نوی باب پرانیزي، چې له پلي کېدو او د بهرنیو پانګوالو له راتګ سره د هېواد اقتصادي پرمختګ باندې ژور اغېز کولی شي.

شپږم څپرکی

# د بېکارۍ کچې کمولو له پاره د اسلامي امارت هڅې



## بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د زمري په شپږمه نېټه په انټر کانټیننټل هوټل کې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل په مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه‌والي او بېکارۍ کچې په راټیټولو کې مؤثره وبلله او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت له تېرو څلورو کلونو راهیسې هڅه کړې څو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، په هېواد کې د مختلفو پروژو عملي کارونه روان دي او


له نورو هېوادونو سره سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو پراختیا موندلې ده. دې ټولو د هېواد د کار په بازار مثبت تاثیر کړی او ډېر کاري فرصتونه یې ایجاد کړي. د هغه په خبره، سربېره پر دې اسلامي امارت هڅه کړې څو له بېلا بېلو لارو چارو په استفادې په هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي،چې یوه لار یې په قانوني ډول بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو لېږل دي او له نیکه‌مرغه دا پروسه پیل شوه. محترم ملا عبدالغني برادر خوند وویل، په بهر کې د کاري فرصتونو ایجاد به له کوربه هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ته لا ډېره پراختیا ورکړي، اړیکې به نږدې او د افغانستان نړیوال اعتبار به لوړ کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، په پرمختللو هېوادونو کې د افغان کارګرانو کار کول دوی ته دا فرصت ورکوي چې نوي مهارتونه زده او له نوې ټکنالوژۍ سره بلد شي او هېواد ته له راتګ وروسته یې د هېواد په ګټه وکاروي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې د کمولو له پاره جدي هڅې کړي او غواړي هیوادوالو ته هوسا او خوشاله ژوند برابر کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مسؤولینو مننه وکړه، چې قطر ته یې د افغان کارګرانو د قانوني لېږلو زمینه برابره کړه. د دغه وزارت له مسؤولینو یې همدا راز وغوښتل چې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي او له قطر هېواد څخه یې هم مننه وکړه چې په دې برخه کې یې همکاري وکړه او افغان کارګران قبلوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نورو هېوادونو هم وغوښتل چې د افغان کارګرانو قانوني منلو ته زمینه برابره او د هغوی له استعداد او مهارتونو ګټه واخلي.

## بهر ته د افغان کارګرانو د لېږد ګټې


د افغانستان اسلامي امارت او قطر ترمنځ د ۲۰۰۰ ماهرو او مسلکي افغان کارګرانو د لېږلو هوکړه شوې وه، چې د ۱۴۰۴ کال زمري په اوومه نېټه یې په مختلفو ولایتونو

کې د نوملیکنې پروسه پیل شوه. واک ته له رسېدو وروسته اسلامي امارت هڅه کړې چې هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي. په کور دننه د مختلفو پروژو پیل د دې هڅو ځرګند ثبوت دی. خو دا چې په نورو هېوادونو کې هم له کاري فرصتونو استفاده وشي او په غیر قانوني ډول بهر ته د هېوادوالو د تګ مخه نیول شوې وي، نو اړتیا وه چې ماهر او مسلکي کسان نورو هېوادونو ته واستول شي. نورو هېوادونو ته د افغان کارګرانو تګ د هېواد له پاره ګڼې اقتصادي ګټې لري. هېواد ته د بهرنیو اسعارو راتګ زیاتېږي او د هېواد په اقتصادي وضعیت مثبت اغېز کوي، سیاسي او کلتوري اړیکې ورسره پراخېږي او افغان کارګران نوې مهارتونه زده کوي. هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې پیل په اړه نظرونه ورکړي چې شمېر او سلنه یې دلته وړاندې کېږي.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:





امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



اووم څپرکی

# ترانسپورټ سکتور



## کابل ولایت ارغندۍ ترانسپورټي ترمينل د چارو پرانيسته

په یو هېواد کې د سوداګرۍ د پرمختګ، د سیمه ییز اتصال د پیاوړتیا او خلکو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د ترانسپورټ سیستم منظموالی او پراختیا ډېر مهم دي. له نېکه مرغه، د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ترانسپورټي سیستم د پراختیا هڅې کړي.

د دې له پاره چې د هېواد ترانسپورټي چارې لا منظمې او نامنظمې ترانسپورټي شبکې یو واحد ځای ته راټولې شي، نو د ترمینلونو جوړېدل یوه اړتیا ده. اسلامي امارت دغه اړتیا درک کړه او د هېواد د ترانسپورټي سیستم د ښه منظم کېدو په موخه یې د ځینو ترمینلونو د جوړېدو چارې پیل کړې. له دغو ترمینلونو څخه یو هم په کابل ولایت کې د ارغندۍ ترانسپورټي ترمينل دی چې د کابل ولایت په

پغمان ولسوالۍ کې جوړېږي.

په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په درېیمه نېټه د کابل پغمان ولسوالۍ د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل چارې پرانیستې. د پرانیستې مراسمو کې د ترانسپورټ او هوايي چلند مخکني وزیر ملا حمیدالله اخوندزاده، د خصوصي سکټور استازو او د سیمې یو شمېر اوسېدونکو حضور درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد د ترانسپورټي زېربنا د پراختیا په برخه کې د ارغندۍ ترمینل جوړول مهمه وبلل او ویې ویل چې د ترانسپورټي زېربناوو رغول او پراخول د یو هېواد اقتصادي ودې او د داخلي او سیمه ییز اتصال له پاره ډېر مهم او اساسي گام وي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، په افغانستان کې د جگړو او فساد له امله د ترانسپورټ سکټور ته پام نه دی شوی، بلکې شته زېربنا د ټیټ کیفیت له امله تخریب شوې، عامه ملکیتونه د اشخاصو له لوري غصب شوي او د لویو لارو او سړکونو حریمونه کوچني شوي دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند گډونوالو ته په ترانسپورټي او مواصلاتي زېربناوو کې پانگونه، د غصب شویو عامه ملکیتونه بېرته راگرځول، د سړکونو او لارو د اصلي حریم تشخیصول او رغول د افغانستان اسلامي امارت اساسي او مهمې ملي موخې وگڼلې.

## د ترمینل گټې

د ترمینل د جوړېدو سره به هېوادوالو ته ترانسپورټي اسانتیاوې رامنځته شي، د انتقال اړوند چارې به چټکې شي، ترانسپورټي لگښتونه به راکم شي، ترافیکي ستونزې به کمې، د هېوادوالو وخت به سپما او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره شي.

د ارغندۍ ترمینل به په شاوخوا ۹۰۰ جریبه ځمکه د یو میلیارد او ۲۸۵ میلیونه افغانیو په لګښت په دوه کلونو کې جوړ شي. د دغه ترمینل لګښت د افغانستان د ملي پراختیا له بودیجې ورکول کېږي، چې د جوړېدو چارې یې یو خصوصي شرکت ته سپارل شوې دي.


د جوړوونکي شرکت د رئیس په وینا، دا ترانسپورټي ترمینل به د عمومي او خصوصي ترانسپورټ په برخه کې د یو عصري مرکز په توګه فعالیت وکړي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد ترمینل په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونو شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارو پیل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۳مه نېټه د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه.

د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي او د کور او ښار جوړولو مخکښي وزیر محترم حمدالله نعماني په ګډون یو شمېر لوړ پوړو امارتي مسؤولینو او پانګوالو هم ګډون درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل – بګرام سړک د کابل ښار له مهمو ننوتونکو لارو څخه وباله او ویې ویل، چې دا سړک کابل ښار له پروان او نورو شمالي ولایتونو سره نښلوي. هغه زیاته کړه، دا سړک د نوي کابل ښار له اساسي ترانسپورټي زېربناوو څخه دی، چې د ښاري پراختیا، ټولنیزو فعالیتونو او اقتصادي اړخه مهم بلل کېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، له بدمرغه افغانستان په تېر کې په ډېرو سیاسي احزابو، قومي، سمتي او ژبنیو اجزاوو ویشل شوی و، چې د ملي مشترکاتو د پیاوړي کولو په برخه کې یې لوی اکثریت له لاسه ورکړی و. د هغه په خبره، اسلامي امارت د دې ستونزو د حل له پاره جدي هڅه کوي څو دا ټول بې مفهمومه تقسیمات له منځه یوسي او افغانان په داسې اسلامي او واحد ملي دریځ کې راټول کړي، چې د افغانستان ستري ګټې پکې خوندي وي. هغه وویل، په دې برخه کې یو بنسټيز کار تر شېږم صنف پورې د مدرسې او مکتب د نصاب توحید دی چې اسلامي امارت وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو هېوادوالو غږ وکړ، چې د نورو له ړاند تقلید څخه لاسي واخلي، د هغوی تر اغېز لاندې رانشي او واقعیتونه غلط تفسیر نه کړي. د هغه په خبره، افغانستان د افغانانو کور دی او هرڅوک دلته په ارامه ژوند

کولی شي، خپل هېواد ته راتللی او دلته پانگونه کولی شي. هغه وویل: «موږ نه د چا مخه نېولې ده او نه د اسلامي امارت ظرفیت دومره کوچنی دی چې هره فردي او جزوي مسئله جدي ونیسي.»

## افغانستان سره مثبت تعامل د وخت اړتیا

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل – بگرام سړک د پرانیستې مراسمو کې د سیمې او نړۍ پر هېوادونو غږ وکړ، چې له افغانستان سره مثبت تعامل د اوسني وخت اړتیا ده او د سیمه ییز او نړیوال اتصال د پیاوړي کولو او مشترکو پراختیایي اهدافو د تعقیب مهم رکن دی. د هغه په خبره، له دې حقیقت څخه سترگې پټول د مشترکو اساسي موخو تعقیب او ترلاسه کول کمزوري کوي او شته بالقوه فرصتونه په لوی لاس ضایع کوي. ټول هېوادونه د خپل جغرافیوي موقعیت، هوایي حریم، کاري قوې، خامو موادو او صادراتو او وارداتو له اړخه یو بل ته اړ دي او دا اړتیاوې هغه وخت په سمه توگه پوره کېدلی شي، چې د نړۍ هېوادونه د رسمي اړیکو په چوکاټ کې د تعامل جرأت وکړي، چې دا کار د ټولو په گټه دی.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو هېوادونو وغوښتل، چې هر څوک باید د افغانستان له سرتاسري امنیت، اقتصاد محوره سیاست، د نورو هېوادونو په چارو کې د نه لاسوهنې، د سیاسي او اقتصادي تعامل پیاوړې ارادې او نورو ورته فرصتونو څخه لازمه گټه واخلي او هڅه ونه کړي چې رامنځته شوي فرصتونه په تهدیدونو بدل شي.

د نوي کابل ښار اړوند د کابل – بگرام عمومي سړک شاوخوا ۴۳ کیلومتره اوږدوالی او سل متره سور لري. د یاد سړک د ٦.٢ کیلومتره برخه چې شاوخوا ۵۰ متره سور به ولري، په قرارداد ورکړل شوه او ټولټال به پرې څه باندې ۴۵۵ میلیون افغانۍ لگښت راشي او د سړک پاتې برخه به په راتلونکو کلونو کې په قرارداد ورکړل شي.

د اسلامي امارت اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ په هېواد کې د لویو لارو او سړکونو پراختیا ته پاملرنه شوې، ځکه دا د اقتصادي فعالیتونو له پاره ډېر مهم دي. د ترانسپورتي زېربناوو پراختیا نه یوازې هېوادوالو ته د تګ راتګ اسانتیا برابروي، بلکې د سوداګرۍ، پانګونې او ښاري پراختیا له پاره هم اساسي اهمیت لري.

د کابل - بګرام سړک جوړېدل د نوي کابل ښار د پراختیا او ارزښت لوړېدو له پاره هم مهم دي. د دې سړک په جوړېدو سره به د نوي کابل ښار پراختیا او هلته د پانګونې د زیاتېدو هیلې لا زیاتې شي.

اتم څپرکی

# بانکي سکټور



## د سوداګریزو بانکونو له لوري د عام المنفعه پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیکېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د سوداګریزو بانکونو له لوري د ټولګټو پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیک شو.

دغه سند د اقتصادي کمېسیون د کاري طرزالعمل د دویمې مادې د پنځمې فقرې پر اساس جوړ شوی، څو په قانوني ډول د سوداګریزو بانکونو د ونډې اخیستو له لارې د ټولګټو پروژو تمویل ته زمینه برابره شي. د دغه سند موخې په ټولګټو پروژو کې د ونډې اخیستو او د دې پروژو د تمویل له پاره د اسانتیاوو رامنځته کول، د

هېواد دننه د سوداګریزو بانکونو له پاره د پانګونې فرصتونو برابرول او د سوداګریزو بانکونو د عوایدو د زیاتوالي له پاره د زمینې برابرول دي.

د دغه میکانیزم له مخې به د مالیې وزارت له اړوندو سکټوري ادارو ټولګټې پروژې غواړي او دغه وزارت به یې مالي موډلونه ترتیبوي. د افغانستان بانک به د ټولګټو پروژو په تمویل او تطبیق کې سوداګریز بانکونه ونډې اخیستو ته هڅوي.

نهم څپرکی

# خواړه او درمل



**د سنو فارما، ملي شفاء او T.G.L درمل جوړولو فابریکو ستاینغونډه کې د اقتصادي مرستیال ګډون**

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت کې د درملو تولیدي فابریکو په ستاینغونډه کې ګډون وکړ، چې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د کابینې غړي او نور امارتي مسؤولین، د درملو تولیدي شرکتونو مسؤولین، د خصوصي سکټور او د رسنیو استازي هم یادې ستاینغونډې ته بلل شوي وو. دغه ستاینغونډه د ۱۴۰۴ کال د غویي میاشتې په ۳۰مه نېټه د عامې روغتیا په وزارت کې جوړه شوې وه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شویو مراسمو ته وویل، باکیفیته درمل له صحي اړخه د سالمې انساني ټولنې ضمانت کوي او بې کیفیته درمل بیا د انسانانو روغتیا ته زیان رسوي. په دې برخه کې په پوره اخلاص، ژمنتیا او امانتدارۍ سره د مسؤلیت ترسره کول د ټولو دخیلو اړخونو اساسي مسؤلیت دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، که په هېواد کې د درملو تولیدي فابریکې له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم درمل تولید کړي، دا به نه یوازې لویه لاسته راوړنه وي، بلکې پر وارداتي درملو به د هېواد تکیه راکمه او په دې برخه کې به موجوده تقاضا په کور دننه پوره شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، دا چې د درملو د تولیدي فابریکو له جملې یوازې درېیو فابریکو ته د باکیفیته او معیاري تولید له امله له نړیوالو اصولو سره سم د جي‌اېم‌پي سرټېفیکېټونه ورکول کېږي، دا د یادو فابریکو د مسؤولینو لپاره ستره لاسته راوړنه ګڼم او له خپله اړخه ورته مبارکي وایم.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر وارداتي درملو د افغانستان تکیه د ملي اقتصاد په زیان وبلله او ویې ویل، وارداتي درمل له یوه لوري په لوړ قیمت تمامېږي او له بل لوري له هېواد څخه په زیاته اندازه د اسعارو د وتلو عامل هم ګڼل کېږي. دې مهمې اړتیا ته په پام یې د درملو له تولیدي فابریکو وغوښتل چې له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د درملو کیفیت او کمیت ته پوره پاملرنه وکړي.

## د روغتیا سکټور کې د پانګونې غوښتنه او له بې کیفیته وارداتو ډډه

په ستاینغونډه کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې نور به یې په امارتي ادارو کې د اقتصادي چارو اړوند موضوعاتو پروسې لا ساده، منظمې، چټکې او لنډې شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، په دې اړه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د چارو ادارې په مشرۍ یوې

کمېټې ته دنده سپارلې، څو په دې برخه کې منظم طرزالعمل جوړ کړي. له ټولو پانګوالو يې وغوښتل شول چې د نورو سکټورونو تر څنګ په صحت سکټور کې هم پانګونه وکړي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له ټولو امارتي ادارو وغوښتل چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب د حکم مطابق له کورنيو توليداتو څخه استفاده وکړي، خپلو معياري طبي مصنوعاتو ته اولويت ورکړي او په تدارکاتي پړاونو کې دې چارې ته جدي پاملرنه وکړي.

د رياست الوزراء اداري مرستيال، محترم مولوي عبدالسلام حنفي وويل، هېواد ته دې د بې کيفيته درملو او خوراکي توکو له واردولو څخه په کلکه ډډه وشي او هر څوک چې هېواد کې بې کيفيته درمل او خوراکي توکي توليدوي او يا يې له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته واردوي له قانوني چلند سره به مخ شي.

د عامې روغتيا وزير محترم مولوي نور جلال جلالي په لومړي ځل د درملو توليد برخه کې د داخلي شرکتونو دغه نوښت، يعنې د جي ايم پي تصديق ترلاسه کول د روغتيا سکټور کې ستر او هيله بښونکی ګام وباله او ويې ويل، په دې سره به روغتيا برخه کې داخلي توليد زيات، اقتصادي برخه به پياوړې او روغتيا سکټور به په تدريجي ډول د ځان بسياينې لور ته ولاړ شي.

د ستاينغونډې په پای کې د سنو فارما، ملي شفاء او ټي جي ايل درمل جوړولو توليدي فابريکو ته د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت له لوري د معياري درملو د توليد له امله د جي ايم پي نړيوال اعتبار لرونکي سرټيفيکېټونه ورکړل شول. دا هغه سند دی چې له مخې يې بهرنيو هېوادونو ته صادرات کولی شي.

لسم څپرکی

# زیربنا



## اقتصادي کمېسیون کې د بام هرات تفریحي کمپلکس د طرحې تائید

د افغانستان اسلامي امارت له لوري په هېواد کې د خصوصي سکټور له لوري پانګونې ته ښه زمینه برابره شوې. پانګوال په ډاډه زړه او خوندي چاپېریال او له اداري فساد څخه پاک ماحول کې په هېواد کې د پانګونې له شته فرصتونو څخه استفاده کوي.


اسلامي امارت د حکومت ترڅنګ د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د خصوصي سکټور ونډه مهمه بولي او کورني او بهرني پانګوال یې پانګونې ته هڅولي او د اسانتیاوو او امتیازاتو په ورکړې سره یې ترې غوښتي چې په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له فرصتونو استفاده وکړي.

په هرات کې د خصوصي سکټور له لوري د بام هرات تفريحي کمپلکس جوړولو طرحه اقتصادي کمېسيون ته وړاندې شوې وه، چې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په غونډه کې ياده طرحه تائيد شوه.


د دغې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد تفريحي کمپلکس د جوړولو په موخه څه باندې يو ميليارد افغانۍ پانګونه کوي، چې شاوخوا څلورو زرو کسانو ته به د کار زمينه برابره کړي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د بام هرات تفريحي کمپلکس طرحې د تائيد په اړه نظرونه ورکړي چې لاندې ګراف کې يې د نظرونه شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو شمېر:





امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



## د کابل ولایت مقام مخې ته د هوايي پُل د جوړېدو د چارو پیل

پلازمېنه کابل د هېواد ګڼ نفوسه ښار دی. ډېر هېوادوال د کاري فرصتونو او سوداګریزو چارو له امله دې ښار کې مېشت شوي دي، خو د ښار ډېرې برخې غېر پلاني او نامنظمه پراخه شوې دي او ښار چې کوم ماستر پلان درلود، په سمه بڼه پلي شوی نه دی. د ماستر پلان د نه تطبیق او ښاري پراختیا د نه رامنځته کېدو اصلي لاملونه د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وړاندې په دې ښار کې د فساد او زورواکۍ موجودیت و. له دې امله ده چې ښار کې بې نظمي ډېره ده او ښاریان له ګڼو ترافیکي ستونزو سره مخ دي.



واک ته له رسېدو وروسته اسلامي امارت د کابل ښار د پراختیا او منظم والي په موخه ځینې مهم ګامونه اخیستي دي. د ځینو سړکونو پراختیا، د نویو سړکونو او د هوايي پلونو جوړولو ته يې توجه کړې ده، چې په دې سره به په ښار کې ترافیکي ګڼه ګوڼه کمه او د ښاریانو ډېرې ستونزې به حل کړي. په همدې موخه د کابل ښاروالۍ له لوري د کابل ښار په ځینو سیمو کې د ځمکې لاندې سړکونو او هوايي پلونو چارې پیل شوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د مرغومي په نهمه نېټه د کابل ولایت مقام مخې ته د موټرو د تګ راتګ لپاره د هوايي پُل د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د چارو اداري رئیس شیخ نورالحق انور، د مخابراتو وزیر مولوي حمدالله نعماني، د کابل والي مولوي امین الله عبید او د کابل ښاروال مولوي عبدالرشید په ګډون یو شمېر نورو امارتي مسؤولینو، د رسنیو استازو او یو شمېر درنو ښاریانو ګډون کړی و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هوايي پُل پرانیستې مراسمو کې د نفوس زیاتوالی، د اقتصادي فعالیتونو حجم او د کابل ښار وضعیت ته په کتو ښاري پراختیا، ترانسپورټي زېربنا او ښاري نظم اساسي اړتیا وبلله او ویې ویل، کابل ښار باید په معاصره توګه د یو منظم ښاري پلان له مخې پراختیا ومومي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلې وینا کې وویل، له نېکه مرغه کابل ښاروالۍ د همدې اړتیا په درک کولو سره په بې سارې توګه د کابل ښار د ترانسپورټي او ښاري نظم په برخه کې د پام وړ کارونه ترسره کړي، چې د ستاینې او قدر وړ دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دې پروژې له انجنیرانو وغوښتل چې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره یې چارې په ښه ډول بشپړې کړي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په خپلو خبرو کې وویل، دغه پُل د کابل ولایت مقام مخې ته د صدارت څلورلارې د جوی شیر له سړک سره وصلوي. محترم مولوي عبدالسلام حنفي وویل، په ۱۴۰۴ کال کې د کابل ښاروالۍ له لوري د ۲۵۸ پراختیایي پروژو تطبیق په پلان کې و چې له دې ډلې ۲۰۰ پروژې تر کار لاندې دي.


د ریاست الوزراء اداري مرستیال په وینا، په ۱۴۰۴ کال کې د کابل ښاروالۍ له

پاره اته میلیارد او ۱۱۳ میلیون افغانۍ پراختیایي بودیجه په پام کې نیول شوې وه او که دغه بودیجه په مصرف ورسېږي، نو د کابل ښار بڼه به بدله شي.


دغه هوایي پُل ۲۳۵ متره اوږدوالی، ۱۸ متره سور او ٦.٨ متره لوړوالی لري چې ۴٦٢ میلیون افغانۍ لګښت پرې راځي او چارې به یې په ۱۵ میاشتو کې بشپړې شي.

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د پورته پروژې د چارو د پیل په اړه نظریات ورکړي چې لاندې ګراف کې یې د نظرونو شمېر او سلنه کتلی شئ.

امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېر:




امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه:



یوولسم څپرکی

# پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسيون کړنې



## د کونړ زلزله ځپلو سيمو ته د اقتصادي مرستيال سفر

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وږي په ۲۱مه د کونړ له زلزله ځپلو او د زلزله ځپلو سيمو د ليدنې په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سره د ننګرهار او کونړ واليانو، د سرې مياشتې عمومي رئيس شيخ شهاب الدين دلاور، د پېښو پر وړاندې د مبارزې رئيس ملا نورالدين ترابي، د سوداګرۍ خونې رئيس او يو شمېر مسؤولينو ملتيا کوله.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له زلزله ځپلو سره د ليدنې پرمهال په دې ستر ناورين خپله خواشيني وښوده، په زلزله کې د شهيدانو پاک روح ته يې دعا او ټپيانو ته يې د عاجلې روغتيا هيله وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت په استازیتوب په دې ستر غم کې ځان شریک وباله او ویې ویل، په تیرو څلورو کلونو کې دا دریېم ځل دی چې د سختو زلزلو له امله هېوادوالو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اوړي او د امکاناتو د محدودیت سربېره اسلامي امارت پر دې توانیدلی چې پر وخت د زیانمنو لاسنیوی وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کونړ زلزله ځپلو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د دوی ترڅنګ ولاړ دی او ټولو امارتي مسؤولینو ته لارښوونه شوې چې مرستې را ټولې او په شفاف ډول یې پر مستحقو زیانمنو وویشي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هیواد په سوداګرو، پانګوالو او خیریه بنسټونو غږ وکړ چې د کونړ له زلزله ځپلو سره خپلې مرستې وکړي.

دغه راز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د زلزلې له امله د زیانمنو سیمو د بیارغونې له پاره ترلاس لاندې اړینو پلانونو ته په اشارې سره وویل، هڅه کوي چې په زلزله کې د ورانو شویو کورونو د بیرته رغولو له پاره امکانات برابر او په راتلونکي کې د طبیعي پیښو د زیان کچې را کمیدو له پاره هر اړخیز تدابیر ونیسي. اقتصادي مرستیال له ټولو هغو هیوادونو، هیوادوالو، ملي سوداګرو او خیریه بنسټونو دمننې ترڅنګ چې د کونړ له زلزله ځپلو سره یې مرستې کړې، پر نړیواله ټولنه غږ وکړ چې په سختو شرایطو کې دې پر افغانستان لګیدلي بندیزونه پای ته ورسوي، څو زیانمنو افغانانو ته د مرستو رسولو او اقتصادي ستونزو ته د رسیدنې بهیر پر وړاندې خنډونه له منځته لاړ شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د سوداګرۍ خونې د مشرتابه پلاوي له لوري د کونړ له زلزله ځپلو سره ۲۰ میلیونه افغانۍ، د سوداګرۍ خونې او یما پترولیم شرکت رئیس سید کریم هاشمي او د اختریان شرکت رئیس حاجي کمال الدین له خوا پنځوس پنځوس زره ډالر مرسته وشوه.

د ۱۴۰۴ کال د وږي په نهمه نېټه په کونړ، ننګرهار، لغمان، پنجشېر او نورستان کې زلزله وشوه، چې کونړ کې یې ډېره مرګ ژوبله درلوده. دغه زلزله د ریښتر په کچه شپږ درجې وه. په زلزله کې یوازې په کونړ کې شاوخوا ۲۲۰۰ هېوادوال شهیدان او سلګونه نور ټپیان شوي وو. دغه راز، سلګونه کورونه د زلزلې له امله ړنګ شوي وو.

## د سمنګان زلزله ځپلو سیمو ته د اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د لړم په ۱۴ مه نېټه سمنګان ته سفر وکړ او هلته یې د زلزلې له امله له زیانمنو شویو هېوادوالو سره د خواخوږۍ په موخه لیدنه وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په زلزله کې شهید شویو هېوادوالو روح ته دعا وکړه، د شهیدانو کورنیو ته یې تسلیت ووایه، ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله وکړه او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هېوادوالو ته وویل، اسلامي امارت ستاسې تر څنګ ولاړ دی او ډاډ درکوي چې د خپلو ټولو امکاناتو په چوکاټ کې به د سرپناه جوړولو، کورونو ابادولو او ځینو نورو برخو کې شته ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو هغو خیریه بنسټونو، سوداګرو او هېوادوالو مننه وکړه، چې په سخت وخت کې یې له زلزله ځپلو سره مرسته وکړ او یو ځل بیا یې پر ټولو شتمنو هېوادوالو، سوداګرو او نړیوالو خیریه بنسټونو غږ وکړ، چې د دې دردونکې پېښې له قربانیانو او زیانمنو کورنیو سره مرسته وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سمنګان ته نغدي مرستې هم وړې وې، چې زیانمنو شویو هېوادوالو ته د کورونو ابادولو، سرپناه جوړولو، د ټپیانو درملنې او نورو برخو کې د ستونزو د حل له پاره د سمنګان ولایتي مسؤولینو له لوري په شفاف ډول ووېشل شوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سمنګانو ته د خپل سفر پر مهال د سمنګانو له والي محمد شعیب رسالت او د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسیدنې له پاره د ټاکل شویو کمېټو له مسؤولینو سره د ولایت په مقام کې ولیدل، د هغوی راپورونه یې واورېدل او لازم هدایات یې ورته وکړل.

دغه راز، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمال زلزله ځپلو سیمو ته د سفر په ترڅ کې په بلخ کې د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې لپاره د ټاکل شوي کمېسیون له مسؤولینو سره د ولایت په مقام کې وکتل. د هغوی راپورونه یې واورېدل او لازمې لارښوونې یې وکړې.

د ۱۴۰۴ کال لړم په ۱۱مه نېټه په سمنګان او بلخ کې زلزله وشوه. دغه زلزله د ریښتر په کچه شپږ اعشاریه درې درجې وه. په زلزله کې شاوخوا شل هېوادوال شهیدان او سلګونه نور ټپیان شوي وو. دغه راز، سلګونه کورونه د زلزلې له امله ړنګ او سلګونه څاروي تلف شوي وو.

**دوولسم څپرکی**

# سیمه ییز اتصال



## د تاپي پروژې له کاري بهیر څخه د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د ملي رهبر لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړي پلاوي او د دوست هېواد ترکمنستان ملي رهبر محترم قربانقلي بردي محمدوف او ورسره مل پلاوي د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۲۸مه نېټه د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې له کاري بهیره لیدنه وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان له ملي رهبر څخه مننه وکړه چې د تاپي پروژې د عملي چارو د لیدنې او په دې برخه کې د لا ډېرې همغږۍ په موخه یې افغانستان ته تشریف راوړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تاپي د سیمه‌ییزې

همکارۍ، اقتصادي یووالي او ګډې سوکالۍ رامنځته کېدو له پاره مهمه وبلله او ویې ویل، په افغانستان کې د دې پروژې عملي چارو ۱۴ کیلومتره پرمختګ کړی دی.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د اسلامي امارت لیدلوری یوازې تر تاپي پروژې محدود نه دی، بلکې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اقتصادي دهلېز د پراختیا په هدف کار کوي. په دغه دهلېز کې د تاپ - ۵۰۰ برېښنا د انتقال پروژه، د ریل پټلۍ جوړونه، سړکونه او لوجستیکي مرکزونه او نورې اقتصادي پروژې شاملې دي چې اسلامي امارت یې د پلي کېدو، امنیت او دوام له پاره پوره ژمن دی.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز پر ترکمنستان او ټولو نړیوالو شریکانو غږ وکړ چې په افغانستان کې د پانګونې له فرصتونو ګټه پورته او پانګونه وکړي.

ورپسې د ترکمنستان ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف خبرې وکړې. نوموړي د کابل او عشق اباد اړیکې پیاوړې او د پراختیا په حال کې وبللې او له اسلامي امارت یې مننه وکړه چې د دغې مهمې سیمه ییزې پروژې د تطبیق له پاره یې پوره همکاري وکړه. نوموړي وویل، تاپي پروژه د ترکمن حکومت په لومړیتوبونو کې ده چې د سیمې په اقتصادي ثبات کې به رغنده رول ولوبوي. هغه زیاته کړه، د تاپي پروژې د تطبیق له پاره تر ټولو ښه شرایط برابر شوي او په سیمه کې یوازینۍ پروژه ده چې نړیوال ملاتړ لري. قربانقلي بردي محمدوف همداراز وویل، ترکمنستان به په خپل ټاکلي وخت د تاپي پروژې چارې بشپړې کړي چې افغانستان به په کلني ډول ترې شاوخوا یو میلیارد ډالر عواید ولري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ګاونډیو هېوادونو غږ وکړ چې د تقابل او غیر اصولي کړنو پر ځای په متقابل احترام ولاړو اړیکو ته دې مخه کړي او د هېوادونو ملي حاکمیت، غرور او ملت ته دې په سپکه سترګه نه ګوري.

دیارلسم څپرکی

# د تدراکاتو کمېسیون او پانګونې بین الوزارتي کمېټې ناستې



په ۱۴۰۴ کال کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون لس غونډې دایرې شوې، چې ټولې په کې ۱۲۸ پروژې منظور شوې. د دې پروژو مجموعي لګښت ۶۲.۱ میلیارد افغانۍ وو. ټولې منظور پروژې د افغانستان اسلامي امارت تمویلوي. په دې پروژو کې په مختلفو ولایتونو کې د بندونو، سړکونو، سړکونو، روغتونونو، سړکونو، برېښنا رسونې او توزیع په ګډون ګڼې پروژې شاملې دي. د دې پروژو له امله په هېواد کې سلګونه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

په ۱۴۰۴ کال کې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ۲۴ ناستې وکړې. یادې کمېټې په خپلو ناستو کې په مختلفو ولایتونو کې مختلفې پروژې تائید کړې. د بېلګې په ډول، په ځینو ولایتونو کې د سوداګریزو مارکیټونو طرحو او د امو سیند د تخریب شویو ځمکو د بیارغونې طرحو په ګډون نورې طرحې تائید او اقتصادي کمېسیون ته راجع کړې دي. د یادو طرحو تائید په ښارونو کې اقتصادي پراختیا او د بېکارۍ کچې کمولو ته زمینه برابره کړې ده.

خوارلسم څپرکی

# له افغان سوداګرو او پانګوالو سره د اقتصادي مرستیال لیدنې



**د حاجي ګک اوسپنې کان په یو بلاک کې د یوشمېر پانګوالو د پانګونې لېوالتیا**

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور په ۲۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې له یوشمېر کورنیو پانګوالو سره ولیدل.

د لیدنې پر مهال دغو پانګوالو وویل، چمتو دي چې د حاجي ګک اوسپنې کان د یو بلاک د اکتشاف او استخراج په موخه په درېیو پړاوونو کې ۶۵۰ میلیون ډالره ګډه پانګونه وکړي. د یادو پانګوالو د معلوماتو له مخې، دوی به له یوې بهرنۍ کمپنۍ سره په شریکه په مسلکي ډول استخراج ترسره او همدا راز به یې په هېواد کې دننه د پروسس په موخه پر نړیوالو معیارونو او پرمختللې ټکنالوژۍ مجهزه فابریکه جوړه

کړي. دغه فابریکه به په ورځني ډول د ۹۰۰۰ ټنه سفنج اوسپنې د پروسس او په شمش د بدلولو وړتیا ولري، چې په مستقیم ډول به ۶۰۰۰ هېوادوالو ته د کار زمینه برابره او د هېواد سل سلنه اړتیا به پوره کړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې اکتشاف او استخراج په برخه کې د یادو پانګوالو له پانګونې هرکلی وکړ او د اسلامي امارت له لوري یې د بشپړې همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کانونو او پټرولیم وزارت مسؤولینو ته هدایت وکړ، څو په دې برخه کې له یادو پانګوالو سره په ګډه کار وکړي او د خپلو کړنو راپور شریک کړي.

## د اقتصادي مرستیال او ملي سوداګر میرویس عزیزي ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۱۱مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال محترم میرویس عزیزي سره ولیدل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په لومړي سر کې د عزیزي ګروپ عمومي رئیس محترم میرویس عزیزي او د هغه تخنیکي ټیم ته ښه راغلاست ووایه او په هېواد کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې یې د عزیزي انرژۍ شرکت د لس میلیارد ډالره پانګونې هرکلی وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند محترم میرویس عزیزي ته د اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې په هېواد کې د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې او د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د فرمان له مخې پانګوالو او سوداګرو ته لازمې اسانتیاوې برابرې او کورنیو تولیداتو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی.

د عزیزي انرژۍ شرکت عمومي رئیس میرویس عزیزي د خپلو خبرو پرمهال وویل، له لسیزو جګړو او ناخوالو وروسته د هېواد د ابادۍ ښه فرصت برابر شوی. نوموړي زیاته کړه، له همدې فرصت څخه یې په استفادې په هېواد کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه پیل کړه، چې له مخې به یې د هېواد صنعت او کرنه وده وکړي او په زیات شمېر هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي.
محترم عزیزي د اسلامي امارت له مسؤولینو مننه وکړه چې په اړوندو برخو کې یې پوره همکاري ورسره کړې او هغه ټینګار وکړ، چې د یادې پانګونې او پروژو د ښه تطبیق په موخه به د اړوندو وزارتونو له مسؤولینو سره وخت پر وخت لیدنې کوي.
محترم عزیزي زیاته کړه، پر دې سربېره چمتو دی چې په کابل کې د سرطاني ناروغیو د درملنې په موخه په ټولو معیارونو د برابر روغتون چارې هم په نږدې وخت کې پیل کړي.

پنځلسم څپرکی

# له ګاونډیو او سیمې هېوادونو څخه راغلو پلاوو سره لیدنې



**د اقتصادي مرستیال او د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه**

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور په لومړۍ نېټه د ارګ په ګلخانې ماڼۍ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال محترم سریک ژومانګارین او مل پلاوي سره ولیدل. د دغې لیدنې پر مهال د دواړو لورو ترمنځ په مختلفو اقتصادي برخو کې د ګډو همکاریو پر پراختیا خبرې وشوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له قزاقستان سره ګډ مشترکات لري چې د تاریخ په اوږدو کې یې د دواړو هېوادونو پر سوداګریزو اړیکو خورا مثبت

اغېز درلودلی او د پانګونې فرصتونه یې زیات کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د اسلامي امارت له حاکمیت راپدېخوا د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې ورځ تر بلې د زیاتېدو او پیاوړتیا په حال کې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، افغانستان له قزاقستان او د سیمې له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو او سوداګریزو مناسباتو د پیاوړتیا له پاره قوي هوډ لري او په همدې موخه یې د کابل او استانې ترمنځ درې میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه د لارې نقشې مسوده لاسلیک کړې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دې لار نقشې په پلي کېدو سره به په بېلابېلو اقتصادي برخو لکه سوداګرۍ، کرنې، د کانونو استخراج، ترانسپورټ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته او په اړوندو برخو کې به پانګونه زیاته شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت چمتو دی چې له قزاقستان سره د افغانستان په کانونو کې د پانګونې موجود فرصتونه شریک او د کرنیزو توکو د حفظ، قرنطین او مالدارۍ برخو کې موافقتنامه لاسلیک کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنځ د بانکي اړیکو د پراختیا او د افغانستان د نفتو ساحو په توسعه او اکتشاف کې پر ګډې همکارۍ ټینګار وکړ. همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د اوسپنې پټلۍ له لارې د هېواد د وارداتو او صادراتو کچې د زیاتوالي په موخه د عملیاتي شرکت په تأسیس کار شروع کړی، چې قزاقستان ته ور معرفي شي. د هغه په خبره، په دې سره به د سیمې هېوادونو ترمنځ د اوسپنې پټلۍ له لارې سوداګریزې چارې نورې هم ګړندۍ شي.

**د سیمې هېوادونو سره همکارۍ ته د افغانستان اسلامي امارت ژمنتیا**

د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال سره لیدنه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د سیمې هېوادونو سره په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې همکارۍ ته ژمن دی، په دې اړه اسلامي امارت د څلورو هېوادونو د واحد مرکز اړوند موافقتنامې مسوده، چې افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان به یې برخه‌وال وي، ترتیب او له قزاقستاني لوري سره یې شریکه کړې ده. همدا راز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او استانې ترمنځ د پروازونو پر پیل، افغان سوداګرو ته د قزاقستان د ویزو ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو پر رامنځته کولو او د سیمې هېوادونو سره په ګډه جوړېدونکې اقتصادي مجمع کې د افغانستان پر فعالې برخې اخیستو ټینګار وکړ.

ورپسې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال محترم سریک ژومانګارین وویل، قزاقستان د پرمختللي او خپلواک افغانستان ملاتړ کوي او ویني چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کېږي. ژومانګارین زیاته کړه، همدې پرمختګونو ته په کتو د قزاقستان او افغانستان ترمنځ سوداګریزې او اقتصادي اړیکې پراخه شوې دي. نوموړي وویل، قزاقستان د تورغونډۍ – هرات – سپین بولدک اوسپنې پټلۍ پروژې د تورغونډۍ - هرات فاز د عملي چارو د پیل له پاره د ۵۰۰ میلیونو ډالرو پانګونې او همدا راز په هرات کې د دغه پروژې د چارو پرمخ بیولو له پاره د لوجستیکي او ترانسپورټي شرکت جوړولو ته چمتو دی. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، قزاقستان د یادې پروژې ترڅنګ د انټرنیټ لین غځولو پروژې ته هم چمتووالی لري، چې له مخې به یې په ارزانه بیه افغانستان ته انټرنیټ ورکړي. ژومانګارین وویل، قزاقستاني پانګوال په افغانستان کې په مختلفو برخو په ځانګړي ډول د کانونو، نفت او ګازو کې پانګونې ته چمتو دي او په دې برخه کې یې تخنیکي ټیمونه کابل ته راغلي. د دغه لیدنې پر مهال قزاقستاني

لوري افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د پروازونو پیل، بانکي همکاریو، د ترانزیټ او دوه اړخیزې سوداګرۍ زیاتېدو او همدا راز د روغتیا او تعلیم برخو کې ګډو همکاریو ته چمتووالی وښود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې پټلۍ په یاده پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیونه ډالرو پانګونې او لوجستیکي او ترانسپورټي شرکت له جوړولو او همدا راز په مختلفو برخو کې د قزاقستاني پانګوالو د پانګونې لپاره د چمتووالي هرکلی وکړ او هغوی ته یې د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د اقتصادي مرستیال او د افغانستان له پاره د عربي اماراتو د ځانګړي استازي ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په ۱٦مه نېټه د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو له ځانګړي استازي محترم سیف محمد الکتبي سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل. د دغه لیدنې پر مهال د ټولګټو وزیر ملا محمد عیسی ثاني هم حضور درلود.

په ناسته کې دواړو لورو د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ د دوه اړخیزو، په ځانګړي ډول اقتصادي اړیکو، د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له طبیعي سرچینو غني هېواد دی او د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې زېرمو کې پانګونه جذب او پر مټ یې هېواد پر ځان بسیا کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د متحده عربي اماراتو پانګوال کولی شي په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

## په کابل کې د اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړول

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره لیدنه کې د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو ځانګړي استازي وویل، غواړي په کابل کې د متحده عربي اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړ کړي. په دې کنفرانس کې به د افغانستان له پاره پر هغو پروژو خبرې وشي، چې پر مټ به یې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ رامنځته شي. دغه راز نوموړي په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ او د سړکونو جوړولو په برخه کې پانګونې ته د خپل هېواد لېوالتیا څرګنده کړه.

## د اقتصادي مرستیال او د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت د رئیس ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور په ۲۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت(ایم سي سي) له عمومي رئیس وانګ جي چینګ سره ولیدل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند مس عینک د افغانستان یوه مهمه اقتصادي پروژه وبلله او ویې ویل چې د افغانستان اسلامي امارت د پروژې د چارې پرمخ بیولو له پاره قراردادي شرکت ته ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دي. له قراردادي شرکت څخه غوښتنه وشوه چې د یادې ساختماني پروژې ساختماني چارې دې پیل او هغه ستونزې دې هوارې کړي چې په کارونو کې د خنډ لامل ګرځي.

د ایم سي سي شرکت عمومي رئیس د پروژې پرمخ بیولو کې د اسلامي امارت همکاري وستایله او ویې ویل چې د مس عینک پروژې په ډېرو برخو کې پرمختګونه شوي او د اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت سره په همغږۍ به دغه پروژه پرمخ یوسي.

## د اقتصادي مرستیال او د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۹مه نېټه په ارګ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف سره ولیدل. د لیدنې پر مهال دواړو لورو د سوداګرۍ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ، بانکي او اقتصادي همکاریو په اړه خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان اړیکې مثبتې او د پرمختګ په حال کې وبللې او ویې ویل، اسلامي امارت له قزاقستان سره د هغو همکاریو د پراخېدو له پاره کار کوي چې د افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لامل ګرځي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال قزاقي لوري ته ډاډ ورکړ چې افغانستان کولای شي د یوه مؤثر ترانزیټي دهلېز په توګه قزاقستان ته دا زمینه برابره کړي چې خپله انرژي د افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته ولېږدوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دواړو هېوادونو ترمنځ له موجودو فرصتونو د ښې استفادې په اړه وویل، دواړه لوري کولی شي د کانونو، ترانسپورټ، مخابراتو، انرژۍ تولید، نفت او ګاز او بنسټیزو پروژو په برخه کې ګډ کار وکړي. د دې لیدنې پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د اوسپنې پټلۍ له لارې د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال حمل او نقل او ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان ترمنځ په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې پر مشترکې همکارۍ، په دواړو هېوادونو کې د لویو سوداګریزو مرکزونو پرانیستلو او د ترانزیټي فیسونو پر کموالي بحث وشو، چې په تطبیق سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي.

## د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامې لاسلیک

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خبرو وروسته د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير ښاغلي مرات نورتليف خبرې وکړې. هغه وويل، دوی په نړیوال سټیج له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي اوويني چې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د ګډو همکاريو او نږدې کار کولو له پاره ښه زمينه برابره شوې ده. نوموړي زياته کړه، قزاقستان چمتو دی چې د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې عملاً د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونه پیل کړي. هغه افغانستان ته د برېښنا وارداتو د زياتوالي، د قزاقستان بازارونو ته د افغانستان د کرنيزو محصولاتو انتقال او د قزاقستان په ازادي او زمان بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانيستلو ته له خپل لوري چمتووالی څرګند کړ.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له پانګونې هرکلی وکړ او دا يې د دواړو هېوا دونو ترمنځ د ترانزيټ او سوداګرۍ کچې زياتېدو لپاره مهم ګام ياد کړ.

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير محترم ملا محمد عيسی ثاني او د قزاقستاني استازي ترمنځ د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت د پانګونې د پیل په موخه تفاهمنامه هم لاسليک شوه.

## د هرات – تورغونډۍ ۵۰۰ میلیون ډالري پروژې ارزښت

د هرات-تورغوندۍ اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانستان له پاره يوه مهمه پروژه ده چې د هېواد ترانزيټي موقعيت څخه اغېزناکې استفادې ته زمينه برابروي. دا پروژه به افغانستان د اوسپنې پټلۍ له لارې له ترکمنستان، قزاقستان او ايران سره ونښلوي

او د یادو هېوادونو ترمنځ به سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي.

د اوسپنې پټلۍ دا پروژه به د قزاقستان او د منځنۍ اسیا نورو هېوادونو، چین، روسیې او اروپايي بازارونو ته د افغانستان د صادراتو له پاره اسانه او ارزانه لاره پرانیزي او ترڅنګ به یې افغانستان له هغو هېوادونو په لږ لګښت او د ډېر وخت په سپما سره واردات ولري.

دا پروژه د سیمې د اقتصادي نښلون له پاره مهمه پروژه ګڼل کېږي، چې د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې به مهم رول ولوبوي. د ملي عوایدو کچه به ورسره زیاته شي، کاري فرصتونه به ایجاد او سیمه ییز اتصال به ورسره پیاوړی شي.

## د اقتصادي مرستیال او د تاتارستان د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۱۴مه نېټه په ارګ کې د روسیې فدراسیون د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال او صنعت او سوداګرۍ وزیر اولیګ ولادیمرووېچ کورو بچینکو سره ولیدل. د دې لیدنې پر مهال دواړو لورو د اقتصادي همکاریو او ګډې سوداګرۍ پر زیاتوالي خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له روسیې فدراسیون څخه مننه وکړه چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د روسیې فدراسیون له ټولو جمهوریتونو سره پراخه اقتصادي او سوداګریزې اړیکې غواړي او په دې اړه یې د کازان په ۱٦م نړیوال اقتصادي فورم کې ګټور مجلسونه درلودل.

## تاتارستان ته د پانګونې بلنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره خبرو کې وویل، اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې او له خپل لوري د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي او د تاتارستان جمهوریت هم کولی شي له دې فرصت څخه په استفادې په افغانستان کې د سړکونو، تونلونو، اوبو رسولو شبکو، بندونو او کورونو جوړولو، کیمیاوي صنعت او همداراز له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو انتقال پروژه کې پانګونه وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او کازان ترمنځ د ګډې سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره تاتارستان ته د افغاني صادراتو پر زیاتوالي او همداراز له دغه هېواد څخه د باکیفیته خوراکي توکو، درملو او تخنیکي وسایلو پر وارداتو او ددې ترڅنګ د دواړو لورو د اړوندو وزارتونو او ادارو پر ګډ کار کولو هم ټینګار وکړ. ورپسې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال اولیګ ولادیمروویچ کورو بچینکو خبرې وکړې. نوموړي وویل، د روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې سره د تاتارستان او افغانستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د تعامل لپاره ډېر سهولتونه رامنځته شوي دي. هغه زیاته کړه، چمتو دي چې له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژه او همداراز نورو برخو کې پانګونې وکړي. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، د دې سفر پرمهال د تاتارستان د صنعتي شرکتونو مسؤولین ورسره راغلي او لېواله دي چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې همکاري پیل کړي.

د لیدنې په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال کابل ته د تاتارستانې پلاوي راتګ د کابل او کازان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو پراخولو لپاره د نوي او ګټور باب پیل وباله.

## د اقتصادي مرستیال او د ازبیکستان د انرژۍ د وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۲٦مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ازبیکستان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمدوف او مل پلاوي سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي اړیکو او په ځانګړي ډول د انرژۍ په برخه کې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په څنډه کې یې د ازبیکستان له ولسمشر محترم شوکت میرضیایف سره د لیدنې پر مهال د کابل او تاشکند ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو په اړه ګټور مجلس درلود، چې په هماغه مجلس کې د شویو پرېکړو د تعقیب او تطبیق په موخه په کابل کې د افغانستان برېښنا شرکت او ازبیکستان ترمنځ د انرژۍ په برخه کې د څو مهمو پروژو تړونونه لاسلیک شول او له ازبیک لوري یې وغوښتل څو د پروژو د بشپړېدو له پاره ټاکل شوي وخت او کیفیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

ورپسې د ازبیکستان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمدوف خبرې وکړې. هغه وویل، د ازبیکستان ولسمشر د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او ثبات غوښتونکی دی او په همدې موخه د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا او د همکاریو زیاتوالي ته ځانګړې پاملرنه کوي. محترم محمدوف زیاته کړه، په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره د یادو پروژو تطبیق ته پوره چمتووالی لري او په ساختماني برخه کې به له افغان شرکتونو سره په ګډه ډېر ژر عملي کار پیل کړي. نوموړي زیاته کړه، ازبیک لوری چمتو دی چې د انرژۍ، کرنې، کانونو، صنعت، روغتیا او د متخصصینو روزلو په برخه کې له افغان لوري سره خپلې تجربې شریکې کړي.

## د اقتصادي مرستیال او د بندیانو چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وري په ۲۲مه نېټه د بندیانو په چارو کې د امریکا د ولسمشر ډونلډ ټرمپ ځانګړي استازي اډم بولر په مشرۍ پلاوي سره ، چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو پخواني ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد یې هم غړیتوب درلود، ولیدل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان، سیمې او نړۍ پر روان وضعیت د بحث ترڅنګ د افغانستان او امریکا ترمنځ پر دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو هم د نظر تبادله وکړه.

په پیل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد اقتصادي پرمختګ ته په اشارې سره وویل چې  د اسلامي امارت په راتګ سره اقتصادي وضعیت، چې له جدي ګواښ سره مخ و، بېرته مخ په ښه کېدو دی، اداري فساد نه شته، د نشه یي توکو د کر او قاچاق بشپړ مخنیوی شوی، د بېکارۍ کچه راټیټه شوې او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې افغانۍ ثابته پاتې شوې ده.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، په بانکي سکټور کې پرمختګ رامنځته شوی، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه لوړه شوې، په کورنیو تولیداتو کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شوې، صنعت، سوداګرۍ او ترانزیټ هم پرمختګ کړی دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر افغانستان د امریکا او نړیوالې ټولنې له لوري لګول شویو بندیزونو ته په اشارې سره وویل چې افغانستان په ځینو برخو کې، لکه څنګه چې اړتیا وه، هماغسې پرمختګ نه دی کړی. لامل یې د امریکا او نړیوالې ټولنې له لوري په افغانستان اقتصادي بندیزونه دي. محترم ملا عبدالغني برادر

اخوند همدا راز وویل، د اقتصاد محوره متوازن بهرني سیاست په غوره کولو سره پر دې توانیدلي چې له ځینو هېوادونو سره ښې سیاسي او اقتصادي اړیکي ولري. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په افغانستان کې د پانګونې د جذب له پاره د اسانه قوانینو جوړولو یادونه هم وکړه او ویې ویل، د پانګونې د جذب له پاره اسانه قوانین جوړ شوي او د شرعي اصولو په رڼا کې د هر چا حق او غوښتنې ته رسېدنه کیږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه د برېښنا، کانونو، زراعت، ترانسپورت، زېربناوو، مخابراتو، ټیکنالوژۍ او روغتیا ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې پانګونه د افغانستان اړتیا ده او اسلامي امارت په دې برخه کې د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرنیو پانګوالو ته هم د پانګونې زمینه برابره کړې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره افغانستان پراخه طبیعي زیرمې لري او په دې برخه کې د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې ده. د بامیانو د حاجي‌ګک اوسپنې کان، د کټواز او هلمند نفتي حوزې، د هرات نفتي حوزه او نادره کانونه دپانګونې له پاره ښه فرصتونه دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې په افغانستان کې د سړکونو، اوسپنې پټلۍ او ترانسپورټي ترمینلونو جوړولو، د ساختماني، کرنیزو محصولاتو، درملو، خوراکي توکو، لاسي صنایعو، سیمه ییز اتصال او بانکوالۍ په برخه کې هم پانګونې ته زمینه برابره شوې ده.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې د پانګوالو له پاره د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه بین الوزارتي کمیټه جوړه شوې او دنده یې دا ده چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته په بشپړ ډول اسانتیاوې رامنځته کړي. دغه راز د اقتصادي پرمختګ له پاره مشورتي اقتصادي بورډ جوړېږي.

## د تقابل پر ځای د تعامل غوښتنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بندیانو چارو کې د امریکا د ولسمشر له ځانګړي استازي سره لیدنه کې وویل چې امریکا دې په افغانستان کې د تقابل پر ځای تعامل ته مخه کړي، د افغانستان په بیارغونه کې دې خپل رول ولوبوي او مختلفو سکټورونو کې دې د پانګونې له شته فرصتونو ګټه پورته کړي. ورپسې د بندیانو په چارو کې د امریکا د ولسمشر ځانګړي استازي ادم بولر خبرې وکړې او ویې ویل چې امریکا او افغانستان د دوحې تړون په ښه ډول عملي کړی او له دې تړون څخه هیڅ لوري سرغړونه نه ده کړې. نوموړي په افغانستان کې په اقتصادي برخه کې شوي اقتصادي پرمختګونه وستایل او د امریکا او افغانستان ترمنځ یې د اړیکو پر لا پراختیا او تعامل ټینګار وکړ. ادم بولر په افغانستان او امریکا کې د بندي اتباعو موضوع ته په اشارې سره وویل چې دواړه هېوادونه به خپل زندانیان تبادله کړي. امریکایي پلاوي په افغانستان کې د اقتصاد په برخه کې خپله همکاري په ډاګه کړه او ویې ویل چې دوی چمتو دي په افغانستان کې پانګونه وکړي.

## د اقتصادي مرستیال او د ایران د صنعت، سوداګرۍ او کانونو وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وري په ۲۵مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ایران اسلامي جمهوریت د صنعت، سوداګرۍ او کانونو له وزیر محترم سید محمد اتابک او مل پلاوي سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ، ترانزیټ، پانګونې چابهار او د دواړو هېوادونو تر منځ د مشترکې اقتصادي کمېټې د کارونو او لا موثریت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.

## د اقتصادي مرستیال او یو شمېر روسي شرکتونو د مسؤولینو ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۲۳مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د یو شمېر روسي شرکتونو له مسؤولینو سره وکتل.

د روسي شرکتونو مسؤولینو وویل، چمتو دي چې په افغانستان کې د نفت، جست، مسو او کرومایټ ډبرو د اکتشاف او استخراج، اوبو مدیریت، بر بېښنا تولید او تخنیکي ماشین الاتو د تولید په برخو کې پانګونه وکړي او د اړوندو ادارو له مسؤولینو سره د ژر همغږۍ رامنځته کولو په موخه په کابل کې خپل دفتر پرانیزي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مختلفو برخو کې د روسي شرکتونو د پانګونې له لېوالتیا هرکلی وکړ او د هر ډول همکارۍ ډاډ یې ورکړ.

## د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د ملي رهبر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۲۸مه نېټه د ترکمنستان له ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال د ټاپي پروژې ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوشمېر نورو اقتصادي پروژو په اړه هم خبرې وشوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ټاپي د افغانستان، ترکمنستان او سیمې هېوادونو د اقتصاد لپاره مهمه وبلله او له ترکمن لوري یې وغوښتل چې افغانانو ته هم د دې پروژې د چارو پرمخ بیولو کې کاري فرصتونه برابر کړي. ترکمن لوري وویل، د ټاپي پروژې کړنلارې سره سم به ډېرو افغانانو ته د کار او مسلکي روزنې زمینه برابره کړي. هغوی زیاته کړه، د عشق اباد او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا له پاره د نورو لویو اقتصادي پروژو تطبیق ته هم چمتو دي.

## د اقتصادي مرستیال او Delta International کمپنۍ د اجراییوي رئیس ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د لړم په دویمه نېټه د سعودي عربستان «دلتا انټرنشنل» کمپنۍ له اجراییوي رئیس شاهر التقي سره په داسې حال کې ولید چې د افغانستان له پاره د امریکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم حضور درلود. په دې لیدنه کې دواړو لورو د ګازو د اکتشاف، استخراج او د ګازو د نل لیکو غځولو په اړه خبرې وکړې.

د یاد شرکت اجراییوي رئیس د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې د پانګونې له پاره لېوالتیا څرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې له افغان انجنیرانو سره به خپلې تجربې شریکې کړي.

## د اقتصادي مرستیال او د ایران د روغتیا وزارت د مرستیال ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۱۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ایران د روغتیا وزارت مرستیال او د خوړو او درملو اداري له رئیس محترم مهدي پیر صالحي او په افغانستان کې د ایران له سفیر محترم علي رضا بیکدلي سره ولیدل. د لیدنې پرمهال د ایران د روغتیا وزارت مرستیال وویل، ایران چمتو دی چې له افغانستان سره د درملو او طبي وسایلو د تولید او افغانستان ته یې د صادراتو د زیاتوالي په برخه کې خپلې همکارۍ د اوږدمهال له پاره پراخه کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې په یادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوندې ادارې ورسره پوره همکاري او ګډ کار وکړي.

## د اقتصادي مرستيال او د ايران د ريل پټلۍ د رئيس ترمنځ ليدنه

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د مرغومي په اتمه نيټه د ايران د ريل پټلۍ اداري د رئيس جبار علي ذاکري په مشرۍ پلاوي سره په مرمرينه ماڼۍ کې په داسې حال کې وکتل چې په کابل کې د ايران سفير هم حاضر و.

په دې ليدنه کې دواړو لورو د افغانستان او ايران ترمنځ پر اقتصادي اړيکو، سوداګرۍ او د ريل پټلۍ د پراختيا په برخه کې د همکارۍ په اړه خبرې وکړې.

د ايران اسلامي جمهوريت د ريل پټلۍ رئيس جبار علي ذاکري وويل، غواړي د افغانستان له لارې د ريل پټلۍ ته پراختيا ورکړي، څو له دې لارې له چين او چين د افغانستان له ستراتيژيک موقعيت څخه په استفادې له اروپا سره وصل شي. هغه وړانديز وکړ چې په دې برخه کې دې يوه ګډه کمېټه جوړه او له شرکتونو سره دې خبرې وشي.

ورپسې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل چې د دې پروژې د ارزښت په اړه يې درې کاله مخکې د ايران اسلامي جمهوريت د ولسمشر له مرستيال سره خبرې کړې وې او د دې پروژې د اقتصادي ارزښت په اړه يې معلومات ورکړي و. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې په دې برخه کې دې مشترکه کمېټه جوړه او هرڅو مره ژر چې کېږي عملي کار دې پيل شي.

## د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۱۲مه نېټه په هرات کې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مردوف سره ولیدل.

د دې لیدنې پرمهال د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د اوبو او انرژۍ وزیر الحاج ملا محمد یونس اخوندزاده، د ترکمنستان د ترانسپورټ او ریل پټلۍ وزیر، د دولت وزیر او د ترکمن ګاز دولتي شرکت رئیس او یوشمېر افغان او ترکمن مسؤولینو هم حضور درلود.

په لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، تاپ، د اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه خبرې وشوې.

## تاپي پروژه کې د Delta International کمپنۍ لېوالتیا

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ته وویل، د تاپي پروژې پیل د افغانستان، ترکمنستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا ته زمینه برابره کړې او په دې پروژه کې د سعودي عربستان دلتا انټرنشنل کمپنۍ هم پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په وینا، دلتا انټرنشنل کمپنۍ لېواله ده چې د تاپي پروژې د ګازو اخیستلو، د ترکمنستان د لوی ګازي بلاک د ظرفیت لوړولو، د هرات له ګذرې ولسوالۍ د کندهار تر سپین بولدک ولسوالۍ، له سپین بولدک بیا د هند تر پولې د ګازو د پایپ لاین جوړولو او غځولو، د پاکستان په ګوادر بندر کې د ګازو د ستر او عصري مرکز جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همدارنګه له ترکمنستان څخه وغوښتل چې د تورغونډۍ – هرات ریل پټلۍ پروژې د جوړېدو په اړه افغانستان ته خپل دریځ روښانه کړي، ځکه د دې پروژې د تطبیق له پاره قزاقستان هم قوي لېوالتیا لري.

هغه همداراز د افغانستان له لوري د ټاپ پروژې د لار نقشې د نهایي کېدو له پاره بشپړ چمتووالی وښود او د دې ترڅنګ یې بالا مرغاب، خماب او قرقین ولسوالیو ته د برېښنا انتقال او د سیمه ییز اتصال د نورو پروژو د پیل له پاره د افغانستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ په روانو پروژو کې افغانانو ته د کاري زمینې د برابرېدو په اړه هم ټینګار وکړ.

ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مردوف خبرې وکړې. هغه له اسلامي امارت څخه مننه وکړه چې د ټاپي پروژې د تطبیق له پاره یې ښه زمینه برابره کړې او ویې ویل، چې د روان میلادي کال تر پایه به د دې پروژې کارونه د هرات تر مرکز پورې راورسیږي. نوموړي په ټاپي پروژه کې د بهرنیو شرکتونو د پانګونې له لېوالتیا هرکلی وکړ او زیاته یې کړه، چې په دې اړه باید له نږدې کار ورسره وشي.

### تورغونډۍ - هرات ریل پټلۍ پروژه کې د ترکمنستان پانګونه

د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره لیدنه کې له خپل لوري د تورغونډۍ – هرات ریل پټلۍ پروژه کې هم پانګونې ته چمتووالی وښود او ویې ویل چې عملاً یې په تورغونډۍ کې کارونه پیل کړي دي. نوموړي زیاته کړه، هېواد یې چمتو دی چې له پنځو لارو افغانستان ته برېښنا انتقال او ظرفیت یې لوړ کړي. سربېره پر دې د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراخېدو، بانکي همکاریو، کاري فرصتونو پر ایجاد او په مختلفو برخو کې د اقتصادي

پروژو د مدیریت په اړه د ګډ کار کولو په اړه هم خبرې وشوې.

د غونډې په پای کې د دواړو هېوادونو د تخنیکي ټیمونو له لوري د روانو پروژو د کاري پرمختګونو په اړه تفصیلي معلومات هم له ګډونوالو سره شریک شول.

## د اقتصادي مرستیال او عزیزي ګروپ شرکتونو د عمومي رئیس ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د عزیزي ګروپ شرکتونو له عمومي رئیس محترم میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره ولیدل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت له لوري د لس زره مېګاواټه پروژې اړوند د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل هرکلی وکړ او دا یې په هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد او اقتصادي ودې د پرمختګ په برخه کې مهمې وبللې.

محترم میرویس عزیزي د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال او د اړوندو ادارو له مسؤولینو مننه وکړه چې په ټولو برخو کې یې ورسره پوره همکاري کړې ده او له هېڅ ستونزې سره نه دي مخ شوي. هغه وویل، دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او د مخلصو مسؤولینو د هڅو په پایله کې د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل ترونونه لاسلیک شول. عزیزي زیاته کړه، د ۱۴۰۴ کال تر پایه به د برېښنا د تولید له ۱۵ تر ۲۰ نورې پروژې هم پیل کړي، چې مجموعي ظرفیت به یې پنځه زره مېګاواټو ته ورسېږي.

د عزیزي ګروپ شرکتونو عمومي رئیس خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې کارونه په ښه ډول مخ ته روان دي، چې هرات ته د ګازو په

رسېدو سره به له کانونو او پټرولیم وزارت سره په همغږۍ د ګازو لویې شبکې او له ګازو د برېښنا تولید د ۳۰۰۰ مېګاواټه په ظرفیت د لویې فابریکې د جوړېدو کارونه پیل کړي. هغه همداراز د طبیعي ګازو او ډبرو سکرو د اکتشاف، استخراج او له هغه څخه د برېښنا تولید په برخه کې له اړوندو ادارو سره د ګډ کار کولو غوښتنه وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او اړوندو ادارو مسؤولینو په یادو برخو کې د پوره همکارۍ او ګډ کار اطمینان ورکړ.

شپاړلسم څپرکی

# بهرني سفرونه




## د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې د اقتصادي مرستیال ګډون

د (روسیه او اسلامي نړۍ: کازان فورم) ۱۶ مه غونډه د ۲۰۲۵ کال د مۍ له ۱۳-۱۸ نېټې پورې د روسیې فدراسیون د تاتارستان جمهوریت په کازان کې ښار کې جوړه شوې وه. د دغه فورم لومړنۍ غونډه په ۲۰۰۹ کال کې ترسره شوې وه چې په ۱۴۰۴ کال کې یې پرلپسې شپاړلسمه غونډه ترسره شوه. په یاده غونډه کې له شاوخوا ۹۰ هېوادونو څخه حکومتي مسؤولینو، پخوانیو سیاستوالو، سوداګرو، مذهبي مشرانو او د بېلابېلو قشرونو شاوخوا شل زره کسانو ګډون کړی و. د یاد نړیوال فورم اصلي موخه د روسیې او اسلامي نړۍ تر منځ د اقتصادي همکارۍ زیاتوالی و.

له افغانستان څخه هم د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ یوه پلاوي ګډون کړی و. په پلاوي کې د صنعت او سوداګرۍ

وزیر محترم نورالدین عزیزي، د ترانسپورټ او هوایي چلند پخواني وزیر محترم ملا حمیدالله اخوندزاده او یو شمېر نور مسؤولین شامل و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کازان فورم په څنډو کې د یوشمېر هېوادونو له لوړ رتبه مسؤولینو سره لیدنې وکړې.

## د اقتصادي مرستیال او د تاتارستان د ولسمشر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور په ۲۵مه نېټه د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په پرانیستغونډه کې له ګډون وروسته د دغه فورم په څنډه کې د تاتارستان له ولسمشر رستم مینیخانوف سره ولیدل. د لیدنې پر مهال دواړو لورو پر دوه اړخیزو اقتصادي او سوداګریزو اړیکو او همداراز په افغانستان کې د تاتارستاني پانګوالو پر پانګونې خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان له ولسمشر څخه مننه وکړه چې د روسیې او اسلامي نړۍ تر سرلیک لاندې د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې یې د افغانستان اسلامي امارت پلاوي ته د ګډون بلنه ورکړه او په دې توګه یې د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا فرصت برابر کړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د اسلامي امارت بهرنی سیاست خپلواک، مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی او د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د همدې سیاست پر اساس غواړي چې له تاتارستان جمهوریت سره په افغانستان کې د پانګونې فرصتونو په ځانګړي ډول د انرژۍ، زېربناوو او دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراختیا په برخه کې اړیکې پراخه کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان حالت او شرایط د پانګونې لپاره مناسب وبلل او له تاتارستاني پانګوالو یې وغوښتل، څو په افغانستان کې د نفت او ګازو د استخراج او تصفیې، ساختماني پروژو، ریل پټلۍ او نورو برخو کې پانګونه وکړي. اسلامي امارت دوی ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کازان ۱٦م نړیوال اقتصادي فورم د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا له پاره غوره فرصت یاد کړ او ویې ویل، هڅه دې وشي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ نندارتونونه او نور اقتصادي موارد مطرح او جوړ شي، ترڅو په دې برخه کې له موجود ظرفیت څخه پوره استفاده وشي.

## کابل ته د تاتارستاني پلاوي استول

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره خبرو کې د تاتارستان ولسمشر ښاغلي رستم مینیخانوف په کازان ۱٦م نړیوال اقتصادي فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون مهم وباله او ویې ویل، له افغانستان سره په مختلفو برخو کې د اړیکو پراخولو په موخه به تاتارستاني پلاوی کابل ته واستوي. مینیخانوف زیاته کړه، له افغانستان سر په یوشمېر برخو کې راکړه ورکړه لري، خو چمتو دي چې د راکړې ورکړې کچه زیاته کړي. په یاد مجلس کې د کاماز موټرو شرکت عمومي رئیس وویل، تاتارستان چمتو دی چې افغانستان ته د بار وړونکو کاماز موټرو او اطفایو صادرات زیات کړي او په دې برخه کې به د افغانستان له پاره له ولسمشر مینیخانوف څخه ځانګړې سب سایډي هم واخلي. هغه زیاته کړه، غواړي په همدې موخه افغانستان ته د بازار ارزونې په موخه سفر ترسره او وروسته په دې برخه کې عملي ګامونه واخلي.په دغه لیدنه کې د تاتارستان جمهوریت د کرنې او خوراکي توکو وزیر هم حضور درلود. هغه وویل، چمتو دی چې افغانستان ته له دې وروسته د حلالو خوراکي توکو صادرات زیات کړي.

په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان ولسمشر ښاغلي رستم مینیخانیوف ته بلنه ورکړه، څو افغانستان ته د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا په موخه سفر وکړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د لا همکارۍ لپاره ښه پیلامه وبلله.

## د اقتصادي مرستیال او د روسیې د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د غویي میاشتې په ۲۵مه نېټه د کازان غونډې په څنډه کې په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر له مرستیال ښاغلي حوسنولین مارات شاکر زیانوویچ سره ولیدل. د لیدنې پر مهال دواړو لورو پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو مسایلو خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت له روسیې فدراسیون غواړي څو د کابل او مسکو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو سطحه لوړه او رسمي مرحلې ته یې داخل کړي، څو پر سیاسي ډګر سربېره په اقتصادي ډګر کې هم د عملي پرمختګونو شاهدان و اوسو. اسلامي امارت د روسیې فدراسیون ته ډاډ ورکوي چې افغانستان به د سیمې د یو مسؤول اقتصادي شریک په توګه مثبت رول ولري. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون له سترې محکمې مننه وکړه چې د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه یې د اسلامي امارت نوم لرې کړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست غوره کړی او هدف دا دی، چې دغه هېواد په سیمه کې د اقتصادي همکاریو، تجارت او ترانزیټ په مرکز بدل شي. دا نه یوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سیمې په ګټه دی. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي

چې سیمې او لیرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمینه برابره او په مختلفو برخو کې بهرنۍ پانګونه جلب او جذب کړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون ته د ښار او په ارزانه بیه د کورونو جوړولو، دولتي ښوونځیو او روغتونونو، سړکونو، پلونو، اوبو بندونو، د اوبو رسولو سیستمونو او برېښنا رسولو شبکو کې د پانګونې بلنه ورکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د شمال - جنوب دهلیز په مسیر کې پروت دی او لېواله دی، چې د دې دهلیز په تقویت او سیمه‌ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري. په دې برخه کې د روسیې په څېر د یوه ستر او تاثیر گذاره هېواد شراکت مهم دی، څو نور هېوادونه د تجارت او ترانزیټ په لاره کې خنډ جوړول د ابزار په توګه ونه کاروي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لیدنې پر مهال افغان – ټرانس پروژه د سیمې له مهمو پروژو یاده کړه او ویې ویل، دا پروژه د مرکزي او جنوبي اسیا د وصل په برخه کې مهم رول لري او اسلامي امارت د روسیې فدراسیون څخه غواړي چې له پلان سره سم یې د چارو په بشپړولو کې همکاري وکړي.

## د روسي لوري ژمنې

په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي حوسنولین مارات د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره خبرو کې وویل، له افغانستان سره د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا په موخه یې د اسلامي امارت نوم د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه لرې کړی او هیله لري چې دا لیدنه به په نورو برخو کې مهمو پرمختګونو ته لار هواره کړي. نوموړي زیاته کړه، چمتو دي چې د ښار او کور جوړولو په پروژو کې له اسلامي امارت سره په ګډه کار وکړي.

حوسنولین مارات وویل، په افغانستان کې د ترانسپورټ په برخه کې د اسلامي امارت د لاسته راوړنو ستاینه کوو او پوهېږو چې په دې برخه کې اوسمهال په افغانستان کې هېڅ ستونزه نشته. هغه زیاته کړه، د روسیې فدراسیون چمتو دی چې د شمال - جنوب دهلېز کې افغانستان ته فعاله ونډه ورکړي. نوموړي په دې اړه د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال څخه وغوښتل چې د افغانستان له لوري رسمي استازی ورمعرفي کړي. هغه د افغان ـ ټرانس پروژې پر بشپړېدو هم ټینګار وکړ.

د روسیې د لومړي وزیر مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پر زیاتېدو او بانکي همکاریو ټینګار وکړ او ویې ویل، د یادو موضوعاتو مفصل راپور له لومړي وزیر او ولسمشر ویلادیمیر پوتین سره شریکوي، څو یې د تعقیب او تطبیق په موخه تخنیکي ټیمونه کابل ته واستوي.

دواړو لوریو له خپله اړخه د ذکر شویو موضوعاتو د تعقیب په موخه رسمي استازي معرفي او هیله یې څرګنده کړه چې د ګډې همغږۍ په صورت کې به په دې برخو کې د پام وړ پرمختګونه ولري.

حوسنولین دا مجلس مهم وباله او هیله یې څرګنده کړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د عملي چارو پیل او همغږۍ ته به لاره هواره کړي.

## د اقتصادي مرستیال او د موردوویا د ولسمشر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د غویي په ۲۵مه نېټه د کازان غونډې په څنډه کې د موردوویا جمهوریت له ولسمشر ښاغلي ارتیوم الکسیویچ زدونوف سره ولیدل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لیدنې پر مهال وویل، د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې، سوداګرۍ، برېښنا او نورو برخو کې د همکاریو رامنځته کولو

ښه فرصت برابر کړ. افغانستان دا مهال په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له پاره زيات فرصتونه لري، بهرني پانګوال کولای شي په دغه سکټورونو کې پانګونه وکړي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، افغانستان د وچو او تازه مېوو، وطني غاليو، قېمتي ډبرو، مرمر او نورو کاني موادو باکيفيته توليدات لري، چمتو يو چې په دې برخو کې د مورډوويا جمهوريت ته صادرات پيل کړو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، موږ لېواله يو چې له مورډوويا څخه د برېښنايي وسايلو، ساختماني موادو، صنعتي ماشين الاتو، نفتي توکو، طبيعي ګاز او خام المونيمو، ريلي واګونو او ترانسپورټ اړوند وسايلو او تجهيزاتو په برخه کې د کورني ضرورت د رفع کولو په موخه د اړتيا مطابق واردات ولرو.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د مورډوويا پانګوالو ته په افغانستان کې د صنعت، کانونو او کرنې په برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه او هغوی ته يې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

## د دوه اړخيزه اړيکو د پراختيا له پاره ښه فرصت

د مورډوويا ولسمشر ښاغلي ارتيوم الکسيويچ زدونوف له رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سره خبرو کې وويل، دا ليدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د پيل او پراختيا له پاره ښه فرصت ګڼي او مورډوويايي پانګوال د افغانستان په مارکېټ کې کار کولو ته چمتو دي. نوموړي زياته کړه، هېواد يې د طب، کرنې، انرژۍ او درملو توليد په برخو کې ښه پرمختګونه لري او چمتو دي چې په يادو برخو کې له افغانستان سره ګډ کار وکړي. ښاغلي ارتيوم الکسيويچ زدونوف وويل، مورډوويا د کرنيزو محصولاتو په برخه کې ډېرو هېوادونو ته صادرات لري، غواړي افغانستان ته يې هم د مورډوويا – قزاقستان – ازبيکستان – افغانستان له لارې پيل کړي.

مورد وویایي پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. د لیدنې پر مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي وویل، افغانستان چمتو دی چې د خوراکي توکو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې له مورد وویا سره په لویه کچه سوداګري پیل کړي. ښاغلي عزیزي زیاته کړه، په دې برخه کې به د افغانستان مهم شرکتونه مورد وویایي لوري ته د ګډ کار کولو په موخه ورمعرفي کړي.

## د ایکو سازمان ۱۷مې سرمشریزه کې د اقتصادي مرستیال ګډون

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي امارتي پلاوي داقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه د اذربایجان جمهوریت په رسمي بلنه یاد هیواد ته سفر کړی و. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سفر پر مهال د ایکو د ۱۷مې سرمشریزې په عمومي غونډه کې د ګډون او وینا تر څنګ د اذربایجان له یو شمېر چارواکو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د ایکو ۱۷مه سرمشریزه د دغه سازمان د غړو هېوادونو د ولسمشرانو او لوړپوړو چارواکو په شتون کې د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۳-۱۴مه نېټه د اذربایجان جمهوریت په خنکندي ښار کې جوړه شوې وه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو غونډې له پیل وړاندې د یو شمېر هېوادونو له مشرانو او مسؤولینو سره ولیدل، چې دلته یې لومړی له رسمي غونډې وړاندې د لیدنو راپور وړاندې کوو او ورپسې به په ایکو غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون او وینا راپور وړاندې شي.

## د اقتصادي مرستیال او د اذربایجان د لومړي وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه اذربایجان جمهوریت ته د خپل سفر په ترځ کې د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۱مه نېټه د دغه هېواد له لومړي وزیر ښاغلي علي اسدوف سره ولیدل.

د دغه لیدنې پرمهال، چې په باکو کې ترسره شوه، دواړو لورو د افغانستان او اذربایجان ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له اذربایجان جمهوریت مننه وکړه چې د افغانستان اسلامي امارت پلاوي ته یې د ایکو په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون رسمي بلنه ورکړه او د دوی یې تود هرکلی وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي اړیکو د پراختیا په موخه په باکو کې د افغانستان سفارت د ډیپلوماتیک حضور د لوړولو او د اذربایجان له لوري په رسمي ډول د اسلامي امارت د سفیر منلو غوښتنه وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نفت او ګازو د استخراج او پروسس، اوسپنې پټلۍ شبکو پراختیا او همداراز د لمریزې او بادي برېښنا تولید په برخه کې له اذربایجان څخه وغوښتل څو په یادو برخو کې په افغانستان کې پانګونه وکړي او خپلې تجربې له افغانانو سره شریکې کړي. همدارنګه، د کرنې میکانیزه کولو، اوبو مدیریت، د اسان خدمت پروګرامونو د تطبیق، ماین پاکۍ او مسلکي زده کړو په برخه کې هم له اذربایجاني لوري وغوښتل شول، څو له افغانانو سره همکاري وکړي او خپلې تجربې ورسره شریکې کړي.

د دغې لیدنې پرمهال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمه‌ییز اتصال په برخه کې د لاجوردو دهلیز پر فعال ساتلو او د موجوده ستونزو پر حل ټینګار وکړ. هغه وویل، اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ له مخې په سیمه‌ییز اتصال باور لري او د لاجوردو دهلېز د افغانستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې زیاتېدو له پاره خورا مهم بولي.

د اذربایجان لومړي وزیر ښاغلي علي اسدوف د افغانستان له اقتصادي مرستیال سره د کتنې پر مهال وویل چې افغانستان یو لرغونی هېواد دی، کلتور او اوږد تاریخ لري. نوموړي وویل، د افغانستان او اذربایجان ملتونه دیني، مذهبي، تاریخي او فرهنګي نږدېوالی لري او د اذري ولس له خوا افغانانو ته د درناوي دغه حس د قدر وړ دی. هغه وویل: «تاسو هم زموږ په څېر د خپلواکۍ له پاره سختې ستونزې وزغملې، چې پایله کې یې نن یو خپلواک او باعزته هېواد لرئ.»

د اذربایجان لومړي وزیر زیاته کړه، هېواد یې لېواله دی، چې له افغانستان سره د ایکو له لارې او هم د دوه‌اړخیزو او درې اړخیزو همکاریو له لارې، په بېلابېلو برخو کې پراخه اړیکې ولري.

نوموړي وویل: «موږ تل له افغانستان سره د همکارۍ هڅې کړې دي او په دې برخه کې خپلو اقداماتو ته دوام ورکوو. د افغانستان چټک اقتصادي پرمختګ د خوښۍ ځای دی او موږ چمتو یو چې په ځانګړي ډول د سوداګرۍ، پانګونې او اقتصادي همکارۍ په برخو کې ګډ کار ته دوام ورکړو.»

ښاغلي اسدوف زیاته کړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا له پاره دې ګډ اقتصادي کمېسیون بیا فعال شي. همداراز، د لاجوردو لار زموږ له لومړیتوبونو ده. په دې اړه د ښکېلو هېوادونو د ترانسپورټ وزیرانو په کچه د ترسره شوې ناستې د پرېکړو تطبیق ته ژمن یوو. نوموړي همدارنګه یادونه وکړه چې د

افغانستان، اذربایجان او ازبیکستان ترمنځ درې اړخیز کاري ګروپ هم فعال شوی، چې لومړنۍ ناسته یې په کابل کې ترسره شوې او بله ناسته به ژر په ازبیکستان کې ترسره شي. هیله ده هلته به لا زیات مشترک مسایل مطرح کړو.

د اذربایجان لومړي وزیر د کانونو د اکتشاف او استخراج، د نوې کیدونکې انرژۍ، د اوبو مدیریت، کرنې میکانیزه کولو، او د اورګاډي پټلۍ په برخو کې له افغانستان سره د تجربو شریکولو، پانګونې او همکارۍ له پاره د خپل هېواد چمتووالی څرګند کړ. همدارنګه، نوموړي د ډېرو سکرو د ترانزیټ له پاره د اذربایجان له لارې ترکیې ته د لېږد ملاتړ اعلان کړ.

ښاغلي علي اسدوف د افغان سوداګرو له پاره د ویزو اسانتیاوو، د افغان محصلینو له پاره د تحصیلي بورسونو، د ظرفیت لوړونې برنامو او په اذربایجان کې د بندي افغانانو د دوسیو د حل په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

په پای کې دواړو لورودا لیدنه د افغانستان او اذربایجان ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا له پاره یو ښه فرصت یاد کړ او په ذکر شویو برخو کې یې د عملي هڅو پر پیل او دوام ټینګار وکړ.

## د اقتصادي مرستیال او د ازبیکستان د ولسمشر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۲ مه نېټه د اذربایجان په خنکندي ښار کې د ازبیکستان جمهوریت له ولسمشر ښاغلي شوکت میرضیایف سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو، اوسپنې پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزیټ او بریښنا خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې پر نړیوال سټېج د

افغانستان په اړه د ازبیکستان جمهوریت له مثبت او واقعبینانه موقفه مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د تلپاتې ښو اړیکو غوښتنه وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل: «دا مهال د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه له یو میلیارد ډالرو اوښتې، چې د پخوا په نسبت ۶۰ سلنه زیاتوالی ښیي. موږ هیله لرو چې دا کچه په راتلونکي کې دوه میلیارد ډالرو ته ورسېږي.»

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیکستاني لوري غوښتنه وکړه چې د ازبیکستان له لارې منځنۍ اسیا او روسیې ته د افغاني توکو د صادراتو له پاره اسانتیاوې رامنځته کړي. هغه زیاته کړه، اړتیا ده چې دواړه ګاونډي هېوادونه داقتصادي ثبات، زېربنایي پراختیا او ښېرازۍ له پاره د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، سیمه‌ییزې زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت په برخه کې یوځای کار وکړي.

ورپسې د ازبیکستان ولسمشر ښاغلي شوکت میرضیایف خبرې وکړې. هغه وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه رامنځته شوي او ازبیکستان په نږیوالو سټیجونو د افغانستان رښتیني واقعیتونه بیان کړي او کوښښ کوي چې دا واقعیتونه تر نړیوالو، په ځانګړې ډول ملګرو ملتونو پورې ورسوي. میرضیایف زیاته کړه، هېواد یې په افغانستان کې د مزارشریف – هرات – کندهار اوسپنې پټلۍ پروژه، د نساجي فابریکو جوړولو، د سیمنټو تولید، د تیلو د تصفیې کارخونو، د مالګې کانونو استخراج او پروسس، الکترونیکي حکومتولۍ او نورو سکټورونو کې پانګونې ته چمتووالی لري.

ښاغلي میرضیایف وویل، چمتو دي چې د افغانستان له لوري د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځولو پروژې د چارو په ژر بشپړېدو سره افغانستان ته د واردېدونکې

بربښنا اندازه هم زیاته کړي. هغه زیاته کړه، ازبیک لوري ته به ځانګړی هدایت وکړي څو د ازبیکستان له لارې منځنۍ اسیا او روسیې ته د افغاني توکو، په ځانګړي ډول کرنیزو محصولاتو د صادراتو له پاره اسانتیاوې رامنځته کړي. نوموړي د دواړو هېوادونو ترمنځ د بانکي انتقالاتو، افغانانو ته د ویزو ورکړې او همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنځ په ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز کې د افغاني توکو د پلور له پاره د اسانتیاوو پر رامنځته کولو او د دغه مرکز پر پراختیا هم ټینګار وکړ. همدا راز دواړو لورو تر کار لاندې مواردو کې د عملي کار د پیل له پاره یې د ځانګړو چینلونو پر ایجاد او تقویې موافقه وکړه. په پای کې دواړو لورو په ذکر شویو برخو کې د پرمختګ او تعقیب په موخه د افغانستان له لوري د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان له لوري د دغه هېواد د لومړي وزیر په مشرۍ د ګډ ګروپ په رامنځته کولو موافقه وکړه، چې په هرو درېیو میاشتو کې به یوځل غونډه کوي او د کمېټو له لارې د ترسره شویو کارونو پرمختګ او څرنګوالی به ارزوي.

## د اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د لومړي وزیر د مرستیال ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند اذربایجان ته د خپل رسمي سفر پرمهال د ایکو غونډې په څنډه کې د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۲مه نېټه د اذربایجان په خنکندي ښار کې د ترکمنستان د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مرادوف سره ولیدل.

د دې لیدنې پرمهال د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ګډو او مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه بحث وشو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اړیکو پراختیا په موخه په عشق اباد کې د سفیر او په ماري کې د جنرال کونسل کچې ته د اسلامي امارت د ډیپلوماتیکو اړیکو لوړېدل مهم وبلل.

هغه وویل، د کابل او عشق اباد ترمنځ له ګډو اقتصادي مشترکاتو یوه مهمه پروژه ټاپي ده، چې د دواړو هېوادونو او همداراز د سیمې ترمنځ یې د لا ډېرې همکارۍ د پراختیا زمینه برابره کړې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د اسلامي امارت له لوري د ټاپ پروژې لار نقشه هم نهایي شوې او پوره هڅه کوي چې په افغانستان کې د دې پروژې چارې له کوم ځنډ او خنډ پرته پرمخ ولاړې شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل او عشق اباد ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پیاوړتیا له پاره په عشق اباد او کابل کې د سوداګرۍ خونو او بانکي څانګو پر پرانیستل کېدو او همداراز افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو پر برابرولو ټینګار وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، سیمه‌ییزې زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ یو ځای کار کول به د دواړو هېوادونو په اقتصادي ثبات، پراختیا او ښېرازۍ کې مؤثر رول ولوبوي. د کرنې په برخه کې د ترکمنستان تجربې او پرمختګ ته په کتو له دې هېواد وغوښتل شول چې په دې برخه کې خپلې تجربې له افغانانو سره شریکې کړي، چې د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه پرې ګډ کار وکړي.

ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مرادوف خبرې وکړې. نوموړي څرګنده کړه چې ترکمنستان تل له افغانستان سره د ښو او دوستانه اړیکو غوښتونکی هېواد پاتې شوی دی. هغه زیاته کړه: «زموږ جمهور رئیس تل په نړیوالو سټیجونو کې د افغانستان ملاتړ کړی او هلته یې د ترسره شویو پرمختګونو ستاینه کړې ده.»

ښاغلي مرادوف وویل چې ترکمنستان چمتو دی څو له افغانستان سره د سیاسي اړیکو تر څنګ، د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراخېدو په برخه کې ګډ کار

ته ادامه ورکړي. نوموړي په ځانګړې توګه د ټاپي پروژې يادونه وکړه او ويې ويل چې د انرژۍ د دې سترې پروژې کارونه د پلان له مخې روان دي. هغه له افغان لوري وغوښتل چې د ټاپ پروژې د مسير تفصيلي نقشه له ترکمنستان سره شريکه کړي، تر څو پاتې تخنيکي او تطبيقي چارې يې نهايي شي.

په غونډه کې همداراز، د دواړو هېوادونو ترمنځ د شته او تر کار لاندې پروژو د چټکتيا په اړه ټينګار وشو، تر څو دغه پروژې پر ټاکلي مهال بشپړې شي.

په پای کې دواړو لورو پرېکړه وکړه چې د يادو همکاريو د پرمختګ او منظم تعقيب په موخه به د دواړو هېوادونو د لومړيو وزيرانو مرستيالان وخت په وخت اړوند موضوعات تعقيب کړي او پر پرمختګونو به څارنه ولري.

## ايکو ۱۷مې سرمشريزې غونډه کې د اقتصادي مرستيال ګډون

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۳مه نېټه د اذربايجان په خنکندي ښار کې د ايکو سازمان په ۱۷مه سرمشريزه کې ګډون او وينا وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وويل، د افغانستان اسلامي امارت د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سياست د دوام په پايله کې، د روسيې فدراسيون له خوا په رسميت پېژندل شوی. اسلامي امارت د دغه ګام تود هرکلی کوي. له همدې امله، له ايکو سازمان سره د افغانستان د ژورې او اوږدمهاله همکارۍ په رڼا کې، د ياد سازمان له غړو هېوادونو هيله لرو چې د افغانستان مشروع سياسي واقعيت درک کړي او د روسيې فدراسيون په څېر د رسميت پېژندنې په لور عملي او مثبت ګامونه واخلي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سياست، په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګونو،

د پانګونې له پاره د موجودو فرصتونو او همدا راز د افغانستان له لارې د سیمه ییزو مهمو اقتصادي پروژو د تطبیق او بشپړولو له پاره د برابرو شویو فرصتونو په اړه خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان له غړو هېوادونو وغوښتل چې له یوه باثباته، باوري او همکار افغانستان سره د اقتصادي او سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا له پاره د دوامداره پرمختګ او همغږۍ فضا جوړېدو ترڅنګ د سوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانسپورټ، کرنې، چاپیریال ساتنې او اقلیمي بدلونونو په برخو کې له نږدې کار وکړي، چې افغانستان په یادو برخو کې له خپل لوري بشپړ چمتووالی لري. هغه زیاته کړه: «موږ باور لرو چې د ایکو سازمان غړو هېوادونو اقتصاد هغه وخت ښه وده کولی شي چې افغانستان هم د دې معادلې متحرکه برخه وګرځي.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په ۱۷ مه سرمشریزه کې له مظلومو فلسطینیانو سره د افغانستان اسلامي امارت خواخوږي یو ځل بیا څرګنده کړه او ویې ویل: «هغه ظلم چې د غزې په مظلوم ولس کېږي، باید ژر تر ژره پای ته ورسېږي. موږ د فلسطین د ازادۍ او د بیت‌المقدس د اسلامي هویت د خوندي ساتلو پوره ملاتړ کوو.» د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وړاندیز وکړ چې: «د اقتصادي همکاریو سازمان راتلونکې، یعنې اتلسمه سرمشریزه دې په کابل کې ترسره شي. موږ د دې سترې او ارزښتناکې ناستې د کوربه‌توب له پاره بشپړ چمتووالی لرو او د ټولو ګډونوالو تود هرکلی کوو.» د ایکو سازمان په ۱۷ مه سرمشریزه کې د غړو هېوادونو ولسمشرانو، لومړي وزیرانو او لوړ پوړو چارواکو حضور درلود، چې د دغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ یې د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټي، ترانسپورټي او کلتوري اړیکو، سیمه‌ییز اتصال او پانګونې په اړه د پوره همکارۍ او همغږۍ پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

## د اقتصادي مرستیال او د قزاقستان د لومړي وزیر ترمنځ لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۳مه نېټه د اذربایجان په خنکندي ښار کې د قزاقستان له لومړي وزیر سره ولیدل. د دې لیدنې پر مهال د افغانستان او قزاقستان ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو موضوعاتو خبرې وشوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قزاقستان د افغانستان له پاره مهم او د باور وړ سیمه ییز شریک هېواد وباله او د افغانستان له پاره یې د دغه هېواد له لوري د ځانګړي استازي ټاکل کېدل غوره ګام یاد کړ. هغه له قزاقستان جمهوریت څخه مننه وکړه چې په نړیوالو ستېجونو یې له افغانستان څخه ملاتړ کړی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د قزاقستان له پاره منځنۍ ختیځ او جنوبي اسیا ته د ترانزیټ مهمه لار ده او همداراز قزاقستان کولی شي چې افغانستان له اروپا سره ونښلوي. پر همدې اساس دې قزاقستان د پانګونې، سوداګرۍ، ریل پټلۍ او په ترانزیټي چارو کې له شته فرصتونو څخه استفاده وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان ترمنځ درې میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې لاسلیک کېدل، افغانانو ته د ویزو ورکړې په برخه کې اسانتیاوې برابرول او د قزاقستان په زمان او ازادۍ بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانیستل مهم وبلل. هغه په دې برخه کې د افغاني بانکونو د چمتووالي ډاډ ورکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراختیا په اړه وویل، افغانستان د اوسپنې پټلۍ له لارې د وارداتو او صادراتو له پاره د عملیاتي شرکت په تأسیس کار شروع کړی، چې ژر به قزاقستان ته ورمعرفي شي،

د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د نړیوال حمل او نقل او ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې مسوده ترتیب کړې، له افغانستان څخه په تېریدونکو ترانزیټي اموالو باندې د فیس کمولو په اړه هم جدي کار روان دی، له ایران، قزاقستان او ترکمنستان سره په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې د همکارۍ موافقتنامه هم ترتیب شوې چې په یادو برخو کې د قزاقستان همکاري مهمه ده.

ورپسې د قزاقستان لومړي وزیر خبرې وکړې. هغه وویل، قزاقستان له افغانستان سره ښې اړیکې لري او د لا پراختیا له پاره به یې د بهرنیو چارو وزیر کابل ته سفر وکړي. لومړي وزیر زیاته کړه، ژر به په افغانستان کې د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونه پیل کړي. هغه د قزاقستان له لوري د افغانستان په کانونو کې پانګونې ته هم لېوالتیا وښوده او ویې ویل، چمتو دي چې له افغانستان څخه د میوو واردات زیات او همداراز د قزاقستان له خاورې د افغانستان صادراتو ته اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي.

لومړي وزیر وویل، قزاقستان د لسو هغو هېوادونو له ډلې دی چې له افغانستان سره زیاتې سوداګریزې اړیکې لري او دوی د دې اړیکو پراختیا ته ژمن دي.

## له باکو نړیوال بحري بندره د اقتصادي مرستیال لیدنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په اذربایجان کې د ایکو ۱۷ مې سرمشریزې غونډې له پای ته رسېدو وروسته د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ په ۱۴ مه نېټه د دغه هېواد د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه بندر امکانات او د انتقالاتو بهیر له نږدې ولیدل او له اذربایجاني مسؤلینو یې وغوښتل چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي. د دغې لیدنې پر مهال د باکو نړیوال بحري بندر او د

اوسپنې پټلۍ مسؤولینو وویل، د دغه بندر له لارې، چې د لاجوردو دهلیز په مسیر کې موقعیت لري، ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي توکو، کرنیزو محصولاتو او کاني توکو صادراتو ته چمتو دي. دوی همداراز د اوسپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی وښود.

د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې وټاکلې، څو د دغه بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ترانزیټ د رامنځته کېدو په موخه موجود امکانات او ترانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.



اوولسم څپرکی

# ځانګړې غونډې



## د اقتصادي کمېسیون دویمه ځانګړې غونډه

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی په مشرۍ د ۱۴۴٦ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۸مه، ۲۹مه او ۳۰مه نېټه د اقتصادي کمېسیون دویمه ځانګړې غونډه ترسره شوه. غونډې ته د ۱۴۴٦ هـ ق کال د جمادی الاولی میاشتې په درېیمه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په لومړۍ ترسره شوې غونډه کې د شویو پرېکړو تعقیبي راپورونه وړاندې شول.

په لومړۍ غونډه کې د چارو اداري لوی ریاست په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه، څو د ښاري پلانونو سره سم د امارتي ځمکو د نمرو د پلور او وېش او د ساختمان د اجارې د ورکړې اسانتیاوو په اړه کړنلاره جوړه کړي. یادې کمېټې په همدې موخه جوړه شوې کړنلاره په دویمه غونډه کې د ارزونې لپاره

وړاندې کړ، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته به د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر واستول شي. د دغې کړنلارې له مخې هېوادوال کولی شي په شخصي ځمکو کې د ځمکې د تثبیت پروسه په ۱۵ ورځو کې ترسره او په یوه میاشت کې یې نقشه ویزه او چارې یې پیل کړي.

همدارنګه په لومړۍ غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده سپارل شوې وه، څو په ټولو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو په موخه د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته ځمکه انتقال کړي. د دغه پرېکړې د تطبیق په اړه یادو وزارتونو خپل راپور په دویمه غونډه کې وړاندې کړ چې په ډېرو ولایتونو کې د ۸۰ زره جریبه ځمکې انتقال ترسره شوی او په یو شمېر ولایتونو کې دا پروسه د بشپړېدو په حال کې ده. په دې سره به په ټولو ولایتونو کې د صنعت کارانو د ځمکې د نشتون ستونزه حل شي.

همداراز په لومړۍ غونډه کې د عامې روغتیا وزارت په مشرۍ تاکل شوې کمېټې ته هم دنده سپارل شوې وه، څو د انساني، حیواني او کرنیزو درملو، روغتیایي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچاق د مخنیوي په موخه کړنلاره جوړه کړي. یادې کمېټې دغه کړنلاره جوړه او د ارزونې په موخه یې شریکه کړه، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته به د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شي.

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په دویمه ځانګړې غونډه کې د یو منظم میکانیزم له مخې په کال کې د شپږو میاشتو لپاره بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د څارویو د صادراتو اجازه ورکړل شوه. له شپږو میاشتو وروسته به د پخوا په څېر اجراات ترسره کېږي. همدارنګه د چارو ادارې لوی ریاست ته دنده وسپارل شوه، څو له اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ په امارتي

ادارو کې د پانګوالو او سوداګرو د کارونو د ژر طی‌مراحل او په ټولو برخو کې د شته ستونزو د حل په موخه جامع طرزالعمل جوړ کړي. دغه طرزالعمل دې د تائیدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته واستوي او له هغه وروسته دې د منظورۍ له پاره د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستوي.

د یادونې وړ ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په لومړۍ غونډه کې د شویو پرېکړو د تطبیق په موخه اړوندو وزارتونو او ادارو خپل راپورونه د اقتصادي کمېسیون په دویمه ځانګړې غونډه کې وړاندې کړل.

## د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه کې د شویو پرېکړو د تعقیب په موخه د غونډې جوړېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په ۲۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، چې په کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې غونډه کې د شویو ۱۳ پرېکړو د تطبیق په اړه اړوندو وزارتونو او ادارو خپل کاري راپورونه او جوړې شوې کړنلارې وړاندې کړې.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې ترسره شوې غونډه کې د چارو اداري لوی ریاست په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه، څو هغه ځمکې چې خالص امارتي ملکیت او د هستوګنې او سوداګرۍ له پاره دي، تر ښاري پلان لاندې او زیربنایي (بنسټیزې) چارې یې یوه اندازه ترسره شوې دي، هراړخیزه کړنلاره ورته جوړه کړي چې له مخې

یې هېوادوالو ته ځمکې تملیکاً په اصولي توګه وویشل شي. همدا راز یاده کمېټه مکلفه شوې وه څو د هغو هستوګنیزو ښارګوټو لپاره چې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون له لوري امارتي ثابت شوي او تصفیه شوي دي، هراړخیزه کړنلاره ورته جوړه کړي چې له مخې یې د ښاري پلان مطابق هېوادوالو ته د ابادۍ او ودانولو په موخه تملیکاً ورکړل شي. همداراز یاده کمېټه دې د ښاري پلان له مخې د خلکو په شخصي ځمکو کې د ابادۍ او ودانیزو چارو ترسره کولو بهیر اسانه او سهولتونه ورته رامنځته کړي.

مؤظفې کمېټې د یادې پرېکړې د لومړي او دویم بند له پاره جامع کړنلاره جوړه او د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډې ته یې وړاندې کړه. یادې کمېټې همدا راز په شخصي ځمکو کې د ابادۍ او ودانیزو چارو ترسره کولو په برخو کې د پام وړ اسانتیاوې راوستې دي.

همدا راز د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د ځانګړې غونډې د پرېکړې مطابق کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په ټول هېواد کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو په موخه صنعت او سوداګرۍ وزارت ته د مرکز په شمول په ټولو ولایتونو کې د ځمکو د انتقال پروسه پیل کړې ده، چې ژر به دا پروسه بشپړه او د صنعتي پارکونو د جوړېدو چارې به پیل شي.

دې غونډې ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې ناسته کې د شویو ۱۳ پرېکړو د تطبیق په اړه اړوندو وزارتونو او ادارو خپل کاري راپورونه او جوړې شوې کړنلارې هم وړاندې کړې.

## د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې ناسته کې د شویو پرېکړو د تعقیب دویمه غونډه

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د ځانګړې غونډې د شویو پرېکړو د تعقیب دویمه غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. په دې غونډه کې، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رییس مفتي عبدالله عزام په مشرۍ جوړه شوې وه، د اسلامي امارت د بېلابېلو وزارتونو او یوشمیر ادارو استازو پکې ګډون کړی و.

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له خوا په بېلابېلو برخو کې د دیارلسو پرېکړو د تطبیق په موخه د اړوندو امارتي بنسټونو استازو خپل راپورونه وړاندې کړل. د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د چارو ادارې، کور او ښار جوړولو، عدلیې، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او کابل ښاروالۍ له استازو څخه جوړ شوي هیئت ته دنده سپارلې وه چې د هغو ځمکو په اړه چې خالص امارتي ملکیت او د هستوګنې او سوداګرۍ له پاره دي، تر ښاري پلان لاندې او زیربنایي (بنسټیزې) چارې یې یوه اندازه ترسره شوې دي، هر اړخیزه کړنلاره جوړه شي چې له مخې یې خلکو ته ځمکې تملیکاً په اصولي توګه وویشل شي. په دغه پرېکړه کې همدا راز راغلي: «هغه هستوګنیز ښارګوټي چې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون له لوري امارتي ثابتې شوې او تصفیه شوې دي، هراړخیزه کړنلاره ورته جوړه کړي چې له مخې یې د ښاري پلان مطابق خلکو ته د اباديۍ او ودانولو په موخه تملیکاً ورکړل شي». په دغه پرېکړه کې همدارنګه ویل شوي چې د ښاري پلان له مخې دې د خلکو په شخصي ځمکو کې د ابادۍ او ودانیزو چارو ترسره کولو بهیر اسانه او سهولتونه ورته رامنځته شي.

د چارو ادارې استازي محمد شریف بها د ځمکو د سپارلو په اړه وویل چې په دې موخه دوې کمیټې جوړې شوې وې، چې درې میاشتې یې پرې کار کړی او مسوده یې جوړه شوې ده چې ژر به نهایي شي. په غونډه کې د ځینو نورو پرېکړو د تطبیق په برخه کې د ترسره شویو پرمختګونو په اړه هم راپورونه وړاندې شول.

د غونډې په پای کې د اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس له خوا د چارو ادارې استازي ته سپارښتنه وشوه چې د ځمکو د سپارلو مسوده دې له اقتصادي معاونیت سره شریکه کړي.

## د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره کړنلاره جوړېږي

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د مقام د دفتر عمومي ریاست د مرستیال مولوي ذبیح الله ناصر په مشرۍ د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره د کړنلارې جوړېدو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې لومړنۍ غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. په غونډه کې د چارو ادارې، مالیې، صنعت او سوداګرۍ، اقتصاد، کانونو او پټرولیم او عدلیې وزارتونو، د افغانستان بانک او امارتي شرکتونو لوی ریاست استازو برخه اخیستې وه.

په غونډه کې د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو پر اړتیا او ارزښت خبرې وشوې. له تفصیلي بحث وروسته د بازار او خلکو لېوالتیا ته په کتو د سهامي شرکتونو رامنځته کېدل اړین وبلل شول چې له مخې به یې ثابته او غیر متحرکې پانګې په حرکت راوستل شي. د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو او د هغوی د فعالیتونو د تنظیم په موخه باید منظمه کړنلاره جوړه شي.